شهامت

د امریکا خلک دې له خپلو چارواکو

د ناکامې جګړې حساب وکتاب وغواړي!

دیارلسم کال، څلورمه، پرلپسې۷۸مه ګڼه، ربیع الثاني ۱۴۴۱هـ ق، دیسمبر ۲۰۱۹م

مسئولیت های ما در قبال استحکام بیشتر امارت اسلامی؛

پیشنهادها و مشوره های چندی

- د الفتح وروستی دری ستری فتحې
- د روانې سیاسي لوبې لومړی ګول چا وواهه ؟!!
- د خوارجو د نشأة ثانیه! محرکات او لاملونه
- د منتخب ولسمشر قباله چعلي وختله
- د تاوتریخوالي مخنیوی د شرعي مسؤلیت په توګه
- بشري حقونو«د نړیوال منشور» د لمانځنې! که د ماتم ورځ؟
- هندي دیموکراسي او هندي محاکم

د افغانستان د اشغال غندنه؛

د نړیوالو اخلاقي مسؤلیت

د شهید ملا عبدالمنان آخند

ژوند او کارنامو ته کتنه

واشنګټن پوسټ

د امریکایي اشغال ماهیت بربند کړ

د بلخ ولایت له محترم والي مولوي قدرت الله ابو حمزه مرکه

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

دیارلسم کال، څلورمه، پرلپسې۷۸مه ګڼه، ربیع الثاني۱۴۴۱هق، دیسمبر ۲۰۱۹م

لړلیک

ګڼه	عـــنــوان	مخ
۱	سرلیکنه...	۱
۲	د رواني سیاسي لوبې لومړی ګول چا وواهه؟!!..................	۳
۳	د الفتح وروستۍ دریم سترې فتحې	۴
٤	واشنګټن پوسټ د امریکایي اشغال ماهیت بربنډ کړ.................	٦
٥	د افغانستان د اشغال غندنه، د نړیوالو اخلاقي مسؤلیت..................	۹
٦	د شهید ملا عبدالمنان آخند ژوند او کارنامو ته کتنه......................	۱۰
۷	د بلخ ولایت له محترم والي مولوي قدرت الله ابوحمزه سره مرکه...........	۱۷
۸	د بشري حقونو (دنړیوال منشور) د لمانځنې که د ماتم ورځ....................	۲۰
۹	۵۰ سالگی سازمان همکاری اسلامی داستان طولانی ناکامی ها...........	۲۴
۱۰	د قیصاري براسه شمال ته د سکاټ میلر د سفر خونړی محصول	۲۷
۱۱	د خوارجو د نشأة ثانیه ! محرکات او لاملونه.............................	۲۸
۱۲	هند کې د مسلمانانو راتلونکې ! او مودي خطرناک عزائم!................	۳۰
۱۳	زموږ بېړی به رښتیا شي!!...	۳۲
١٤	واشنټن پوسټ او د ټولس کلنې جګړې پټ رازونه........................	۳۴
١٥	ګلوریټې پاڼې	۳٦
١٥	د شیخ الحدیث عبدالمالک القدوسي رحمه الله ژوند ته کتنه................	۳۸
١٦	مسئولیت های ما درقبال استحکام بیشتر امارت اسلامی؛ مشورهای......	۴۲
۱۷	طالبان، نمونه ای از جهاد و سیاست معتدل اسلامی	۴۸
۱۸	سیمه ایيز پروني او ننی سیاست !..................................	۵۲
۱۹	هیله ده اشغالګر او ګوډاګیان به یې دغه توپیر ته پامه نه باسي!!..........	۵۳
۲۰	هندي دیموکراسي او هندي محاکم....................................	۵٦
۲۱	مذاهب اربعه ، ائمه ، تلامذه ، فقهي مناهج أمهات الکتب	۵۹
۲۲	د منتخب ولسمشر قباله جعلي وختله	٦۳
۲۳	د تاوتریخوالي مخنیوی د شرعي مسئولیت په توګه	٦۵
۲۴	د سوداګرۍ او اقتصادي ودې په اړه دحکومت مسئولیتونه	٦٦
۲۵	د انصاف تله چې ستا په لاس کې درکړو	۷۰
۲٦	آیا طالبان رښتیا بهرنیان تبادله کوي او افغانان وژني؟؟..........................	۷۲

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتنپلاوی :

لطیف عزم
حسن " علوي" بلال "وحید"
نعیم " صافی " عابد مجاهد
قاري حبیب

بیــــه :

یوه ګڼه ۳۵ افغانۍ او ٦۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنیکي څانګه

یـــادونـــه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو
لیکنو مسؤلیت په غاړه نه اخلي.

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان   بریښنالیک :Sham.shahamat@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحیم

د امریکا خلک دې له خپلو چارواکو
د ناکامۍ جګړې حساب وکتاب وغواړي!

په دا وروستیوکې دځینو معتبرو امریکایي ورځپاڼو لکه واشنګټن پوست،نیویارک ټایمز اونورو لخوا دتیرو ۱۹ کلو راهیسې روانې بدمرغه جګړې په اړه د ځینو مهمو واقعیتونو،حقایقو او انکشافاتو راسپړلو نړیوال او په خاصه توګه دامریکا ولس په خورا لوی اضطراب او حیرانۍ کې غورځولی.

مشهورې امریکایي ورځپاڼې [واشنګټن پوست] برملاعتراف وکړ چې امریکا یې چارواکو دتیرو ۱۹کلوپه اوږدوکې دافغان ناکامه جګړې په ارتباط دامریکا ولس ته دروغ ویلي، واقعیتونه او حقایق یې ترې پټ ساتلي او دجعلي معلوماتو او ناسمو ارقامو په وړاندې کولو یې هغوی ته فریب ور کړی او هم یې دجګړې په ډګرکې دامریکا او ایتلاف عسکرو دبریاووپه باب تل دروغجنې دعوې کړې.

دهغوی په اند:امریکایي چارواکو دامریکادخلکو دمالیې پیسې په یوه بې هدفه اونامشروع جګړه کې لګولي او په کابل کې یې دمشروع حکومت په بهانه یومفسد ،نامشروع او غل حکومت کینولی، دیته ورته ځینوپخوانیو امریکایي دیپلوماټانو هم دا خبره منلې چې هیوادیې په افغانستان کې دمثبت انکشاف پرځای یوداسې رژیم تقویه کوي چې هغه په اداري فسادکې دنړۍ لومړی هیوادګڼل کېږي.

د۱۹کلنې ناکامې جګړې په اړه دپورته انکشافاتو دظهور وروسته یوشمیر امریکایي سیاستوالو اوشناندو دامریکاله کانګرس څخه نه غوښتي چې سملاسي دي دافغان جګړې په اړه یوه استماعیه غونډه را وغواړي او دامریکا دپوځ اونورو ادارو دناکامیوپه اړه دي تحقیقات وکړي ، له پوځي اوسیاسي چارواکودي داپوښتنه وکړي چې هغوی د ۱۹ کلن جنګ پایلې څه ډول ارزوي؟

همداراز یوشمیر امریکایي مقاله لیکونکودرواڼې جګړې په باره کې دامریکایي میډیاکردار له دې پلوه سخت غندلی دی چې هغې په تیرو۱۹کلوکې له هرډول سانسورپرته دامریکایې جنرالانو دفریبونو اودرواغوډکې ویناوې خپرولې خو دهغوی په مقابل کې یې د هغو بیطرفه لیکوالو اوشناندو نیوکو اومشوروته هیڅ ارزښت نه ورکاوه کوم چې له پیله دغه ګرغیړنې جګړې ناقدین او مخالفین ول .

غرض داچې اوس مهال دافغان جګړې مخالفت نه یواځې دافغانانو لخواکیږي، بلکې په لوی شمیر دامریکاپخواني چارواکي، سناتوران او لیکوالان یې هم ژر په پای ته رسیدو اودامریکائي پوځیانو په وتلوټینګار لري هغوی خپل اوسني واکمن هم د جګړې په دوام پړه اوملامت ګني اوپه ترمې یې غږکړی دی چې هغه دي خامخادخپلې تاکنیزې ژمنې سره سم له افغانستانه عسکر را وباسي اوژرترژره دي درواڼې بې معنی جګړې دروندپیټی دامریکا له اوږوښکته کړي

دخپلواکوسیاسي کتونکوپه اند بریښي چې په امریکا باندې دکاله دننه اوبهر ورځ تربلې فشار سیوا کیږي چې هغه دي هرومرو دجګړې پای ته رسیدو په موخه خپل عسکر له افغانستانه وباسي هغوی دامریکایي چارواکو وروستیو هلوځلو ته خوشبیني ښیي چې غواړي دخپلو ځواکونو دویستلو په اړه دمقابل لوري(اسلامي امارت) سره یوې حتمي هوکړې ته ورسي.

لیکن دهمدې احتمالي ډاراحساس بیا دکابل کې ګوډاګي رژیم چارواکي په دومره سخت روحي اضطراب او ورخطائي کې مبتلی کړي دي چې آن دخپلو بادرانو څخه یې نهیلي کړې اوهرچیري په وازکومې داناري وهي چې : نوردوی امریکا ته کوم ارزښت نلري! بلکې امریکا سره په مصؤن ډول دخپلو عسکرو دویستلو غم دی او دهمدې لپاره دلاروپه لټون اخته ده .

بل پلوته ښکاره ده چې دافغانستان اسلامي امارت دامریکائي عسکرو اود اشغال پای ته رسیدو په اړه له پیله واضح دریځ اومسیرلري چې [چې څوټول امریکائي ځواکونه نه وي وتلي او اشغال نه وي پای ته رسیدلی] ترهغه به خپلې جهادي مبارزې اومقاومت ته دوام ورکوي اوددې ترځنګ پر امریکایې چارواکو سربیره دامریکا په خلکو غږکوي چې هغوي دي د غفلت له خوبه راپاڅي اوڅوشتمنو [جګړه مارو چارواکو]ته دي نور اجازه نه ورکوي چې هغوی دخپلو شخصي اغراضو پخاطر ددوی اولادونه ووژني او دهغوی وینو په بهولو سره خپلو شیطاني هوسونو ته لار ومومي ،با ید دامریکا ولس داحساسیت ښه درک کړي چې دهمدې جګړه مارو واکمنو ناسمو پریکړو یې نن ټوله نړۍ دامریکایي اتباعو لپاره سورتنور ګرځولې !

لنډه داچې دامریکا ولس باید خپل مسؤلیتونه پوره درک کاندي او دخپلوجګړه مارو واکمنو دنارواوو اوظلمونو په وړاندې دي خپله اوسنۍ چوپتیا نوره پای ته ورسوي،له افغانستانه دخپلوعسکرو ویستلو لپاره دي پرهغوی فشارونه ډیرکړي او هم دي له هغوی څخه د ۱۹ کلنې ناکامې جګړې دناکامیو او روسوایيو ټول حساب وکتاب ژروغواړي.

د روانې سیاسي لوبې لومړی ګول چا وواهه ؟!!

عابد

د دوو سیالو ډلو ترمنځ په روانه مسابقه کې هره ډله هڅې کړي ته ډېره په تلوسه او انتظار وي چې په حریف لوري لومړی ګول ووهي، ځکه راتلونکې نتیجه تر ډېره بیا دځان په ګټه بولي. همدې هیلې ته د رسېدو په پار هر فریق پوره وس کوي او هیڅ بې پروایي هم نه کوي.

له ۱۹ کلنې اوږدې جګړې وروروسته چې بالاخره خبره له نظامي (تاوتریخوالي) دسیاسي مبارزې د مېز سرته راغله د هیواد دقضیې حل او داشغال دخاتمې بعدونه ډېر رالنډ شوو او دجوړجاړي هیله مندي زیاته شوه. خوداچې دلته هم یو اوبل لوری په عین توافق کې ډېر اختلاف هم لري، ځکه نو هر فریق خپلو ګټو (اهدافو) ته د رسېدو لپاره دبل د ځملولو (ماتولو) خوراکوشش کوي. همدا لامل دی چې په قطر کې دفریقینو دمذاکراتو موده هم دادی کال ته ورنږدې شوه.

له اوږدو خبرو اترو وروسته یوناڅاپي توقف او بیا له یولړ ناهیلیو وروسته بیا جریان! په لوبه کې داشغالګر لوري هغه فواینټ اوټکي وچې په نظر کې یې نیولي و او په تمه وو چې ګونډې د دې نقطې په ښه کولو سره به لومړی ګول دوی ووهي او داول میدان لوبه به وګټي. خوداسې ښکاري چې مقابل لوري (طالبانو) د دوی په نظر کې ښکار له مخکې نه په سترګو کې اخیستی و اوله هماغې نقطې یې پرې ګوزار وکړ اولومړی ګول یې وواهه.

له کله نه چې دویم پړاو مذاکرات پیلېدل امریکایي چارواکو بار بار داخبره تکراروله چې طالبان دې له تاوتریخوالي لاس واخلي او یادې تاوتریخوالی راکم کړي، په داسې حال چې په لرې اطرافي کلیوالو سیمو کې د (CIA) له لوري په روان وحشت، شپنیو عملیاتو او تاوتریخوالي کې هیڅ کمی نه راتـه اوپه هماغه ډول یې دماشومانو، ښځو او ملکي خلکو وژنو ته دوام ورکړی و؛ له طالبانو د (تاوتریخوالي) په نوم دتنزل غوښتنه هماغه فواینټ اونقطه وه چې که طالبانو منلې وای، نو بیا به دغالب فریق هیلې اوغوښتنې مغلوب فریق هیڅکله نه وې پوره کړې.

دبګرام برید همدا بریالی ګول و چې د مذاکراتي ټیم په پاس فدایي مجاهدینو ترسره او داشغالګر فریق زړونه یې داسې مات کړل چې نوریې په ډګر کې دپاته کېدو حوصله له لاسه ورکړه او په اوږده تفریح دسیمې هیوادونو ته په منډه شول.

مونږ هم له بېلا بېلو ازمايښتونو سره مخ کېږو او هر زورور دخپل زور ازموینه پرمونږ او زمونږ پرهیواد کوي. د سړې جګړې پرمهال د دوو قطبونو (روس او امریکا) دسړې جګړې له سیالۍ وروسته هر قطب مخامخ پر دې مظلوم او کمزوري هیواد دخپلې زور ازموینې لپاره راپرېوتل او دا هیواد یې اشغال کړ. لومړی دلته دوخت شوروي نظامي ماتې وخوړه اوپه ښکاره دشکست له اعتراف سره ووتل، دویم ځل امریکا راغله او په بېلا بېلو بهانو یې په دې هیواد کې اسلامي نظام ړنګ او هیواد اشغال کړ، دوی هم چې نږدې دوه لسیزې جګړه وکړه او هدف ته ونه رسېدل، نو دښکاره شکست داعتراف پرځای یې سیاسي لوبه پیل او له طالبانو سره مذاکرات پیل کړل.

خو اوس چې په روانو مذاکراتو کې هم دچل ول او نه اخلاص نښې نښاني لیدل کېږي نو سیاسي مبصرین هم حیران دي او فکر کوي چې که چېرته دغه مذاکرات د معضلې دحل په غرض شروع شوي وي، نو بیا ولې داسې تکي ولټول شي چې دلته هم دیو او بل د ماتولو په داسې ډول هڅه وشي چې ټول په ټوله یې منفي اغېزه د معضلې حل ته راوزي او ددې په ځای چې مشکل حل شي؛ د لانورو خنډونو د رامنځته کېدو سبب ګرځي.

لکه چې ویل کېږي، مذاکراتو ته حاضرېدل دامریکایي لوري احسان دی، نو په کار ده چې لومړی خو دوی دجګړې دخاتمې په غرض له ډېر څه تېر شوي وای، یا یې لږ ترلږه دښه نیت او رښتینولۍ په پار په خپله خبر عمل کړی وای او روان تاوتریخوالی لومړی دوی پای ته رسولی وای چې بیا به دطالبانو فزیکي غبرګون رښتیا هم هغوی ته ملامتیا وراړولای.

داچې دجګړې لامل په هیواد کې دامریکایي قواوو شتون او اشغال دی، بیا دا څرنګه کېدای شي چې دهغوی اشغال او یرغلیزې کړنې دې تاوتریخوالی نه وي او په مقابل کې دې د هیواد دبچیانو دفاع خامخا تاوتریخوالی وي ؟!!

د الفتح وروستۍ درې ستري فتحې

حسن مومند

هسې خو پرهېواد دصلیبي اشغالګرو دیرغل نه پس چې له کله نه جهادي صفوف منظم شوي او جهاد زور اخستی نو هره راتلونکې ورځ دتېرې په پرتله بدتره نه بلکې بهتره ثابته شوې ؛ هر راتلونکی کال دتېر نه ددښمن لپاره هلاکونکی او هر راتلونکی پسرلی ورته دتېر نه زیات مورال یېلونکی او ورخطا کونکی ګرځېدلی چې پدې روښانه حقیقت دښمن هم بیا بیا اعتراف کولو ته اړشوی خو سږنی کال له تېرو ټولو کلونو ډېر ممتاز شو؛ دې پسرلي کې دالفتح په نوم اعلان شویو جهادي عملیاتو له خانه سره ستر زېري راوړل او اسلامي امارت ته پکې الله تعالی سترې فتحې ور په برخه کړې؛ دهېواد په پلازمېنې او ولایاتو کې دښمن هغه ستر ملا ماتونکي ګوزارونه وخوړل چې نه یواځې محترم لوستوال بلکې ټوله نړۍ ترې خبره ده.

هو ! ډېر دخوښۍ ځای دی چې داشغالګرو ځواکونو او دهغوئ دګوډاګیانو پر ضد په ګران هېواد کې دالفتح په نوم په اعلان شویو سږنو جهادي عملیاتوکې لله الحمدمجاهدینو ته الله تعالی ددښمن په مقابل کې دومره ستر او زیات فتوحات ورکړل چې سره له ټولو هڅو یې اوس بهرني اشغالګر اوګوډاګیان دواړه له پټولو عاجز دي.

داچې ترې ټوله نړۍ خبره ده نو پېرې په نړۍ کې داسلامي امارت مقام نور هم پسې لوړ شوی او دریځ ته یې ډېر قوت اوتائید ور په برخه شوی او پدې فتحو دنړۍ ټول ژمن مسلمانان سخت خوشاله دي .

دالفتح عملیاتو په مبارک بهیر کې رامنځته شوې هره فتحه ددې ده چې باید ډېر څه پرې ولیکل شي ؛ نېکبختان دي هغه څوک چې پدې فتوحاتو لیکنې کوي الله تعالی دې یې په قلمونو کې برکتونه واچوي .

نو دالفتح عملیاتو په روان مبارک بهیر کې ستر فتوحات رامنځته شول خو څو یې ډېر ستر او ددښمن لپاره ډېر ملاماتونکي وو .

مثلاً پدې وروستیو کې داسلامي امارت دمجاهدینو په مقابل کې د داعش تاریخي شکست او دمجاهدینو په لاس دننګر ولایت د شېرزادو نه تر اچین د ۷ ولسوالیو فتح ده ؛ دیادو ولسوالیو په غریزو سیمو کې داعش ځانونه ډېر مضبوط کړي وو ؛ په ټول هېواد کې یې همدا سیمه دخپل جلب او جذب ترټولو مهم ځای و ؛ دایې دخراسان پلازمېنه ګڼله ؛ دعراق اوسورېې نه وروسته یې همدا سیمه دقوت په ستر مرکز بدله شوی وه او نورو سیمو ته به یې له همدې ځایه خپل لاسونه وراوږدول ؛ او دغاصبو قوتونو په مقابل کې دروان سپیڅلي جهاد دمختیوي لپاره داشغالګرو استخباراتي ادارو له لورې دورکړل شویو ناکاره پلانونو د تطبیقولو هڅې یې هم له همدې ځای نه کولې .

نو دادمجاهدینو ډېر ه ستره فتحه وه چې دنړۍ دټولو مخلصو مسلمانانو اوخصوصاً دافغان ولس لپاره د لویې خوښۍ باعث شوه .

محترم لوستوال پدې پوهېږي چې داعش د امریکا اونورو غربي غاصبینو په لاس جوړه شوې اوپالل شوې د دې زماني هغه عظیمه فتنه ګره ډله ده چې د پخوانیو خوارجو په څېر له خپل ځان او حامیانو پرته په ټول مسلمان ملت دکفر حکم کوي.

دې ډلې په عراق اوشام کې جهادي تحریکونو ته درانه تاوانونه رسولي، په سونو زره مسلمانان یې وژلي، د مسلمانانو په بازارونو، مساجدو، تعلیمي ادارو اواجتماعاتو کې یې درنې چاودنې کړي او ټول قوت یې د مسلمانانو د وینو په تویولو لګولی دی.

دې ډلې غوښتل چې د شام اوعراق غوندې په افغانستان کې هم د فتنې اور بل کړي.

اشغالګرو امریکایې ځواکونو او ګوډاګي رژیم په پوره سپین سترګۍ او ښه منظم ډول د دوئ تشهیر، تمویل تقویه او فوځي اکمال کاوه تر څو د اشغال پر ضد روان مقدس جهاد وربانديې بدنام، مسلمانان وربانديې قتل، مجاهدین وربانديې کمزوري او د نه ختمېدونکې فرقوي نزاع اور وربانديې بل اوتر ډېره یې پرې تازه وساتي .

نو ددې فتنه ګرو نه دا دومره لویه سیمه ازادول اوپرې داسې ملاماتونکی ګوزار داسلامي امارت ستره فتحه او د اشغالګرو او ګوډاګي اداري ډېر ستر شکست دی .

دالفتح عملیاتو په لړ کې بله ستره فتحه دجهادي کامیابو مبارکوهڅوپه نتیجه کې دامریکایې پوهنتون ددوه استاذانو په بدل کې دزمانې دبدنام زندان بګرام نه دمحترم انس حقاني محترم حاجي مالی خان او محترم حافظ عبدالرشید د۳ خورا مهمومشرانو ازادول دي چې داهم دنړۍ دټولو مخلصو مسلمانانو او په ځانګړې توګه دمجاهدینو لپاره دډېرې لویې خوښۍ خبر و ؛ بې له شکه چې خدای جل جلاله ډېر لوی فضل وکړ اومجاهدینوته یې دالفتح په جهادي عملیاتوکې دا عظیمه فتحه وریه برخه کړه ؛ دامریکا سره په زنداني شویو مجاهدینو کې ۳ دلوړې پایې مجاهدین د امریکایې پوهنتون د دوه استاذانو په بدل کې را ازادول دمجاهدینو بې حده ستره سیاسي او نظامي بریا او دیرغلګرو خوراډېر ستر سیاسي او نظامي شکست دی .

کابو ۳ کاله دمخه هم داسلامي امارت سره په یوې تبادلې کې امریکا له دې هم دسترشکست سره مخامخ شوې وه

په هغې تبادله کې یو لور ته د امریکایو عادي عسکر دی او بل لور ته لوی درستیز ملا محمدفاضل، دشمال زون تنظیمه رئیس او دبلخ والي، ملا نورالله نوري، دکورنیو چارو وزیر ملا خیرالله خیرخواه؛ داستخباراتو دلوی ریاست مرستیال ملا عبدالحق وثیق او مشره مذهبي څېره مولوي محمدنبي عمري.

دجانبینو ترمنځ ډېر ستر تفاوت و خو دا چې دټولو هڅو سره سره هم دطالبانو له منګلو نه دخپل فوځي په ازادولو کې امریکا پاتې راغلې وه نو څکه دزهرو دې ګوټ ته تیاره شوه ؛ رښتیا چې دې کار نړۍ حیرانه او دامریکا نظامي او سیاسي حیثیت او غرور یې دخاورو سره خاورې کړ .

کبرجنې اوپه خپل مادي زور مغرورې امریکا به په خپل تاریخ کې شاید دخپل یو دښمن په مقابل کې هم دومره ستر تنزل نه وي کړی لکه دافغانستان داسلامي امارت په مقابل کې یې چې وکړ.

ددې ترڅنګ چې دا دواړه تبادلې په سیاسي او نظامي ډګر کې دمجاهدینو ستره فتحه ده ترڅنګ یې له ځانه سره دا پیغام هم ولرلو چې جهاد دمسلمانانو لپاره دهردښمن اوپه ځانګړې ډول دامرکا په څېر دوحشي۔ اوخونخواردښمن دشرونو نه خلاصون؛ په نړۍ کې دسرلوړۍ ؛ابرومندانه ژوند او عزت یواځنۍ لار ده؛ که پدې پنځو تنانوکې دیو دخلاصون لپاره هم دنړۍ ټولو مسلمانانو په لسګونو کلونه خواستونه او زارئ کړې وای؛ په لسګونو کلونه یې امریکا ته جرګې او ننواتې کولای ؛ ددرد آهونو یې نړۍ په سراخستې وای او ټولو ورته داوښکو پرڅای دسترګو نه وینې توی کړی وای آیا دامریکابه پرمسلمانانوزړه سوځېدلی یا یو زره رحم راغلی وای ؟ او یابه یې دټولې نړۍ دمسلمانانو غوښتنې ته التفات کړی وای ؟ نه !هیڅکله هم نه ځکه چې دامریکا وحشت اوسربریت خوراسټراو مسلمان دښمني یې له حده زیاته ده ؛ خو چې اتل مجاهدین دجهاد په ډګر کې امریکایانو ته دسترو ځاني او مالي تاوانونو دوراړولو ترڅنګ مخکې دیو امریکایې فوځي او بیا د امریکایې پوهنتون داستاذانو په ژوندي نیولو او بیا یې ترکلونو له ځانه سره په ساتلو وتوانېدل نو په مغرورې امریکا یې خپله هغه غوښتنه ومنلای شوه چې چا یې تصور هم نه شو کولای ؛ دادجهاد هغه لوی برکت دی چې دنړۍ دټولو مسلمانانو شملې یې هسکې او پردښمن یې ددوئ زړونه یخ کړل.

په افغانستان کې داشغالګرو امریکایانو تر ټولوستر نظامي مرکز باګرام باندې داسلامي امارت دمجاهدینو تازه کامیاب فدایي بریدونه دریمه دخوښۍ نه دکه هغه پېښه ده چې بې له شکه یې ددښمن ملا ورماته کړه.

بریدونه چې ډېر قوي اوتر بلې شپې یې دوام کړی و نوطبعي ده چې پکې دامریکالسګونه فوځیان مړه او ټپیان شویدي اوزخت زیات مالي زیانونه ور اوړېدلي دي

خو دلته اصلاً دتلفاتو زیاتوالی یا کموالی مهم ندی ؛ مهمه داده چې داسلامي امارت مجاهدین تر دې حده قوي شول چې دامریکا دترټولو مهمې ، سترې اوخوندي اډې تول حصارونه یې مات او ۹ کسیزه ډله دې اډې ته په ورننوتلو

وتوانېده ؛ اوپدې اډې کې دننه چې پکې دنړۍ په ترټولوعصري وسلو سمبال په زرونو امریکايي فوځیان مېشت دي تولـه ورځ یې ددې زرونو فوځیانوپر ضدجنگ روان وساتلو ؛ رښتیا داده چې دامریکا داسې نظامي اډې باندې دبرید کولو او رته دننوتلو تصور هم څوک په نړۍ کې نه شي کولی .

نو له دې بعدبه یو بهرنی عسکر هم په خپل کوم مرکز کې دخوندیتوب احساس ونه کړي؛ اوس به له جنرال میلر نیولی تر یو عادي بهرني عسکر سره په هرځای او هر وخت کې دطالبانو دبرید سخته وېره وي ؛ مورال به په کلي ډول بایلي اونوربه دمجاهدینو په مقابل کې دجنگېدلو توان ښخي له لاسه ورکړي او همدا برید به ددوئ پرتابوت وروستی مېخ وي ان شاءالله تعالی

مخکې چې دامریکا سره مذاکرات مکمل شوي او یواځې امضا یې پاتې وه نو دیو امریکايي په وژل کېدو ترمپ هغه معطل کړل اوس چې بیا مذاکرات روان وو دمذاکراتو په جریان کې داسلامي امارت د مجاهدینو له دامریکا په سترې اډې دا دومره ستر عملیات له ځان سره دا پیغام لري چې اسلامي امارت مذاکرات غواړي او پکې دهېواد اوملت خیر ویني خو دمذاکراتو دودرولو مصنوعي گواښونه نه مني ځکه چې مذاکرات له دښمن نه په سوال نه غواړي بلکې دسترو قربانیو له لارې دښمن ته په نظامي ډگر کې دشکست په نتیجه کې دښمن مذاکراتو ته تیار شوی ؛ پدې سره دځان لپاره دتېښتې مصئونه لار غواړي نو له موږ زیاته دا دښمن اړتیا ده ؛ که دښمن ترې شاته کېږي موږ یې پرضد جنگ روان ساتلو ته تیار یو .

شکست خوړلی دښمن هم پدې پوه شو ځکه یې داخل دتېر په څېر عکس العمل ښکاره نکړ بلکې پر باگرام چې بریدونه روان وو په هماغه ورځ د امریکا دباندنیو چارو وزیر پومپیو وویل چې موږ پرباگرام اډه باندې شوي بریدونه غندو خو دابریدونه به دسولې خبرې زیانمنې نکړي او له طالبانو سره به خبرې دوام ولري .

دجهادي کامیابو مبارکو هڅو په نتیجه کې دزمانې دبدنام زندان نه د۵ خورا سترو مشرانو ازادول د نړۍ دټولو مخلصو مسلمانانو او په ځانګړي توګه دمجاهدینو لپاره دډېرې لویې خوښۍ خبردی ؛ بې له شکه چې خدای جل جلاله دډېر لوی فضل وکړ اومجاهدینوته یې دخیبر په پسرلنیو پیل شویو عملیاتوکې عظیمه فتحه ورپه برخه کړه.

اسلامي امارت دا هم وښووله چې ددښمن سره زموږ مذاکرت دمادي گټو لپاره ندي او نه هم موږ له دوئ سره دخپلو عالي اهدافو په سر سودا کوو ؛ نه هم خپل علیا مقاصد ترپښو لاندې کوو او نه هم دجهاد سره جفا کوو ښه په مېړانه اوشوق یې ترهغې روان ساتو چې ترڅو هدف ته نه یو رسېدلي ؛ مذاکرات ددې لپاره کوو چې دا دهېواداو ملت دې دآزادۍ اسانه لار ده .

نوملت دې مطمئن وي چې اسلامي امارت به هیڅکله هم عالي اهداف په مالي گټو ورنکړي او نه به دمجاهدینو دقربانیو او پاکو وینو پر سر دچا سره سودا وکړي ؛ دمقاصدو نه به اوس زموږ دښمن تېرېږي او داهدافو په سر به راسره هم دښمن سودا کوي ځکه چې موږ اوس دفتحې ترساحله رسېدلي یو او الفتح مو وروستي فاتح عملیات دي . ان شاءالله تعالی .

* * *

شاهد غزنیوال

واشنګټن پوسټ

د امریکایي اشغال ماهیت بربنډ کړ

د روان کال د لینډۍ د میاشتې په ۱۶مه نېټه واشنګټن پوسټ ورځپاڼې پر افغانستان د امریکایي یرغل په اړه یو لړ محرم اسناد اخپاره کړل چې له مخې يې پر افغانستان د امریکایي اشغال اصلي ماهیت بربنډ کړل شو.

دغه محرم اسناد چې په ۲۰۰۰ مخونو کې له ۴۰۰ پوځي کسانو سره د خبرو په حواله ترتیب شوي په تېرو ۱۸ کلونو کې د دریو امریکایي ولسمشرانو ، جورج ډبلیوبوش، بارک اوباما او ډونلډ ټرمپ د حکومتونو په مهال په افغانستان کې د امریکایي جګړې د تلفاتو ارقام په ګوته کوي.

یاد اسناد د هغې پروژې برخه دي چې خپله د امریکایي چارواکو لخوا د افغان جګړې د ناکامیو او نیمګړتیاو د ارزونې لپاره تر کار لاندې نیول شوې وه.

واشنګټن پوسټ ورځپاڼه وايي د دغو اسنادو ترلاسه کولو لپاره يې پوره دری کاله هلې ځلې کړې او دغه ټول اسناد يې له قانوني لارې په دې غرض تر لاسه کړي چې خپل ولس ته د جګړې اصلي هویت څرګند کړي.

څکه چې د سپینې ماڼۍ چارواکي او د دفاع وزارت جنرالان د جګړې په اړه امریکایي ولس تېرباسي ، او هغوی ته تېر ایستونکي معلومات ورکوي.

امریکایي جنرالان د جګړې په ټولو پړاوونو کې ښه پوهېدل چې یاده جګړه نور د ګټلو نه ده، مګر دوی خپل ولس ته داسې یو ذهنیت ورکاوه چې په افغانستان کې هرڅه ګل ګلزار دي.

واشنګټن پوست ورځپاڼه لومړنۍ رسنۍ نه ده چې پر افغانستان د امریکایي جګړې په اړه حقیقت ښکاره کوونکي اسناد خپروي؛ بلکې تر هغې وړاندې ویکي لیکس او نورو غربي اونړیوالو رسنیو هم ټول هغه تر محرم اسناد او ناویلي حقائق افشاء کړي کوم چې امریکایي جنګ خوښو چارواکو پر افغانستان د خپلې ظالمانه جګړې د توجیه کولو لپاره تري استفاده کوله.

ایا واشنګټن پوسټ د افغانستان د جګړې په اړه ټول حقائق بربنډ کړي؟

د واشنګټن پوسټ تر وروستي حقیقت افشاء کوونکي رپوټ وروسته مطبوعاتي هنګامه توده شوه چې یادې ورځپاڼې د افغانستان د جګړې په اړه ټول حقائق څرګند کړل.

خو را به شو دیته چې ایا واقعا هم دغه څه چې د واشنګټن پوسټ په راپور کې خپاره شوي همدا زموږ د هیواد په اړه د امریکایي جګړې ټول پټ کړل شوي حقائق دي؟

نه ! هیڅکله نه ؛ بلکې که واقعیت ته وکتل شي نو واشنګټن پوسټ هم یوه امریکایي رسنۍ ده چې تر هرڅه وړاندې د امریکایي مصالحو تحفظ ته ژمنه ده.

امریکایان د خپل شریر خصلت له مخې د نړۍ هغه مکرجن او چلباز خلک دي چې ډیر وخت د حقائقو د اظهار په نوم حقائق مسخ کوي او د خلکو اذهان وربانديې مغشوشوي.

اوس هم د واشنګټن پوسټ په راپور کې یواځې د افغانستان د جګړې په اړه ځینې هغه ارقام او اسناد په ګوته شوي کوم چې یواځې د دې جګړې په پوځي ، اقتصادي او د بشري تلفاتو په برخې پورې تړاو لري. نور پر ټولو هغو فضائحو او فجائعو باندې پرده اچول شوې کوم چې اشغالګرو امریکایانو د حکومت جوړونې، قانون حاکمونې او سولې راوستنې په پلمه په افغانستان کې تر سره شوي.

که د واشنګټن پوست لخوا نشرکړل شوي اسناد په افغانستان کې د جګړې او امریکایي اشغال له بوږنوونکو واقعیتونو سره پرتله شي، ښایي ډیرڅه لا همدا سې ناویلي پاتې وي چې د امریکا سیاسي او پوځي چارواکي او همداراز د هغوی تبلیغاتي ماشین یې له نړیوالو او خپله امریکایي ولس څخه د پټولو هڅه کوي.

ولي اوس د واشنګټن پوست افشاء کوني؟

دا خبره هم د پوښتنې وړ ده چې ولي اوس واشنګټن پوست د افغانستان د جګړې په اړه محرم اسناد خپروي؟

ځواب یې ښکاره دی او هغه دا چې امریکایان نور په افغانستان کې له ښکاره ماتې سره مخ دي.

هغوی له دې جګړې څخه د وتلو لپاره هسې پلمې لټوي.

د واشنګټن پوسټ وروستی رپوټ هم په دې لړ کې یوه غوره پلمه ده چې هم د امریکاسیاسینو او هم د پنټاګان مغرورو جنرالانوته د واشنګټن پوست لخوا په لاس ورکړل شو.

د افغانستان د اشغال غندنه؛

د نړیوالو اخلاقي مسؤلیت

ع- عزیز

په دې وروستیو کې پر افغانستان د امریکا او د هغې د متحدینو د ناروا یرغل په اړه د مهمو اسنادو تر خپرېدو وروسته یو ځل بیا دا هېره شوې جګړه او بېګناه قربانیان یې د رسنیو سرټکي ګرځېدلي دي. له تېرو اتلسو کلونو راهیسې افغانان د نړۍ د بشردوستۍ علمبردارانو لخوا بې موجبه وژل کیږي.

لکه څنګه چې یوه امریکایي ژورنالست په خپله لیکنه کې اشاره کړې، امریکا د خپلو متحدینو په ملتیا د نړۍ پر یوه غریب او بېدفاع ولس خپل ټول پوځي ځواک ورمارش کړی او له نږدې دوو لسیزو راهیسې یې وژني.

د افغانانو یو نسل په همدې جګړه کې رالوی شو، خو نړیوال او پخپله امریکایي وګړي یوازې د افغانانو تلفات شمېرې او د دې ناروا جګړې په اړه یې هیڅکله رسا غږ نه دی پورته کړی.

د وحشت او بربریت پر خلاف غږ اوچتول یو انساني او اخلاقي مسؤلیت دی خو له بده مرغه دا مسؤلیت نړیوالو د افغانستان په اړه نه دی ادا کړی.

امریکا او متحدین یې اوس پخپله افرارونه کوي چې دا جګړه یې بېګټې وه او بېګټې به وي. نړیوال هم پوهیږي، خو سره له دې بیا هم چوپ دي. کله چې ټول پوهیږي جګړه بېګټې ده او اتلس کاله نور دوام به یې هم کومه ګټه ونلري، نو ایا بیا یې پر وړاندې غږ نه پورته کول جرم، او یا په جرم کې شراکت، نه دی؟

نړیوال چې د سر په سترګوویني هره ورځ لسګونه افغانان ژوند بایلي، معیوبیږي او مال یې لوټل کیږي، ولې پر امریکا فشار نه راوړي چې دې جګړې ته د پای ټکی کیږدي؟ ټول پوهیږي چې دې جګړې افغانانو ته له قتلونو؛ بېوزلۍ؛ د خلکو د دین او کلتور ضد نظام؛ او د جنایتکارانو، فساد او فحشا له حاکمیت پرته بل څه نه دي ورکړي. نو بیا ولې چوپتیا غوره کیږي؟

امریکا ټوله نړۍ په تېرایستونکو او غولوونکو ادعاوو غولولې ده. امریکا د افغانستان د ناروا اشغال د تداوم لپاره یو فرسوده منطق او غیرحقیقي وېرې د استدلال په حیث کاروي. خو نړۍ باید پوه شي چې افغانان د اشغال د پای او د یوه داسې نظام د نفاذ لپاره مبارزه کوي چې له خپلو دیني او ملي ارزښتونو سره یې سمون خوري او له هیچا سره دښمني نه غواړي.

د افغانانو دا اهداف چې دوی یې د ترلاسه کولو لپاره له تېرو اتلسونو راهیسې نه ستړې کېدونکې مبارزه کوي په هیڅ بشري او نړیوال قاموس کې جرم نه دی. خو دا جرم دی چې پر ښکاره او په ټولو قوانینو ثابت جنایات د سر په سترګو ولیدل شي او بیا هم چوپتیا پرې غوره شي او د مخنیوي لپاره یې څه ونشي. افغانان به یوه نه یوه ورځ بریالي کیږي خو د دې ناروا جګړې پر ضد غږ پورته کول د نړیوالو اخلاقي او بشري مسؤلیت دی. نړیوالو دا مسؤلیت لکه څنګه چې لازمه ده نه دی ادا کړی خو اوس هم ناوخته نه دی.

د شهید ملا عبدالمنان آخند

ژوند او کارنامو ته کتنه

ليکنه: قاري عبدالستار سعيد

درنو لوستونکو!

د ۲۰۱۸ میلادي کال د ډسمبر په دوهمه شپه د هلمند ولایت جهادي مسؤل او د روان جهاد یو وتلی او منلی مشر ملا عبدالمنان آخند د شهادت لوړ مقام ته ورسید. دا دی د نوموړي شهید د لومړني تلین په مناسبت یې ژوندلیک درسره شریکوو.

ملاعبدالمنان آخند

د شهید ملا عبدالمنان آخند اصلي نوم (ملا عبدالرحیم) دی، د پلار نوم یې حاجي دین محمد په قوم اسحاقزی او په ۱۳۴۶ هجري شمسي کال کې د هلمند ولایت د نوزاد ولسوالی په فرهاد کلي کې زیږیدلی دی.

ملا عبدالمنان لا ماشوم و چې کورنۍ یې له نوزاد څخه د هلمند د ناوې ولسوالی باغ رباط سیمې ته انتقال شوه. د ملا عبدالمنان آخند د ماشومتوب ډیر عمر په ناوه ولسوالی کې تېر شوی، په ۱۳۶۰ لمریزکال کې د دوی کورنۍ بیرته په نوزاد کې خپلې اصلي مېنې ته ستنه شوه. دغه وخت په افغانستان کې له شوروي یرغلگرو سره جهادي مقاومت په اوج کې و. د هلمند په شمالي ولسوالیو کې د جهاد تر ټولو وتلی مشر ملا محمد نسیم اخندزاده یادیده چې په جهاد فعالیتونو سربیره یې

په مفتوحه سیمو کې مدرسې هم جوړې کړې وې. ملا عبدالمنان چې ابتدائي درسونه یې په خپل کور او مسجد کې لوستي وو د ځوانۍ کلنۍ په عمر یې د علم په طلب پسې سفر وکړ او د شهید نسیم اخندزاده په مدرسه کې یې دیني تعلم پیل کړ.

یو ذهین طالب چې د علم سفر یې نیمگړی شو

شهید ملا عبدالمنان آخند لکه څنگه چې په جهاد کې نوم ویوست، تر دې وړاندې په طالبۍ کې هم په یوه ذهین، خواریکښ او تکړه طالب العلم مشهور و. نوموړي د تعلمي دورې لومړنۍ دوه کاله په هلمندکې د نسیم اخندازه صاحب په مدرسه کې تېر کړل، بیا نوزاد ته راغی او د کاریز افغان په سیمه کې یې دمولوي غلام نبي صاحب په مدرسه کې درس شروع کړ. وروسته نوموړي د علم په لټه پاکستان ته سفر وکړ. هغه وخت چې په پاکستان کې میلیونونه افغان مهاجرین میشت و، دهجرت په کمپونو او ښارونو کې گڼ شمیر افغاني مدارس هم فعال شوي وو. ملا عبدالمنان آخند د بلوچستان گردي ځنگل ته لاړ، هلته له څه وخت درس ویلو وروسته یې د پنجپای کمپ په مدرسه کې یو کال تېر کړ، وروسته د کویټې

ښار ته لاړ هلته يې په اشرفيه مدرسه او څو نورو مدارسو کې اوږده موده سبقونه وويل. په ۱۳۶۹ لمريز کال کې نوموړی له خپلو نورو ملګرو سره د علم په سفر د خيبر پښتونخوا ايالت ته لاړ، په پيل کې يې د بنو په مرکز اسلامي مدرسه کې سبقونه وويل چې دغه وخت ورسره شهيد ملا اختر محمد عثماني صاحب او صدر محمد ابراهيم صاحب هم ملګري وو. وروسته يې څه موده د بنو د سردي خېل په سيمه کې د مولوي قمر زمان صاحب په مدرسه کې درس ووايه او بيا يې په کوهاټ کې د مهاجرو د کمپ په يوه مدرسه کې درسونو ته دوام ورکړ.

ملا عبدالمنان آخند له دې وروسته په مردان، د پېښور په کچه ګړی، او د جلوزو په کمپ کې درسونه وويل. يو کال يې په خوست کې د مولوي جلال الدين حقاني صاحب په مدرسه منبع الجهاد کې هم درسونه ويلي. د نوموړي د مدرسې ملګری مولوي محمد انور صاحب وايي چې هغه وخت په خوست کې د ستر جامع مسجد د جوړولو کار جاري وو. ملا عبدالمنان آخند به نيمه ورځ په همدې مسجد کې مزدوري کوله، تر څو د خپل علمي سفر خرڅه پيدا کړه او پاته نيمه ورځ به يې درس وايه. نوموړی همتي انسان و چې د طالبۍ په وخت يې هم خپله نفقه په خپل لاس ګټله. نوموړی وايي چې ملا عبدالمنان آخند د طالبۍ په وخت له تکړه او نامتو طالبانو ګڼل کېده چې خپل ملګرو ته به يې د کتاب تکرار کاوه، هغه د خپل وخت په تکړه استاذانو سبقونه وويل څو دا چې د طالبانو اسلامي تحريک پيل شو، نو د احاديثو وړه او لويه دوره يې ترسره نکړای شوې. د ملا عبد المنان آخند د استاذانو له جملې، مولوي ګلزار جان صاحب، مولوي سيد قريش بابا، قاضي محمد امين صاحب، مولوي اختر جان صاحب، مولوي نور محمد ثاقب صاحب، شيخ مولوي شهاب الدين دلاورصاحب، شهيد شيخ نصيب خان صاحب او شيخ سميع الله راشد صاحب د يادولو وړ دي چې دا هغه وخت د خيبر پښتونخوا په سطحه د فنونو تر ټولو وتلي مدرسين وو.

په ۱۳۷۳ لمريز کال کې ملا عبدالمنان آخند د پېښور په جلوزو کمپ کې له مرحوم سيد قريش بابا او مولوي شهاب الدين دلاور صاحب سره د تکميل درجه ويله او کتابونه يې خلاصېدو ته نږدې شوي وو چې په کندهار کې د طالبانو اسلامي تحريک پيل شو. دغه وخت ورسره شهيد امير المؤمنين ملا اختر محمد منصور، ملا عبدالسلام مجبور او ګڼ نور طالبان هم ملګري وو، چې خپل درسونه يې په نيمايي کې پرېښودل، کندهار ته راغلل او له اسلامي تحريک سره يوځای شول.

جهادي ژوند

ملا عبدالمنان آخند هغه وخت لا د شوروي يرغلګرو خلاف په جهادي عملياتو کې شرکت کاوه چې په موسی کلا او نوزاد کې يې ابتدائي درسونه ويل. کله يې چې په بلوچستان کې درسونه ويل نو په رخصتيو کې به کندهار ته د جهاد لپاره تلو. هغه وخت کمونست جنرال جبار قهرمان د کندهار په ميوند کې لوی مرکز درلود، د کندهار ــ هلمند د لارې مسؤليت يې په غاړه و او په ريګ کې يې پوستې غځولې وې چې مجاهدينو به ورباندې عمليات کول. ملاعبدالمنان آخند هغه وخت د ملا محمد هاشم تر مشرۍ لاندې په همدې سيمه کې جهاد کاوه.

ملا عبدالمنان آخند د طالبانو له اسلامي تحريک سره هغه وخت ملګری شو، چې بولدک نيول شوی و، نوموړي په کندهار د عملياتو په وخت د تور کوتل په جګړه کې برخوال و، وروسته يې د کندهار د باغ پل په جګړه کې د د راکټ لانچر د ډېر ويشتلو له امله د يوه غوږ پرده وشلېده چې ټول عمر په همدې غوږ کوڼ و. نوموړی د کندهار له نيولو وروسته د روزګان ولايت په تصفيه کې برخوال و چې له نورو طالبانو سره د دهراود له لارې د هلمند تر کجکي پورې تللی و. وروسته د هغه ستر کاروان برخوال و چې له غزني وروسته يې پکتيکا، پکتيا او خوست ولايات تر تصرف لاندې راوستل. په لويديځ محاذ کې نوموړی ډېر وخت د دلارام په کمربند کې و، کله چې د هلمند ځينو ټوپکيانو جنوب اړخ ته د چوټو په غرونو کې بغاوت وکړ او پر خلاف يې د شهيدملا عبدالسلام مجروح تر مشرۍ لاندې طالبانو عمليات وکړل، ملا عبدالمنان آخند هم په کې برخه درلوده.

د هرات او کابل له فتوحاتو وروسته نوموړي د هوانورۍ د وزير ملا اختر محمد منصور صاحب تر مشرۍ لاندې بيلابيل مسؤليتونه ترسره کړل. هغه وخت د ملکي هوايي چلند په څېر د هيواد هوايي ځواک هم د هوانوردۍ

وزارت مربوط و، چې د هوايي چلند مسؤلينو د پوځي عملياتو په مهال له هوايي بريدونو نه علاوه، د اکمالاتو، ټپيانو د انتقال او نور ګڼ مسؤليتونه هم درلودل. ملا عبدالمنان آخند داسلامي امارت د واکمنۍ په مهال دوه نيم کاله د کابل د خواجه رواش د هوايي ډګر مرستيال، يو نيم کال د هرات د هوايي ډګر مسؤل او بيا تر پايه د شينډنډ د هوايي ډګر دمسؤل په حيث دنده اجراء کړه.

د هوايي ډګر له مسؤليت نه علاوه نوموړي د کابل په شمال او هرات ته څيرمه د غور ولايت په نظامي عملياتو کې هم هميشه برخه اخيسته. دکابل د شمال په جګړو کې يې لاس او ژامه ټپي شول او په هرات کې يې د موټر د ټکر کيدو له امله پښه ماته شوه. نوموړي د نظامي او ملکي هوايي چلند په برخه کې خپله سخته او ستومانه وظيفه په پوره متانت ترسره کړه. په افغانستان د امريکا له يرغل څو اونۍ، وروسته چې مجاهدين له لويو ښارونو شاته شول، ملا عبدالمنان آخند هم کندهار ته راغی. د کندهار هوايي ډګر ته نږدې په دفاعي خط کې د امير المؤمنين اختر محمد منصور صاحب په قومنده تر وروستۍ ورځې وجنګېد او کله چې طالبان له کندهار ښاره ووتل نوموړی د هلمند په نوزاد کې خپلې سيمې ته لاړ.

د امريکا پر خلاف د جهاد پيل

ملا عبدالمنان آخند له امريکايي يرغل وروسته څه موده په خپله سيمه نوزاد کې و اوسيد اووروسته د دښمن له نظره د ځان غيب کولو په خاطر د کندهار بولدک ولسوالۍ ته لاړ. د يرغلګرو په وړاندې د جهاد لومړني کلونه د نورو سيمو په څير په هلمند کې هم له سختيو او ازميښت سره مله وو. مجاهدينو په ډير خفيه شکل فعاليت کاوه. د هلمند ولايت لومړنی جهادي مسؤل شهيد ملا داد الله آخند وټاکل شو. نوموړی د ۲۰۰۳ م کال تراواخرو پورې دهلمند ولايت جهادي مسؤل وو، له ده وروسته شهيد ملااختر محمد عثماني دهلمند ولايت جهادي مسؤل شو چې د ۲۰۰۴ ميلادي کال تر پايه يې خپله وظيفه سرته ورسوله، تر دې وخته ملا عبدالمنان آخند د نوزاد ولسوالۍ د جهادي مسؤل په حيث دنده اجراء کوله. د ۲۰۰۵ کال له پيل سره ملا عبدالمنان آخند دهلمند ولايت عمومي جهادي مسؤل وټاکل شو چې په ۱۷/۸/۲۰۰۸ م نيټه په پاکستان کې د نيول کيدو تر وخته پورې ددې ولايت عمومي جهادي مسؤل و.

د هلمند ولايت د جهادي مسؤل په حيث د ملا عبدالمنان آخند د مسؤليت اولنی دور د سختو آزموينو، چيلنجونو او حماسو څخه ډک دور و. هلمند ولايت د برتانوي اشغالګرو او د هغوی د ګوډاګيانو تر تصرف لاندې راغلی و. مجاهدينو په تش لاس د خواکمن دښمن په وړاندې جهاد پيل کړ. په پيل کې جهادي فعاليت په ډير مخفي او چريکي ډول پيل شو. په شمالي هلمند کې له باغران او په جنوب کې له ديشو او هزار جفت څخه جهادي بريدونه آغاز شول. دهلمند په شمالي ولسواليو لکه نوزاد، موسی کلا، کجکي، سنګين، واشير، باغران او ګرشک کې جهادي عمليات په ځنځيري شکل پيل او علني شول، مجاهدينو لومړی دبغران او نوزاد په غرنيو سيمو لکه هزارخاک، سرپله، ګورخ، تيزني دغه راز د بغني ولسوالۍ په ځنجک مزار، کلاته، ګزکه او نورو لرې پرته غرنيو سيمو کې مراکز جوړ کړل، او له همدې مراکزو يې د شمالي هلمند په ټولو ولسواليو کې عمليات رهبري کول، دګرشک، باباجي، لشکر ګاه، نادعلي، مارجې، ګرمسير او نورو جنوبي سيمو مجاهدينو په خپلو سيمو کې مخفي عمليات کول، په دوهم او دريم کال دمجاهدينو حملو وده وکړه او نسبتا په سترو اهدافو باندې بريدونه پيل شول.

د ۲۰۰۵ م او ۲۰۰٦ ميلادي کلونو په ترڅ کې دهلمند په ټولو ولسواليو کې جهاد علني او د شمالي او جنوبي هلمند اکثره سيمې د مجاهدينو تر کنترول لاندې راغلې. د۲۰۰٦ م کال په جولای کې کې مجاهدينو د اطرافي سيمويه تصفيه سربيره په دوو ناڅاپي عملياتو کې د ګرمسير او ناوې ولسوالۍ هم يوځل فتحه کړې خو بيرته يې ورته شاتګ وکړ. د ۲۰۰٦ م کال يوه مهمه بريا چې په رسنيو کې يې پراخ انعکاس وموند له موسی کلا څخه د انګريزي عسکرو تيښته وه. په موسی کلا کې انګريزان ډير بد محاصره شوي وو چې شپه ورځ پرې مجاهدينو د هاوان بريدونه کول. تر دې چې د همدې کال په جولای کې مجبور شول تر څو د قومي سپين ږيرو په منځګړتوب له مجاهدينو د تيښتې لار وغواړي.

په همدې کال د مارجې ولسوالې مجاهدینو له پرلپسې بریدونو وروسته په بشپړ ډول له دښمن څخه تصفیه کړه او بیا ترهغه مهاله دمجاهدینو په ولکه کې وه ترڅو د ۲۰۱۰ م کال په فبرورۍ کې امریکایانو په مارجه باندې د (مشترک) په نامه ستر عملیات وکړل. له باغران، بغنې، دیشو، واشیر او تورو مفتوحه سیمو نه علاوه په ۲۰۰۶ م کال کې د ګرمسیر، نادعلې، مارجې، ګرشک، سنګین، موسی کلا، نوزاد، کجکې او د هلمند په نورو ډیرو سیمو مجاهدینو خپله ولکه بشپړه کړه، له اکثرو سیمو دښمن په یومخیز ډول ووت او په ځینو کې یې دواک ساحه یوازې د ولسوالیو تر ودانیو محدوده شوه، مجاهدینو د دښمن په مراکزو محاصرې او کمربندونه راوګرځول او دشمن یې د هوا له لارې اکمال ته اړ کړ.

خارجې اشغالګرو چې په ۲۰۰۶م کال کې یې په هلمند کې درانه ګوزارونه لیدلي او پراخې سیمې بایللې وې، په ۲۰۰۷ م کال یې پراخ پوځې عملیات پیل کړل. په دې کال په هلمند کې د Pickaxe –handle (Silver) (Achilles) (دکولنګ لاستی) د موسی کلا جنګ، څټک عملیات او په نورو نومونو د برتانویانو، امریکایانو او داخلې ګوډاګیان پراخ پوځې عملیات ترسره شول چې مجاهدینو یې په میرانه مقابله کوله. د دې کال په سختو جګړو کې د هلمند څو تنه مخکښ جهادي مشران لکه شهید ملادادالله اخند، ملاعبدالله اجمل، د موسی کلا مشهور جهادي مشران لکه ملا تورجان، ملا عبدالمنان، ملا عبدالغفور او ملاعبدالباري (ککواغا) د نادعلي ملاجمال الدین دکجکي ملامعروف آخند، حافظ علي محمد احمدي او ملاسلطان عزیز د ګرشک مولوي فتح محمد د سنګین ملا بهاء الدین د خانشین ملا لعل جان، د ګرمسیر ملا امین الله ذکي او ملانظر جان ماهر او څو تنه نور ولګي مشران په شهادت ورسیدل. په همدې کلونو کې د هلمند جهادي مسؤل ملا عبدالمنان آخند هم څو ځله د دښمن له وژونکو بریدونو روغ ووت، یو ځل نوموړی په ۲۰۰۶ میلادي کال کې د نوزاد په سره کلا کې د خپل ورور کور ته ورغلی و تر څو له څلورو کلونو وروسته د خپل پلار ملاقات وکړي. څو دښمن په همدې کور چاپه ووهله، پلار یې شهید، ورور یې ونیول شو خو ملا عبدالمنان آخند ته الله تعالی نجات ورکړ. په ۲۰۰۷ میلادي کال کې یوه ورځ چې ملا عبدالمنان آخند او ملګرو یې د ګرشک په ده ادم خان کې له دښمن سره جنګ کړی و، وروسته یې په دوو موټرو کې ځان د شورکي سیمې ته رسولی او هلته په یوه مامته (باغچه) کې په څوتره باندې ناست و چې ناڅاپه امریکایي الوتکو وریاندې بمبار وکړ، بم دومره درونډ و چې له لګیدو وروسته یې موټر او انسانان په هوا کړل او ځمکې اوبه وکړې. په بمبار کې د نوموړي پنځه تنه ملګري شهیدان او د ده په شمول درې نور د خاورو له منځه ژوندي را وایستل شول. په دې بمبار کې د نوموړي د اوږې هډوکی مات شوی و او تر ډیره یې ساه بنده بنده کیده. له دې پیښې څخه موده وروسته یوه ورځ چې د ګرشک په میرمنداو کې یې جنګ کړی و د غرمې تیرولو لپاره یې ځان د حیدراباد سیمې ته رسولی و خو دښمن یې لکه چې تیلفون کشف کړی و. ماسپښین مهال چې نوموړی اوداسه ته وتلی و او تیلفون یې په اطاق کې پاته و همدغه اطاق د دښمن لخوا بمبار او په بشپړ ډول تخریب شو، خو ملا عبدالمنان آخند ته الله تعالی نجات ورکړ. له همدې ټولو خطراتو او د دښمن د پراخو عملیاتو سره سره نوموړی همیشه د جګړې په ډګر کې اوسیده او د مجاهدینو رهبري یې کوله.

د پاکستاني حکومت لخوا نیول کیدل

۲۰۰۸ م کال هم د تیرو کلونو په څیر د درست افغانستان په شان په هلمند کې هم له تودو معرکو سره مل و. د همدې کال په اګست میاشت کې د ملا عبدالمنان آخند ورور په شهادت ورسید. ملا عبدالمنان آخند د بلوچستان په مرکز کې د مهاجرو افغانانو په مینه کې د خپل شهید ورور په تعزیه او فاتحه اخیستلو مصروف و چې د اګست په ۱۷ مه نیټه د پاکستان د استخباراتو له خوا ونیول شو. د نوموړي د نیول کیدو دلیل معلوم نه و، خو په همدې کلونو کې چې د امریکا پر خلاف جهادي بریدونه اوج ته رسیدلي وو په پاکستان کې د اسلامي امارت لسګونه د سر مشران ونیول شول چې هر یوه څو څو کاله زندانونه تیر کړل. یو تحلیل دا دی چې امریکایانو غوښتل د جهادي مسؤلینو په نیولو سره په افغانستان کې جهادي عملیات له خنډ سره مخامخ کړي.

ملا عبدالمنان آخند پنځه کاله او دوه میاشتې د پاکستان په حبس کې تیر کړل. نوموړی ډیره موده په کراچۍ کې بندي

و او یو نیم کال یې د اسلام اباد په محبس کې تېر کړل تر څو د ۲۰۱۳ م کال د اکتوبر په ۱۵ مه نېټه د پاکستان له زندان څخه آزاد شو.

د هلمند د جهادي مسؤلیت دوهمه مرحله

هغه وخت چې ملا عبدالمنان آخند په زندان کې و، په هلمند خورا سخت حالات تېر شول. په ۲۰۰۹م کال کې برتانویانو په سنګین کې پراخ عملیات ترسره کړل، وروسته په نادعلي کې د پړانګ پنجه عملیات، په ناوه، ګرمسیر او خانشین کې د خنجر عملیات او په نوزاد کې د کوبرا قهر عملیات د اشغالګرو خورا درانه بریدونه و چې زرګونه بهرنیو پوځیانو په کې برخه درلوده. د ۲۰۱۰ م کال له پیل سره په مارجه د مشترک عملیاتو تر نوم لاندې خورا ستر برید ترسره شوه چې تر ۱۵ زره زیاتو بهرنیو پوځیانو او ګنو داخلي ګوډاګیانو په کې شمولیت درلود. له همدې وخته د بارک اوباما له ستراتیژۍ سره سم لسګونه زره بهرني پوځیان د هلمند شنو ناوو او ګڼو کلیو ته ورکوز شول، کلي په کلي یې پخې قرارګاوې او پوستې جوړې کړې، سخت وحشتونه، بمبارونه او قتل عامونه یې وکړل او مجاهدین یې اړ کړل چې د جبهه یې او علني مقاومت پر ځای بېرته چریکي بریدونو ته وګرځي. دغه وخت د امریکایي جنرال ډیوېډ پیټریېس له طرحې سره سم په ټولو سیمو کې د اربکي سازۍ پروژه هم پیل شوه.

د ملا عبدالمنان آخند له نیول کېدو وروسته حاجي ګل محمد دهلمند نظامي مسؤل وټاکل شو چې د ۲۰۱۲م کال تر پایه یې دغه مسؤلیت تر سره کړ، د ۲۰۱۳ م کال په راتګ سره ملا محمد داود مزمل د هلمند جهادي مسؤل تعین شو چې شاوخوا یو نیم کال یې دغه مسؤلیت ترسره کړ. په دې مرحله کې که څه هم په هلمند د دښمن لخوا پوځي فشار فوق العاده زیات و، لسګونه زره خارجي پوځیان په دې ولایت کې میشت ول، خو بیا هم مجاهدینو په میړانه مقاومت ورسره کاوه، تر دې چې همدا کلونه د اشغال په ټوله موده کې اشغالګرو ته د درنو تلفاتو نه ډک کلونه و چې زیاتره زیانونه ورته په هلمند ولایت کې واوښتل.

د ۲۰۱۳ م کال په جریان کې مجاهدین یو ځل بیا له ځواکمن موقف سره د هلمند په جهادي ډګرونو راښکاره شول او په دښمن یې پراخ تعرضونه پیل کړل. په دې ډول په هلمند کې د جګړې معادله یو ځل بیا معکوسه شوه، یرغلګر دښمن او ګوډاګیان په تیښته او مجاهدینو وروسته تصفیوي عملیات پیل کړل. د همدې کال د اکتوبر د میاشتې په ۱۵ مه نیټه ملا عبدالمنان آخند د پاکستان له زندان څخه آزاد او د ۲۰۱۴ م کال د اپریل په میاشت کې یو ځل بیا دهلمند د جهادي مسؤل په حیث وټاکل شو.

د جهادي مسؤل یا والي ملا عبدالمنان آخند او مرستیال یې ملا محمد داود مزمل د مسؤلیت دوهم پړاو هم خورا بریالي و چې د الله تعالی په نصرت او د مجاهدینو د قربانیو په برکت یې د هلمند ټول جنګي حالت تغیر کړ. په ۲۰۱۴ میلادي کال کې د خیبر عملیاتو په لړ کې چې مجاهدینو په ګرشک، سنګین، موسی کلا، نوزاد، مارجه او کجکي ولسوالیو کې کوم اهداف ټاکلي وو د الله تعالی په نصرت ټول ترلاسه شول، په سنګین کې د څاروان کلا پراخه سیمه په مکمل ډول فتحه شوه. په موسی کلا کې د شیخ علي، ده غوچک او اسپانیانو پراخې علاقې د مجاهدینو لاس ته ورغلې او دښمن د ولسوالۍ په مرکز کې محصور شو. په نوزاد کې دباغو سیمه چې دنوزاد تر ټولو مهمه نقطه ده فتحه شوه، په دې سیمه کې ددښمن ۹ غټې پوستې او قرارګاوې له منځه یوړل شوې. د ګرشک په نهرسراج کې ۱۵، په حیدراباد کې ۱۳ او په ده ادم خان کې ۱۰ پوستې مجاهدینو فتحه کړې، په مارجه کې تریخ ناور، سیستاني او ځیني نورې سیمې چې امریکایانو دمارجې دلویو عملیاتو په لړ کې اشغال کړې وې بېرته مجاهدینو ونیولې، په خانشین، کجکي او نورو ولسوالیو کې په دښمن درانه بریدونه ترسره شول. په همدې کال د اکتوبر دمیاشتې په ۲۶ مه د هلمند په شوراب پوځي اډه کې برتانویانو خپل بیرغ رسما راکوز کړ او په دې ډول یې شکست ومانه، برتانویان هغه خلک و چې له امریکایي یرغل وروسته د هلمند ولایت مسؤلیت ورسپارل شوی و.

په ۲۰۱۵ م کال کې د ملا عبدالمنان آخند تر مشرۍ لاندې مجاهدینو د هلمند د نوزاد، خانشین او موسی کلا ولسوالیو مراکز دغه راز د موسی کلا په حدودو کې د باغران ولسوالۍ

بدیل مرکز په بشپړ ډول فتحه او دغه ولسوالي یې کاملا له دښمنه تصفیه کړې. د هلمند د مرکز مربوط د باباجي سیمې ته مجاهدین ننوتل او حکومتي اربکیان یې ترې وشړل، د ګرشک په لویه ولسوالي کې شورکۍ، قلعه ګز او حیدراباد سیمې مکملې د مجاهدینو په واک کې راغلې، دغه راز په سنګین کې هم مجاهدینو ډېرې سیمې له دښمن څخه تصفیه کړې.

۲۰۱۶م کال داسې مهال پیل شو چې دښمن د هلمند په شمال اوجنوب کې کلک ځپل شوی او تقریبا ټولې سیمې ترې تصفیه شوې وې. د دښمن قوت یوازې په ګرشک، لښکرګاه، نادعلي، ناوه او ګرمسیر کې پاته و، دغه راز یې د خانشین ولسوالي په یوه برخه کې هم شتون درلود. د همدې کال د جولای میاشتې په ۳۰ مه د عمري عملیاتو په لړ کې مجاهدینو له خانشین څخه برید پیل کړ چې د الله تعالی په نصرت یې دښمن مات او سیمه یې ترې تصفیه کړه، بل اړخ ته مجاهدینو په نادعلي ولسوالي ناڅاپي برید وکړ او ددې ولسوالۍ له مرکز پرته ټولې اطرافي سیمې یې ونیولې. لسګونه حکومتي سرتیري تسلیم شول او نور یې د ولسوالۍ په مرکز کې کلابند شول، د اګست په دریمه د لښکرګاه سره نږدې د چاه انجیر مهمه سیمه فتحه شوه، وروسته د اګست په لسمه د ناوې ولسوالي د مجاهدینو لخوا فتحه او دوه ورځې بعد د ګرمسیر ولسوالي له مرکز پرته ټولې سیمې ددښمن له شتون څخه تصفیه شوې، په همدې مرحله کې مجاهدین د بشران په ساحه کې د لښکرګاه له دفاعي کمربند سره شاته تاو شول او تر بولان پورې یې پرمختګ کړ، په دې عملیاتو کې د دښمن ۹۷ تنه عسکر ژوندي ونیول شول او د هلمند په زړه کې پراخې سیمې د مجاهدینو لاس ته ورغلې. دا هغه سیمې وې چې اشغالګرو په کې اته کاله خواري کړې وه، خپل اربکیان یې په کې ځای پرځای کړي وو او پخې قرارګاوې یې په کې جوړې وې الله تعالی ددوو اونیو په ترځ کې دمغروردښمن دغه ټولې خوارۍ په اوبو لاهو او یادې سیمې د مجاهدینو تر واک لاندې راغلې.

د هلمند د دې فتوحاتو اصلي علت د الله تعالی نصرت و خو د ظاهري عللو له جملې یې یو لامل د ملا عبدالمنان آخند مسؤلانه او مخلصانه مشري وه، چې په اکثره جګړو کې به خپله په مقدم صف کې ولاړ و. نوموړي د هلمند د بیلابیلو ولسوالیو مجاهدین په متحد صف کې بسیج کړل. تهاجمي قطعات یې رامنځته کړل او د قطعاتو او سرایاوو رهبرۍ ته ورزیده او جرأتمند مشران تعیین کړل. مخامخ رهبرۍ، د مجاهدینو پر وخت اکمال او له هر ډول حالاتو سره عیارېدونکې تاکتیکونه د نوموړي د قومندې مهم خاصیتونه و چې له دښمن څخه یې لار ورکوله او تیښتې ته یې مجبوراوه. په مقابل اړخ کې د دښمن یوه وتلي قومندان جنرال عبدالجبار قهرمان یو وخت اعتراف وکړ چې په هلمند کې امریکایانو او ګوډاګیانو دومره خواک او پوځي امکانات را غونډ کړي چې د یوه هیواد لپاره کفایت کوي. خو د دښمن دغه ټول پوځي ترتیبات د حق د لښکر په وړاندې د شګو بند ثابت شول او یو په بل پسې محو شول.

له بیلابیلو فتنو سره مقابله

د ملا عبدالمنان آخند د مسؤلیت په دوهمه مرحله کې که له یوې خوا نوموړی د بهرنیو اشغالګرو او د هغوی د ګوډاګیانو په ځپلو بوخت و، بل اړخ ته په هلمند کې ځینو نورو فتنو هم سر راپورته کړ. د داعش له پیدا کیدو سره د هلمند په شمالي سیمو کې ځینو خلکو د داعش په پلوی د بغاوت بیرغ پورته کړ. دغه راز مزدور رژیم د منان نیازي او بهرنیو استخباراتو سره په ګډه دسیسه د سنګوریانو په نوم د نوي ځواک د جوړولو پروژه تر کار لاندې ونیوله. خو شهید ملا عبدالمنان اخند د دې نویو او نابلده فتنو په وړاندې په لوړ عزم او متانت ودرېد. له روزمره جهادي عملیاتو سره په څنګ کې د دې نویو فتنو خطر ته هم متوجه و، تر دې چې بالاخره یې د الله تعالی په نصرت وړاندې برۍ وموند او د دښمن پلانونه یې شنډ کړل.

دښمن چې کله له نظامي دسیسو مایوسه شو نو یې استخباراتي او تبلیغاتي توطیې پیل کړې، د ملا عبدالمنان آخند خلاف یې په رسنیو کې تبلیغات او وروسته یې د جعلي پیغامونو او لیکونو د خپرولو سلسله شروع کړه تر څو ملا عبدالمنان آخند د اسلامي امارت له رهبرۍ سره په تقابل کې وښيي. اما ملا عبدالمنان آخند هر ځل په خپلو مرکو سره د دښمن تبلیغات رد کړل.

د پرلپسې بريدونو او پرمختګونو په نتيجه کې د هلمند ټولې شمالي او جنوبي سيمې له دښمن څخه تصفيه شوې وې او حتى د هلمند د مرکز لښکرګاه د سقوط اوازه ګرځيده. په همدې حال کې بهرني اشغالګر په شوراب، دوېر او لښکرګاه کې د خپلو وروستيو مراکزو په سقوط وډار شول نو ځکه يې د مجاهدينو د مخنيوي په هدف درانه هوايي او ځمکني عمليات پيل کړل. په ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ کلونو کې د هلمند ناوه، د لښکرګاه مربوطات او د ګرشک اړوند سيمې د سختو جګړو او بمبارونو شاهدې وې. د ۲۰۱۷ م کال په مارچ کې د هلمند د سنګين مرکز په بشپړ ډول فتحه او دښمن ترې وتښتيد. د دې کال په جګړو کې د ناوې ولسوالي بيا بيا لاس په لاس شوه او په جولای مياشت کې مجاهدينو په ګرشک کې د دښمن په مراکزو درانه بريدونه ترسره کړل. په همدې او ورپسې کلونو کې چې دښمن په هلمند کې مسلسل هوايي او ځمکني قوت استعمال کړ، کوم ځرګند پرمختګ يې ونکړ او يوازې يې لښکرګاه او ګرشک له سقوطه وژغورل.

شهادت

ملا عبدالمنان آخند د جهادي مسؤليت په دوهمه مرحله کې هم بيا بيا د دښمن له بريدونو او قاتلانه هڅو ژوندی ووت. تر دې چې بالاخره هغه ورځ را ورسيده چې دغه د عزم او متانت غر د جل په غشي ولګېد.

د نوموړي ملګري ملا مدثر آخند راته وويل چې ملا عبدالمنان آخند د هلمند د جهادي مسؤليت په وخت کې هميشه د تحرک په حال کې و، د دې پراخ ولايت بېلابېلو سيمو ته به يې ځان رساوه او د مجاهدينو ستونزې به يې حل کولې. تر دې چې کله به يې په يوه ورځ کې څلور يا پنځه ولسوالۍ هم را غوښتې وې.

د نوموړي د ملګرو په استناد شهيد ملا عبدالمنان آخند د خپل ژوندی وروستۍ شپه په سنګين ولسوالۍ کې تېره کړې وه. سهار د ۲۰۱۸ ميلادي کال د ډسمبر په لومړۍ نېټه) د هلمند يوې بلې ولسوالۍ نوزاد ته تللی و، چې د جهادي چارو اړوند يې له مسؤلينو سره ملاقات درلود. له هغه ځايه يې غرمه د موسی کلا ولسوالۍ ته راوړې وه. هلته يې د هلمند ولايت له اداري مسؤل مولوي محمد قاسم سره ليدلي او اړوند کارونه يې خلاص کړي و. له غرمې وروسته په داسې حال کې چې د جهادي کاروانو په لړ کې د سنګين ولسوالۍ ته د تګ اراده يې درلوده، يوازې وچه ډوډۍ يې تر خوله کړه او بيا د سنګين ولسوالۍ پر خوا لاړ، د سنګين د شرافت بازار ته نږدې يې له جهادي مسؤلينو سره وليدل دمازديګر لمونځ يې په جماعت اداء کړ، له هغه وروسته يې وويل: د جامو مې وخت وتلی دی، بيا يې پاک غسل وکړ، پاکې جامې يې واغوستې، سپين پاج يې وتاړه او له ملګرو رخصت شو. د ماښام لمونځ يې د نوزاد رود په سيمه کې په جماعت اداء کړ، اراده يې وه چې شپه نوزاد ولسوالۍ ته ورسوي. له لمانځه وروسته کله چې روان شو، ماښام لس باندې شپږ بجې وې چې په موټر يې د دښمن بې پيلوټه طيارې ټک وکړ او دغه د خدای د لارې خوځند، فعال او مخلص لاروی يې په شهادت ورساوه. انا لله و انا اليه راجعون

درنو لوستونکو! په لوړو کرښو کې تاسو د هلمند د اتل شهيد ملا عبدالمنان آخند لنډ سوانح وليدل. دا چې د هغه شخصيت کومې ځانګړتياوې درلودې، له اولس او مجاهدينو سره يې وضع څنګه وه، اسلامي امارت ته څومره متعهد و او شخصي تقوی يې څنګه و دا او ډېرې نورې خبرې به دنوموړي په تفصيلي سوانحو کې وګورئ.

د بلخ ولایت له محترم والي

مولوي قدرت الله ابو حمزه سره مرکه

په بلخ ولایت کې د جهادي بریاوو، پرمختګونو او نورو موضوعاتو په اړه ددې ولایت له محترم والي مولوي قدرت الله ابو حمزه صاحب سره شریعت غږ راډیو مرکه کړې چې شهامت یې ترې په مننه په لیکلې بڼه خپلو لوستونکو لپاره خپروي :

پوښتنه محترم ابو حمزه صاحبا! خپرونې ته ښه راغلاست، هیله ده چې جوړ او روغ به یاست، که په لومړي سر کې د بلخ ولایت د نظامي وضعیت په اړه زموږ اوریدونکو ته معلومات ورکړئ او مهمې لاسته راوړنې ورته په ګوته کړئ.

ځواب: بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله وحده و صلوة و السلام علی من لا نبی بعده، اما بعد، محترمه د بلخ ولایت د نظامي وضعیت په اړه دا درته ویلی شو چې بلخ ولایت د افغانستان په شمالي ولایتونو کې، بلکې د افغانستان په سطحه هغه ولایت دی چې مرکزي ولایت ورته ویل کیږي، همدا لامل دی چې دښمن ورته ډېر متوجه دی، ځکه دلته امریکایان او جرمنان شتون لري او ددوی تر څنګ شاهین قول اردو چې تقریبا ۳۰ زره تنه تشکیل لري، دلته وجود لري، خو د دښمن له دومره قوت سره- سره الحمد لله د بلخ ولایت مجاهدین په ډېر عالي مورال او په ډېره ښه توګه خپل جهادي خدمت پر مخ بیایي او جهادي بهیر مخ پر وړاندې روان دی.

یاده دې وي چې بلخ ولایت څوارلس ولسوالۍ لري چې بلخ خپله مرکزي ولسوالي، چهاربولک، چمتال، چارکنت، خلم چې هغه اوس د سمنګان اړوند راځي، دولت آباد، دهدادي، زاري، شورتپه، کالدار، شولګره، کشنده، البرز او نهر شاهي پکې شاملې دي، د جهادي بریاوو او د مجاهدینو د مبارزې په اړه دا درته ویلای شو چې په تېرو دریو کلونو کې په بلخ ولایت کې ډېرې ساحې فتحه شوې، بلخ ولایت ډېرې سیمې الحمد لله ازادې شوې، ددې ولایت پنځه ولسوالۍ لکه چمتال، چهاربولک، زاري، کشنده او دولت آباد په سلو کې ۹۸ سلنه د مجاهدینو په تصرف کې دي، د ولسوالیو په مرکزونو یوازې د دښمن کنترول دی، دښمن ددې توان نه لري چې له خپلو مرکزونو ووځي، عملیات وکړي یا مجاهدینو ته کوم ګواښ پیښ کړي، بلکې د محاصرې په حالت کې قرار لري.

څلور داسې ولسوالۍ دي چې په سلو کې اویا فیصده د مجاهدینو تر تسلط لاندې دي، لکه د نهر شاهي، شولګرې، شورتپې او بلخ ولسوالیوې او دوې مفتوحه ولسوالۍ پکې لرو، لکه شاهي او البرز او په دوو نورو ولسوالیو کې د مجاهدینو تحرکات شته، لکه مرمول او دهدادي.

سږ کال د کال په سر کې موږ د بلخ ولایت په دوو طرفو کې عملیات لرل، یو د بلخ ولایت شمال پلو ته چې دې خوا ته د بلخ، دولت آباد او نهر شاهي ولسوالیو ساحې وې، د نهر شاهي ولسوالۍ ساحې د بلخ له مرکز سره وصل ساحې دي، په پورته ساحو کې د شولګرې او کشندې په ساحو کې هم موږ عملیات لرل چې الحمد لله په دواړو طرفو کې زموږ عملیات

ډېر کامیاب ول، د بلخ، نهر شاهي او دولت آباد په ساحو کې عملیات تر دې حده و چې د دولت اباد د ولسوالۍ یوازې ودانۍ پاتې شوه او د بلخ مرکزي ولسوالۍ چې د بلخ له ولایت سره په کومه ساحه کې وصل کېږي، دا ساحې ټولې ازادې شوې، په نهر شاهي ولسوالۍ کې دوې پوستې وې چې دا د مزار شریف ښار له کمربندي پوستو څخه شمېر کېدلې، هغه فتحه شوې، دښمن ډېر وارخطا وه چې مجاهدین دبلخ پر مرکز مزار شریف عملیات کوي، وروسته دوی عملیات راوایستل او په همدې طرف کې یې په دښته کې څه کمربندي پوستې او بیسونه جوړ کړل، خو څه چې اربکیان او د دوی غلامان وو هغه ټول ختم شول او ساحې اوس ازادې دي، وطنونه او کلي ټول د مجاهدینو په لاس کې دي، د نهر شاهي ولسوالۍ اړوند ترکمني شاهرک، کمپیرک ساحې او سیاګرد کې اربکیان او قومندانان دا ټول ورک شوي او داساحې ټولې د مجاهدینو په واک کې دي چې اوس خبره یوازې د بلخ مرکز مزار شریف ته ولاړه ده.

په بوره طرف کې د شولګرې او کشندې اړوند سیموکې هم عملیات وشول، شولګره کې د دوی پوستې او بیسونه وو هغه فتحه شول او ساحې د مجاهدینو په واک کې دي، یوازې د ولسوالۍ مرکز پاتې ده، په کشندې کې د اربکیانو او عسکرو پوستې وې چې هغه هم فتحه شوې، اوس هلته تر ۵۰ کیلومترو په پاخه سړک مجاهدین تګ راتګ کولای شي، له شولګرې او بلخ سره د زارې، کشندې او دره صوف چې د سمنګان مربوط راځي لارې خلاصې شوې، په دې لاره مجاهدین تګ راتګ کوي او د مجاهدینو په کنترول کې ده چې اوس هلته زموږ د ګمرکاتو کاروانه هم شروع شوي دي.

سږ کال چې موږ دوه درې مهم کاروانه لرل په هغو کې د بلخ او جوزجان، سرپل، فاریاب، بادغیس په عمومي سړک چې کومې پوستې وې په هغو کار وشو، پنځه شپږ بیسونه او پوستې فتحه شوې، قومندان امان چې مهم قومندان و هغه له منځه ولاړ، دې پوستو کې درې ټانګونه تخریب شول، یو ټانګ مجاهدینو ونیو، یو خلوېښت میله خفیفه او ثقیله اسلحه پکې غنیمت شوه.

دوهم عملیات زموږ د زارې پر ولسوالۍ و چې د ولسوالۍ مرکز، امنیه قومندانۍ او ټولې دفاعي پوستې فتحه شوې چې هغو کې دوه ټانګونه او دوه رنجرې د دښمن تخریب شوې، تر ۴۰ پورې د دښمن عسکر پکې ووژل شول او ۱۴ یې ټپیان لرل، څلور کسان اسیران وو او تر ۳۰ میله پورې سپکه او درنده وسله یې مجاهدینو غنیمت کړې، په دې عملیاتو کې خپله د زارې امنیه قومندان ټپي شو چې وروسته د ټپونو له امله قتل شو.

زموږ په سترو عملیاتو کې دریم عملیات د شورتپې ولسوالۍ پر امنیه قومندانۍ او دفاعي پوستو باندې و، دا ډېر بریالي عملیات و چې د شورتپې ولسوالۍ امنیه قومندانۍ هم فتحه شوه، دفاعي پوستې یې هم فتحه شوې، په شورتپې ولسوالۍ کې موږ ډېرې لاسته راوړنې لرلې، په دې ولسوالۍ کې د دښمن تر ۴۰ پورې عسکر قتل شول، دوې رنجرې غنیمت شوې او ۱۴ عسکر یې اسیران شول چې په هغو کې دوه کسان ټپیان وو چې د همدردۍ له امله خوشې شول او ۱۲ کسان یې اوس هم له موږ سره اسیران دي، په دې کې هم تر ۳۵ میله پورې خفیفه او ثقیله وسلې غنیمت شوې، په دې عملیاتو کې د مجاهدینو هیڅ ډول تلفات نه و او په زارې ولسوالۍ کې یوازې دوه تنه مجاهدین سطحي ټپیان وو چې دا د الله تعالی خاص نصرت و او د الله تعالی په کومک او نصرت دا عملیاتونه ترسره شول.

سره له دې چې دښمن بلخ ولایت ته ډېر متوجه و او دوامداره چاپې یې اچولې او د مجاهدینو د عملیاتو تر پیل کېدو ۵ او یا ۱۰ منټه وروسته به الوتکې سیمې ته رسېدلې، خو موږ د یوه پروګرام له مخې عملیات پر مخ بیول، د زارې ولسوالۍ د بلخ ولایت د مرکز مزار شریف په جنوب کې په یوه غرنۍ سیمه کې موقعیت لري چې هلته به مو عملیات وکړل او د الله تعالی په نصرت به په ډېره بریالۍ توګه ترسره شول، کله چې به دښمن ورته متوجه شو، نو په شورتپه ولسوالۍ کې به مو چې د بلخ په شمال کې د ازبکستان او ترکمنستان سرحدي ولسوالۍ ده، عملیات ترسره کړل، نو په مجموع کې درته ویلی شو چې د دښمن له ډېرې توجه او زور اچولو سره-سره په بلخ کې مجاهدینو ډېربریالي عملیات ترسره کړل چې دا یوازې د الله تعالی نصرت او د مجاهدینو اتفاق، وحدت او اخلاص و چې الله تعالی دا فتوحات موږ ته رانصیب کړل.

پوښتنه: تر جهادي بریاوو ور هاخوا د تعلیم او تربیې په برخه کې څومره فعال یاست، څومره مدرسې او ښوونځي په سیمه کې فعال دي او تاسو یې په اړوند څه کړي دي؟

ځواب: د تعلیم او تربیې په اړه دا درته ویلی شو چې د بلخ ولایت په هره ولسوالۍ او آن په هر کلي کې مدرسې شته، د مدرسو تر څنګ ښوونځي هم شته، په بلخ ولایت کې د یتیمانو لپاره یو دار الایتام ترتیب او ودانۍ یې هم جوړه شوه چې له تېر کال راهیسې په دې مدرسه کې د اوسني جهاد او تېر جهاد د مجاهدینو د زامنو او یتیمانو روزنه او پالنه کېږي، د اسلامي امارت د معارف کمیسیون له دار الایتام سره د اعاشې او د استاذانو د تنخوا په برخه کې همکاري کوي اوزموږ د ولایت له لوري هم همکاري کېږي، دا هم درته ویلی شو چې سږ کال زموږ په ۱۴ ولسوالیو کې په هره ولسوالۍ کې دې ته ورته مدرسې جوړې شوې، ښوونځیو ته هم زموږ توجه شته، د بلخ په دې ولسوالیو کې تر ۳۰ پورې ښوونځي جوړ او فعال شوي چې هره ولسوالۍ کې د وګړو د شمېر په بنسټ تر څلورو پنځو پورې ښوونځي شته.

معارف ته موږ ډېره پاملرنه کړې، کوم عواید چې مجاهدین لري د زراعت او داسې نورو له لارې، له هغو څخه چې کومه فیصدي مجاهدینو ته ورکوو، مدرسو ته هم ددې عوایدو یوه برخه ورکوو، د مدارسو د شاګردانو او استاذانو په اندازه مو پیسې چې تر ۸۰ لکو پورې وې د ټول ولایت له عوایدو را جلا او د معارف کمیسیون مسؤل ته مو ورکړې، تر څو یې په مدرسو وویشي، ددې لپاره چې په دې پیسو سره د ښوونې او روزنې، دین او د علم د پرمختګ په لاره کې کار ترې واخیستل شي.

د معارف په اړه درته ویل شو چې په دې برخه کې ډېر کار شوی، یوازې په سږ کال کې تر ۲۰ پورې مدارسې جوړې شوې، تر ۳۰ پورې د مکاتبو تعمیراتي کارونه شوي او فعال شوي دي، نو د معارف کارونه ښه روان دي، د پوهنې د کمیسیون د مسؤل او زموږ د ولایتي ملګرو له لورې پوره توجه ورته شته.

پوښتنه: که د بیا رغونې په برخه کې ستاسو لاسته راوړنې راته ووایاست چې سږ کال مو څه پرمختګونه لرل.

ځواب: د بیارغونې په برخه کې سږ کال موږ له بلخ ولسوالۍ څخه بیا تر شاهي پورې او بیا هغې خوا ته تر شورتېپې پورې او د بلخ او چهار بولک د پلو او سړکونو ډېر کارونه شوي، بالفعل هم د چمتال په ولسوالۍ کې چې لارې یې ډېرې خرابې وې، د مجاهدینو له لورې د سړکونو د ژغل اندازۍ او جوړولو کار روان دی، له بلخ ولسوالۍ نه تر شاهي پورې په ۴۰ کیلومتره سړک هم د بیا رغونې کار روان دی، دې برخه کې توجه شته، ډېر سړکونه او پلونه جوړ شوي او په نورو اوس کار روان دی، ځیني فرعي سړکونه چې د خلکو او مجاهدینو ورته ضرورت وو چې د پوستو او بیسونو په څنګ کې په مشکلات ورته پېښېدل، هغه هم د مجاهدینو له لورې په تېر کال کې جوړل شول، اوس هم په چمتال کې د سړک د ژغل اندازۍ کار روان دی.

پوښتنه: په مفتوحه سیمو کې که د خپلو تشکیلاتو راته ووایاست چې کومې برخې فعالې دي او څومره کار شوی.

ځواب: په بلخ ولایت کې چې کوم تشکیل د اسلامي امارت او کمیسیونونو په سطحه شته، هغه فعال دی، ولسوالیو کې ولسوالان، د هغوی مرستیالان،د معارف کمیسیون مدیران، د موسساتو کمیسیون مسؤلین او کمیسیونونه شتون لري، په ولایت کې د ولایت د ریاستو تشکیلات پوره دي، د ولسوالیو په سطحه چې کوم مدیران دي، مکمل تشکیل یې لرو، له دهدادي ولسوالۍ پرته چې د مزار شریف په ښار کې قرار لري او جهادي فعالیت پکې روان دی، نور د ټول ولایت لپاره زموږ تشکیلات پوره دي، د هرې شعبې او هرې څانګې مسؤلین او کارکونکي خپلو کارونو ته متوجه دي او خپل کارونه پر مخ بیایي، که موسسات دي، معارف دی او استخبارات دي، مسؤلین ښه ورته متوجه دي، د هر ولایت چې اداري او نظامي تشکیل پوره وي، هلته بیا مشکلات هم نه وي، څکه هر مسؤل د خپلې څانګې او برخې کار پر مخ بیایي او د نورو په کارونو کې مداخله نه راځي چې په دې سره بیا کارونه ښه روان وي.

ډېره مننه چې له زیاتو مصروفیاتو سره مو موږ ته وخت راکړ.

تاسو ته دې هم الله پاک خیر درکړي چې د مرکې وخت مو راکړ او الله تعالی مو خدمتونه قبول کړه.

دبشري حقونو« دنړیوال منشور» د لمانځنې!

ابوظهیر

که دماتم ورځ...؟

دا توري چې لیکم،د (۲۰۱۹)ز کال دسمبر میاشت ده، په دې میاشت کې نړیوال دبشري حقونو ورخ لمانځي، اوپه اړه یې مختلفوهیوادونوکې دحقوق بشر ورځې لمانځلوپه مناسبت سیمنارونه اوغونډې جوړیږي، ځکه په ۱۹۴۸ز کال په دسمبرمیاشت کې دملګرو ملتونوجنرال اسمبلۍ دبشري حقونوپه عنوان یو نړیوال منشورمنظورکړی و،کوم ته چې نن سبا په نړیواله سطحه دنړیوال قانون په نظرکتل کېږي، دبشري حقونوپه دغه منشور یاقانون باندې دنړۍ دنیږدې ټولوهیوادونو لخوا لاسلیکونه شوي دي، او په کلکه یې دمنلو اوپلي کولو ژمنه کړې.

دهمدې قانون لاندې نړیوالې اداري اوټولنې په ټوله نړۍ کې فعالیتونه کوي او دسرغړونې په صورت کې سرغړونکي هیوادونه یالوري دنړۍ دلویو اووړوهیوادونولخوادسخت سرزنښت سره مخ کېږي،دنړۍ له ټولوهیوادوڅخه کلنې راپورونه په دې غرض چمتوکولی شي،چې هلته دحقوق بشرنړیوال قانون پایلې وارزوي، هغوی درسنیو له لارې په ټوله نړۍ کې داتبلیغات خوروي چې په فلاني، فلاني هیواد کې دحقوق بشرنړیوال قانون څخه دا؛ داسرغړونې شوې دي؟ رسنیوکې دسرغړونکو هیوادونو پخلاف مقالې اومضامین هم لیکل کېږي،او پرضد یې دپروپاګند اوتبلیغ نه تم کیدونکې لړۍ پیل کېږي،دسرغړونو په تورله تورنوهیوادوڅخه پوښتنې وګرویږنې کوي،اودبشري حقونودنړیوال قانون له مخې دهغوی کره وړه ارزول کېږي اوپه اړه یې اړونده حکومتونه متوجه کولی شي اوهم دبېلابېلو لاروڅخه پرې فشارونه اچول کېږي.

اودیرځلي دځینوهیوادونوپرضد عملي ګامونه هم اخیستل کېږي، اقتصادي پریکړون اوبندیزونه پرې لګوي،په کوموهیوادوکې چې دنړیوالو زبر ځواک هیوادو ګټې اوپټې معاملې له ګواښونو سره مخ کېږي هلته سملاسي دپوځې یرغل تابیا کوي اوهغوی دځواک په کارولو سره دخپلې ارادې منلوته اړکوي، ولسونه یې له فضانه په بمباردونو ځانو ته تابع کول غواړي،اوپه دې توګه بیرته پاته هیوادونواو ولسونوباندې دخپلو وسلو دازمایلوشوق پوره کوي.

یوه نړیواله محکمه هم شته چې هغې ته دهیوادونواوقومونوترمنځ تنازعات دپریکړولپاره وړل کېږي، نړیواله محکمه هغه پریکړې کوي،چې دملګروملتونواصلي څښتنان یې غواړي، اویا دهغوی سیاسي او اقتصادي ګټو خوندي کولولپاره اړینې وي،او بیا

پرهغوپریکړودعمل کولو چارې هم هغوی برابروي، یوه جنرل اسمبلي هم شتون لري،چې په کال کې یوځل یې غونډه جوړېږي، اودنړۍ دمختلفو هیوادونوڅخه ولسمشران یا صدراعظمان ورته داستازوپه صفت بلل کېږي،هغوی هلته دخپلوزړوبړاس ویستو لپاره لنډې او اوږدې وینااوې کوي،ورته خپل مسائل اوستونزې وړاندې کوي، پرهغوبحثونه اوپوبل سرهه مکالمې هم کوي چې دهغه په نتیجه کې پریکړه لیکونه هم منظوروي، لیکن پرهغوعمل کول بیا دامنیت شورى ترصواب دیده اړه لري؛ اوبشکاره ده چې امنیت شورى چې دکوموهیوادونوڅخه جوړه ده، هغوی په حقیقت کې پخپله دحقوق بشر دنړیوال منشور ناقضین دي،هغوی هیڅکله دخپلو هیوادونو یا هیوادوالو پرخلاف او یا په نړۍ کې د خپلو استعماري سیاسي حلیفانوپرضد دکوم گام پورته کولو اجازه نه ورکوي، داسې هرگام سملاسي هغوی دویټو ځواک په کارولو سره بې تاثیره گرځوي.

په ملگروملتونوکې دپریکړوکولواصل مرجع «امنیت شورى ده» کومه چې پنځه دایمي غړي لري، امریکا، برتانیه،فرانسه، چین او روسیه،داپنځه واړه هیوادونه ویټوځواک لري، پر مټ یې په نړیواله سطحه هره هغه پریکړه چې د دوی دگټو اوسیاستونو اویا د دوی دسیاسي او اقتصادي حلیفانوپرضد وشي، په ویټوکولوېې مخنیوي کوي، په دې وجه هیڅ پریکړه دهغوی دخوښې پرته نشي کیدای، یادوپنځو هیوادوڅخه هرهیوادکولی شي هرهغه پریکړه یا قرارداد ویټوکړي چې د دوی لپاره اهمیت ونلري چې دویټویعنې مسترد کولو وروسته هغه پریکړه یا منظورشوی قرارداد هیڅ قانوني حیثیت نلري

په هغوی سربیره امنیت شورى لس غیرمستقل غړي لري،کوم چې دمختلفو براعظمونو څخه دوه کلو لپاره ټاکل کېږي،هغوی درایې ورکولو حق لري، امنیت شورى ته دهرې قضیې وړاندې کولواوهلته پرې دبحث کولوحق لري،خو دا دواړه حقونه یې هغه مهال خپل اهمیت له لاسه ورکوي چې کله دپنځو لویو زبرځواکونوهیوادوڅخه یویې دویټو په توره وهلوته لاس کړي...

نوپه دې ډول ملگري ملتونه عملاً په نړۍ باندې نړیوال حکومت کوي، خواجرآت یې دیادوپنځوهیوادونو تر خوښې،گټو اوصوابدیدپورې منحصردي، هغوی حق لري چې کوم څیزروا اوکوم ناروا وگڼي، دنړۍ هیوادونو، قومونو او وگړو لپاره چې کوم حقوق مني او کوم نه!

دملگرو ملتونو جنرل اسمبلي لخوا په کال ۱۹۴۸زکې ددسمبرپه ۱۰مه نیټه په دیرش مادو مشتمل دبشري حقوقو نړیوال منشور منظورکړای شو، چې په سریزه یا تمهید کې یې دا لاندې موخې اومقاصد بیان کړي دي:

=: دهرانسان ذاتي عزت،حرمت اودانسانانومساوي او ناقابل انتقال حقوق منل نړۍ کې دازادۍ، انصاف اوامن اساس دی .

=:دبشري حقونوڅخه لاپروائي او دهغوی بې حرمتي زیاتره دداسې وحشیانه افعالُ په شکل کې ظهورکوي چې دبشریت ضمیرته ترې سخت اذیت رسي،اودعاموانسانانو سره تل دالوړه ارزوملـه وې چې یوه داسې نړۍ په وجودکې راشي چې پکې ټول انسانانوته په ازادۍ سره دخبروکولو او پخپلو عقایدو د پاته کیدو حق حاصل وي او له کوم ډاراواحتیاج پرته خوندیتوب ولري

=:چون داډیره ضروري ده چې دبشري حقونوقانون دپلي کولو له لارې خوندي کړای شي، که موږ دانه غواړو چې انسان دیته اړکړای شي چې هغه دجبر او استبداد پر ضدبغاوت کولوته اړیستل شي

=:څنگ چې دملگرو ملتونو غړوهیوادونو او قومونو پخپل منشور کې د بشر د اساسي حقونو، د انساني شخصیت دحرمت، اوقدر،اودنارینه او میرمنوترمنځ د مساوي حقونو په باره کې دخپلې عقیدې دویم وارتصدیق کړی دی او دازادۍ په پراخه فضاکې اجتماعي پرمختگ ته دتقویت ورکولو لپاره اودژوندانه معیار دلوړولواراده کړې ده

=: دا چې ملگرو هیوادونو عهد کړی دی چې هغوی دملگرو ملتونوسره په همکارۍ په ټوله نړۍ کې اصولاً اوعملاً دبشري حقونواواساسي ازادیو ته زیات نه

زیـات درنـاوی لـري او هـم دي نـور درناوي ته راوبولي

=:چون ددي عهد دتکمیل لپاره ډېره مهمه ده چې دبشري حقونو اوازادیوپه نوعیت دي ټول خپل سرونه خلاص کړي

=:جنرل اسمبلي اعلان کوي چې دبشري حقونونړیوال منشور دټولو ملتونو لخوا دمقاصدو لاسته راوړو مشترک معیار به وي، څو هر فرد او ټولنې هروګړی، هره اداره، تل دامنشورپه پام کې ولري، دتعلیم وتبلیغ له لارې دي ددي حقوقو او ازادیواحترام پیداکړي، او دقومي اونړیوالوهمکاریو له لارې دي په غړوهیوادوکې اوپه هغوقومونو چې دملګرو هیوادونوتر واک لاندې قرارلري دمنلو لپاره تدریجي کوښښونه وکړي.

لیکن نن ۷۱ کاله وروسته چې کله دبشري حقونو نړیواله ورځ لمانځل کېږي،که په نړۍ کې دبشریت پرحالت اونړیوال کشمکش باندې نظر واچول شي نوپه ۱۹۴۵ زکې رامنځته شوې نړیواله ټولنه اوپه ۱۹۴۸ زکې منظور شوی نړیوال منشوربشریت ته څومره نیکمرغي اوخوشالي ببښلې؟ یاپې بشریت ته څومره عزت اودرناوی ورکړی؟ ایا ددي منشورپه منظورولو سره نړۍ کې تنازعات څومره راکم شوي دي؟ او په نړۍ کې میشت ٦ملیارده انسانانوته یې کوم، کوم حقوق ورکړي دي ؟

غربیانو په خاصه توګه امریکایان دبشري حقوقو نړیوال منشور منظورول دغرب اود امریکا کارنامه بولي، هغوی خپلو وړاندینو سیاسیونوته پیروزینې وړاندې کوي چې هغوی دا لویه کارنامه سرته رسولې! خوکه راشو دیته چې پخپله دامریکا او غرب رویه دنورې نړۍ دانسانانو دحقوقوپه اړه څه ډول ده؟ په خاصه توګه دبشري حقوقو په باره کې دامریکا خپل عملي کردار څه دی؟ لیکن ددي ځواب ویلولپاره امریکااو غربیان اړتیا نه محسوسوي،که څه هم دبشري حقوقو ځینومدافع ټولنو لخوا دبشري حقوقو نه دسرغړونکوهیوادو په قطارکې دامریکا نوم په ځلونو یاد شوی دی او دهغو له مخې دامریکا اصلي څېره بې نقابه شوې ده، ډېرلري تلل ندي پکار زموږ په هیواد کې چې دتیرو ۱۹کلونو راهیسې امریکا په کوموبربنډو بشري جنایتونو اووحشتونو کې ښکېل ده هغه پټ ندي، ترې دا ندازه کېږي چې امریکا دوه مخي کردارلري، هغه دخپل هیواد خلکو لپاره دبشري حقوقو ددرناوی له پلوه یوه پیمانه اوبوتعریف لري اودنورې نړۍ خلکوته جلا پیمانه اوجلاتعریف!. چې له امله یې دامریکا لاسونه دبشریت په وینوسره دي او هغه یواځي امریکایان دبشري حقونو دنړیوال منشورمستحق بولي دپاته نړۍ دبشرسره دبشرپه څیربرخورد نکوي، دهغه عزت، حرمت او وقارته احترام نلري

بشري وروروليې او دهغې دملګروهیوادواوولسونو ترمنځ دمساوات کومه ناره چې دتیرو ۷۱ کلوراهیسې نړیوال اوري، دحقیقت یې داحال دی چې برلاسي پنځه هیوادونه هر دلیل او منطق دخانونوپه حق کې غیرمؤثربولي، دهغوی له منځه هریو دخپل صواب دید له مخې د ټولې نړۍ دقومونو اوخلکومتفقه پریکړه ردکولي شي اوس که ددي کار نوم دملتونو اوهیوادونو ترمنځ مساوات او انصاف وي نودعدل، انصاف، مساوات، جبر، ظلم، ناانصافي او بیعدالتي پشان الفاظو لپاره په لغاتوکې دنویومعنی ګانو تعینول پکاردي

دځواکمن، اوبې ځواکه د بدای اونیستمن ترمنځ توپیر له منځه وړل او دنړۍ ټولو انسانانوته د مساوي حقوق ورکولو لپاره

دملگرو ملتونودعوې: هيڅ عملي حقيقت نلري، بلكې پخپله د دوى لخوا نشرشوي راپورونه ددي ښكارندوى دي چې دغه ټولنه د نړيوالو دستونزو په هوارولو كې پاته راغلي

څو كاله وړاندې دملگروملتونو دخوړونړيوالې اداري وويل:چې تر۲۰۱۵ زكال پورې به نړۍ كې دخوړوقلت نيمايي ته را شي اوهرپنځه ثانيې پس به يوماشوم دولوږې څخه ژوند له لاسه وركوي دیادې اداري لخوا په كلني راپوركې راغلي وو چې هركال به ۵۰لكه ماشومان مري، په نړۍ كې دزياتيدونكي غربت په اړه دملگرو ملتونو خوړواداره اصلي حقيقت پټولو كوښښ كوي حال داچې اصلي وجه دخوړوكمښت ندى، بلكې دوسائلو اودولت غيرمنصفانه ويش دى، چې له امله يې د نړۍ لويه برخه خلك دغربت اوفقرتركرښو لاندې ژوند تيرولوته اړيستل شوي زكه چې دملگرو ملتونولوى اجاره داران هيوادونه ددې غيرمنصفانه ويش علمبرداران دي دهغوى له ډاره دملگرو ملتونو نړيواله اداره دا يادونه نكوي او نه ددې ستونزې اصلي حل وړاندې كوي، بلكې ددې پر ځاى پخپل راپوركې بس دومره ويلي چې بډاى هيوادوته پكارده چې هغوى په دې لړكې نوركار هم كړي...

اسلامي نړۍ په اړه چې دلويديځې نړۍ اوپه خاصه توگه دامريكا كوم طرزعمل ليدل كيږي، اواسلام پر ضد څومره معاندانه او دپروپاگند نه ډكه رويه لري، ددې اعتراف پخپله دملگرو ملتونو پخواني سكرترجنرال كوفي عنان څوكاله وړاندې په يوه ويناكې كړى، خو كله چې دهغه نه پوښتنه شوه چې ددې ستونزې دحل لارو چاروپه اړه په كومه يوه با واكه اداره كې بحث هم كيداى شي، په ځواب كې خپل سرپه نفي وښوراوه! نو ابرقدرت هيوادو په وړاندې دملگروملتونو بيواكې بيوسې ترې دې كچې رسيدلې چې امريكا په عراق باندې د درواغجنو تورونو په لگولو دملگرو ملتونونړيوالې اداري له اجازې پرته حمله وكړه او هلته يې لكونه مسلمانان په شهادت ورسول او عراق كې يې هغه حكومت رنگ كړ چې هغه دملگرو ملتونوپه گډون ټولې نړۍ په رسميت پيژندلى و، ليكن ملگروملتونو لخوا دامريكا پخلاف يوگام هم پورته نشو،په ورته توگه اسراييل دوامداردملگروملتونوپريكړاوادامنيت شورى مصوبې مستردكوي اوپه ښكاره اوبرملا سرغړونې كوي ،دنړيوالې محكمې پريكړې نه مني ليكن پرضدېې هيڅوک گام نه پورته كوي.

نن چې دافغانستان څخه ترفلسطين پورې مسلسل دمسلمانانوحق تلفي كيږي، امريكا دمسلمانانو پخلاف وسلې استعمالوي، دغربيو هيوادونو ازادي او اقتصادزندى كوي ملگري ملتونه يا گام په گام دامريكا دحكم سره سم لگيادي دامريكايي گټودخونديتابه پروسه پرمخ وړي اويا دامريكا په ظلمونو او ناروااو يې سترگې پټې كړي او په پټوسترگوېې ننداره كوي، لنډه داچې دبشري حقونو نړيوال منشوردامريكا او غربي هيوادونو لپاره په نورو بيرته پاته هيوادونو ديرغلونو لپاره يوه پلمه يا وسله ده چې پر مټ يې غواړي خپل سياسي، پوځي او اقتصادي مخالفين وځپي اوددې لپاره دځينوهيوادو نوپه اوړودخيل توپک په اينبودو غواړي خپل مخالفين په نښه كړي

نوپه داسې حالاتوكې ددې پرته نورڅه ويلى شو چې دبشري حقوقونړيوال منشور ورځې لمانځل او دمنظورولو په مناسبت يې خوشالي ښكاره كول بې ځايه ده بلكې دامريكا او غرب ته دبشري حقونو دنړيوال منشورپه بهانه دبشريت په بيحرمتى اوسپكاوي ماتم پكاردى چې دنړۍ دځو زبر ځواكو هيوادونوپه لاس ټوله نړۍ يرغمال شوې ده، دنړۍ بيرته پاته هيوادونه دخپلو حقونواو ازاديونه محروم كړاى شوي دي په خاصه توگه اسلامي نړۍ دامريكا او غربي هيوادودتجاوزاتوپه وجه ماتم كده گرځيدلې اودخپلو طبعي وسايلو اوشتمنيو نه مسلمانان محروم كړاى شوي دي، يواځې دمرگونو اوجنازوپورته كولو كوربانه دي ، دلاشونواومړوپه راټولولو يې بوخت كړي دي نوپه داسې يوبدمرغه چاپيريال كې دحقوق بشر دنړيوال منشور ورځ لمانځل نه يواځې انصاف ندى بلكې دادټول بشريت نه ښنونكى توهين اوسپكاوى دى.

منظمة التعاون الإسلامي
Organization of Islamic Cooperation

۵۰ سالگی سازمان همکاری اسلامی؛

داستان طولانی ناکامی ها

حبیبی سمنگانی



سازمان همکاری اسلامی (OIC) به تاریخ ۲۵ سپتمبر ۲۰۱۹ میلادی پنجاه ساله شد. این سازمان که تا سال ۲۰۱۱ میلادی به نام «سازمان کنفرانس اسلامی» یاد می شد در سال ۱۹۶۹ در واکنش به آتش کشیدن مسجد الاقصی از سوی یهودیان جنایتکار، به درخواست مفتی اعظم آن وقت فلسطین الحاج امین الحسینی، با حضور رهبران و نمایندگان ۲۴ کشور های اسلامی به دعوت شاه مراکش، در رباط پایتخت آن کشور تاسیس شد.

این سازمان با داشتن ۲۷ اعضا از قاره افریقا، ۲۷ اعضا از قاره آسیا، ۱ عضو از قاره اروپا و ۲ عضو از قاره امریکای جنوبی، در کل ۵۷ عضو از چهار قاره دارد. به استثنا از فلسطین، سائر اعضای این سازمان اعضای سازمان ملل متحد نیز هستند.

سازمان همکاری اسلامی با نمایندگی از کمتر از دو ملیارد مسلمانان جهان، دومین سازمان بزرگ جهان پس از سازمان ملل متحد شمرده می شود. کشورهای که اکثریت جمعیت آن را مسلمان ها تشکیل می دهند، عضو این سازمان شده می توانند.

دفتر مرکزی این سازمان در شهر جده، عربستان سعودی است، اما دفتری در نیویارک، ایالات متحده امریکا نیز برای ارتباط و هماهنگی با سازمان ملل متحد دارد و موقف خود را در قبال اسلام هراسی (Islamophobia) و حقوق بشر با سازمان ملل شریک می کند.

این سازمان مذهبی که خود را صدای جمعی جهان اسلام می داند، در چنان روزگار بحرانی بنیان گذاری شد که چهل و هفت سال از پایان خلافت عثمانی، آخرین خلافت مسلمان ها در روی زمین گذشته بود و مسلمانان درمانده و پراکنده جهان از نداشتن پشتیبانی و همبستگی منظم بسیار رنج می بردند. اگر چه خلافت عثمانی هم در آخرین سال های خود با مشکلات گوناگونی دچار و از دست و پا مانده بود، اما بسیاری مسلمان ها باز هم به آن می بالیدند و خود را تسلیت می دادند.

همچنان شکست فاش کشورهای عربی در جنگ شش روزه در برابر اسرائیل، که در وسط سال ۱۹۶۷

میلادی رخ داد و منجر به سقوط مناطق زیادی کشور های عربی به دست اسرائیل گردید، از عوامل عمده تاسیس سازمان همکاری اسلامی شمرده می شود. گویا هدف از ایجاد این سازمان، سعی برای حفاظت و حمایت از جهان اسلام بود.

اما ایجاد این سازمان، جنبه دیگری هم داشت. آن زمانی بود که جهان در بلاک های شرق و غرب تقسیم بود. کشورهای اسلامی نیز از این گروه بندی مصئون نبودند. کشور مصر به رهبری جمال عبدالناصر، طرح این سازمان را توطئه امریکا برای کنترول بر جهان عرب می دانست. جمال عبدالناصر که فکر سوسیالیستی و ناسیونالیستی/پان عربیسم داشت و از بنیان گذاران جنبش عدم تعهد نیز بود، در اجلاس اول سران این سازمان در ۱۹۶۹ میلادی در مراکش اشتراک نکرد. کشورهای سوریه، عراق، یمن جنوبی و سودان نیز این اجلاس را تحریم کرده بودند.

اجلاس سران این سازمان پس از هر سه سال در پایتخت یکی از کشورهای عضو سازمان دائر می گردد. کشور میزبان برای سه سال بعدی، ریاست این سازمان را به عهده می گیرد. تا اکنون چهارده نشست سران این سازمان در کشورهای مختلف (مراکش، پاکستان، عربستان سعودی، کویت، سینگال، ایران، قطر، مالیزیا، مصر و ترکیه) برگزار شده است. نشست اخیر با میزبانی عربستان سعودی به تاریخ ۳۱ می ۲۰۱۹ میلادی در مکه برگزار شد. وزرای خارجه اعضای این سازمان نیز سال یکبار گردهم می آیند. سازمان همکاری اسلامی تا اکنون هفت بار نشست های اضطراری نیز پیرامون موضوعات مختلف برگزار کرده است.

منشی عمومی/دبیر کل این سازمان از سوی شورای وزیران امور خارجه از میان اتباع کشورهای عضو سازمان، برای پنج سال انتخاب می شود. در ظرف پنجاه سال، ده نفر به حیث منشی عمومی سازمان همکاری اسلامی وظیفه انجام داده اند. اکمل الدین اغلو، استاد، نویسنده و سیاستمدار ترکیه برای ده سال – از ۲۰۰۴ تا ۲۰۱۴ میلادی – این وظیفه را به پیش برد. یوسف العثیمین، سیاستمدار عربستان سعودی از سال ۲۰۱۶ میلادی به اینسو، به حیث منشی عمومی سازمان همکاری اسلامی کار می کند.

کشورهای قبرس از ۱۹۷۹، بوسنی و هرزگوین از ۱۹۹۴، جمهوری افریقای مرکزی از ۱۹۹۶، تایلند از ۱۹۹۸، روسیه از ۲۰۰۵ و هند از ۲۰۱۸ با داشتن جمعیت بزرگ مسلمان ها، به عنوان ناظر درین سازمان حضور دارند. اگر چه ۵۱ در صد جمعیت بوسنی و هرزگوین را مسلمان ها تشکیل می دهند، اما این کشور هنوز عضو رسمی سازمان همکاری اسلامی نیست.

اگر دستآوردها و ناکامی های این سازمان ارزیابی شود، شکی نیست که نامه اعمال این سازمان، دستآوردهای انگشت شمار و ناکامی های بی شمار را در خود جا داده است. حل معضل دولت اردن و سازمان آزادی بخش فلسطین (PLO) در سال ۱۹۷۰ میلادی توسط هیئت مشترک سازمان همکاری اسلامی و اتحادیه کشورهای عرب، از دستآوردهای قابل ذکر این سازمان به یاد می رود. دران هیئت، بادشاه عربستان سعودی شاه فیصل از سازمان همکاری اسلامی و جمال عبدالناصر از اتحادیه کشورهای عرب نمایندگی می کردند. خروج قشون سرخ شوروی از افغانستان نیز از کارنامه های این سازمان به شمار می رود.

فهرست ناکامی های این سازمان بسیار دراز است. هنوز دو سال از تاسیس سازمان همکاری اسلامی به هدف هماهنگی میان جهان اسلام گذشته بود که پاکستان غربی و شرقی در نتیجه مداخله صریح نظامی هند از هم جدا شدند و پاکستان شرقی به کشور مستقلی به نام بنگلادیش تبدیل شد.

همچنان تلاش های این سازمان برای پایان دادن جنگ ایران و عراق که از ۱۹۸۰ تا ۱۹۸۸ میلادی دوام کرد و منجر به کشته شدن تقریبا یک ملیون نفر از جانبین شد، ناکام ماند. این جنگ هشت ساله تخمینا ۱۱۸۸ ملیارد دالر خسارات مالی به هر دو جانب وارد کرد.

تیز تیمور شرقی، منطقه ای در جنوب شرق آسیا، که بخش اعظم باشندگان آن را مسیحیان تشکیل می دهند و از ایالت های کشور اسلامی اندونیزیا بود، در

سال ۲۰۰۲ میلادی توانست با پشتیبانی کشورهای غربی و سازمان ملل متحد، استقلال خود را در نتیجه رفراندوم به دست آورد و به نام جمهوری دموکراتیک تیمور شرقی به عنوان کشور مستقل شناخته شود.

سودان، که بزرگ ترین کشور قاره افریقا و جهان عرب بود، در سال ۲۰۱۱ دو پارچه شد و بخشی از آن به نام سودان جنوبی، که بیشتر اتباع آن مسیحیان هستند، به حیث کشور جداگانه ای در جغرافیای جهان به وجود آمد.

همچنان با آغاز قرن جدید میلادی، افغانستان، عراق، لیبیا، سوریه، سومالیا و چندین کشورهای اسلامی دیگر مورد تهاجم و اشغال ناروای امریکا و جهان غرب گردید. نقش سازمان همکاری اسلامی درین همه موارد ناپیدا و بی ارزش بود.

از همه مهم تر اینکه بیشتر نشست های سران و وزرای خارجه این سازمان بر معضل فلسطین چرخیده است. اما با گذشت پنج دهه، نه تنها هیچ تغییر مثبتی در زندگی فلسطینیان نیامده، بلکه روزگار فلسطین به مراتب وخیم تر گردیده است. اسرائیل هر گاهی بخواهد بخش های از خاک فلسطین را تصرف نموده، شهرک های یهودی نشین می سازد، بلکه اکنون تمام زمین و فضای فلسطین در سیطره یهودیان قرار دارد. قابل ذکر است که پس از ۱۹۶۷ میلادی، اسراییل با ساختن بیش از ۲۵۰ شهرک های خورد و بزرگ در مناطق اشغالی فلسطین، حدود ۶۵۰ هزار یهودیان را دران جا آباد ساخته است. در حالیکه بنا بر اصول حقوق بین المللی اعمار شهرک ها در مناطق اشغالی، غیر قانونی است.

نقش سازمان همکاری اسلامی در قبال ایجاد هماهنگی بیشتر و روابط دوستانه میان کشورهای عضو سازمان نیز زیر سوال است. روابط کشورهای مهم اسلامی با یکدیگر روز بروز بدتر می شود. واقعیت اینست که امروز بیشتر کشورهای اسلامی در سطح منطقه و جهان با یکدیگر دست و گریبان اند و جهان کفر تماشا دارند. مسلمان ها به حدی با هم خصومت دارند که آماده هستند بر ضد یکدیگر با کشور نامشروع اسراییل عهد و پیمان دوستی ببندند. یکپارچگی کشورهای خلیجی از هم فروپاشیده و بحران داخلی یمن بر اثر مداخلات مغرضانه بعضی کشورهای اسلامی به فاجعه بزرگ بشری تبدیل شده است.

قابل ذکر است که کشور هند در اولین اجلاس سران سازمان همکاری اسلامی در ۱۹۶۹ تلاش کرد اشتراک کند، اما بر اثر واکنش پاکستان که هند کشور اسلامی نیست و نقض حقوق بشری مسلمانان منطقه جامو و کشمیر، از حضور در نشست پایانی آن، محروم ساخته شد. سپس هند کوشش کرد به حیث ناظر درین سازمان حضور یابد، اما چون در لایحه سازمان آمده بود که هر آن کشوری که با کدام عضو این سازمان مشکلی داشته باشد، نمی تواند عضو ناظر این سازمان باشد، گویا پاکستان از حضور هند به حیث ناظر هم جلوگیری کرد. اما حالا وضعیت تغییر خورده است. کشورهای خلیجی که تقریبا تمام کنترول این سازمان را در دست دارند، درین اواخر روابط بسیار خوبی با کشور هند دارند. بناءً لایحه سازمان تغییر داده شد و زمینه برای حضور هند به حیث ناظر فراهم شد.

شگفتآور اینست که سازمان همکاری اسلامی بجای اینکه از دولت هند در مورد برخورد ناشایسته با مسلمانان کشمیر جداً بازپرس بکند، وزیر امور خارجه کشور هند خانم سشما سوراج در ماه مارچ ۲۰۱۹ میلادی در ۴۶مین نشست سالانه وزرای خارجه سازمان همکاری اسلامی از سوی امارات متحده عربی به حیث مهمان ویژه دعوت شد. پاکستان به رسم اعتراض از اشتراک دران نشست خودداری کرد و واکنش تند نشان داد.

فشرده بحث اینست که سازمان همکاری اسلامی در جریان سفر پنجاه ساله خود نارسای ها و ناکامی های زیادی را در نامه اعمال خود ثبت نموده است. اما با توجه به وضعیت کنونی، چنان معلوم می شود که این سازمان از رسوایی های گذشته خود هیچ پند و اندرزی نگرفته است و آینده این سازمان از گذشته هم ناکام تر خواهد بود. حالا وضعیت به حدی رنجآور است که این سازمان از بی پروایی بسیار، فرصت صدور اعلامیه های رسمی برای تقبیح مظالم بر مسلمان ها و اهانت به ارزش ها و شعائر اسلام در نقاط مختلف جهان را هم ندارد.

د قیصاري ډرامه شمال ته

د سکاټ میلر د سفر خونړی محصول

عبدالرحیم ثاقب

د روان کال د لیندۍ د میاشتې په ۲۵مه د ګډ حکومت ځواکونو په مزار شریف کې د نظام الدین قیصاري د نیولو په پلمه د هغه پر کور برید وکړ چې تر ۳۰ساعته جګړې وروسته قیصاري له خپلو لسګونو وسله والو سره یوځای د ښار بلې سیمې ته ولیږدول شو.

په مزار شریف کې پر قیصاري دغه خونړی برید شمال ته د امریکایي ځواکونو د عمومي قومندان جنرال سکاټ میلر تر سفر دوه اوونۍ وروسته په داسې مهال کې پیلیږي چې د شمال په اوو ولایتونو کې د ډاکټرعبدالله لخوا د ټاکنیز انډو خر پر سر لانجه لا هم دوام لري.

پر نظام الدین قیصاري د برید په پیل کې د رسنیو لخوا دا خبرونه ورکړل شول چې یاد برید په اصطلاح د ولسمشر د لومړي مرستیال جنرال دوستم په امر پیل شوی دی، خو د برید تر پایته رسیدو وروسته بیا دا خبرونه خپاره شول چې قیصاري دوستم ته د معنوي پلار په ویلو سره هغه راضي کړی او د نوموړی په مټ د برید له ځایه شبرغان ، د جنبش مرکز ته رسول شوی دی!!

ارګ ، عدلي او قضایي مقاماتو او په کابل کې د ناټو چارواکو ټولو پر دې خبره ځان کوڼ اچولی چې ولې د مزار شریف غوندې په ګڼ میشته ښار او هلته هم په مسکوني سیمه کې پر قیصاري داسې برید کیږي چې په هغه کې له جنګي الوتکو نیولې تر شویلو، درنو وسلو او د دفاع وزارت تر ځانګړیو ځواکونو پورې هرڅه کارول کیږي چې له امله یې په سیمه کې ولسي- خلګوته درنه مرګ ژوبله اوړي او خپله قیصاري تري سرې سترګې خلاصیږي؟!

که په قیصاري باندې یاد برید ریښتیا هم د هغه د جنایت او بغاوت له امله وي نو همدا مجرم څو دری میاشتې وړاندې له دولتي ځواکونو سره بندي و ، چا هغه په ځانګړو الوتکو او خاصو تشریفاتو کې د خپل اصلي ولایت فاریاب په ځای مزار شریف ته ورساوه ، او د څه لپاره یې هلته ورته وسلې او دولتي امکانات په واک کې ورکړل؟!

حقیقت دا دی چې دغه ډول تخریبي کړنې ټولې د بهرنیو یرغلګرو د شیطانت محصول دي چې د افغانستان د مزیدې بې ثباتي او افغانانو تیت پرک کولو په غرض یې تر سره کوي.

په شمال کې د داعش تر ورکیدو وروسته امریکایان هلته د ګډوډې جوړولو لپاره مجبور دي نورې داسې پلمې ولټوي چې دوي ترې خپلو موخو ته د رسیدو لپاره استفاده وکړي.

جنرال دوستم ته د سکاټ میلر لخوا وروستی مډال ورکول هم د دې شیطاني ماموریت یوه برخه ده، ښایي د قیصاري تر برید وروسته پاتې سناریو جنرال دوستم د تر لاسه کړي مډال په پاداش کې بشپړه کړي.

د خوارجو د نشأة ثانیه!

محرکات او لاملونه

رحیمي

دادکال «۲۰۱۰ز»خبره ده، دنومیالي جیدعالم او دځواکمن دیني قلموال شیخ الحدیث مولانا «زاهد الراشدي» په قلم یولیکل شوي مضمون کې مې دالوستي وو چې« دسعودي عربستان پوهني وزارت دخپل هیواد دمختلفو ښوونځیو څخه شاوخوا دوه زره ښوونکي دافراطي او توندروی، افکاروخورولوپه تورله دندوڅخه گوښه کړي» هغه مهال مې دا برداشت واخیست چې دښوونکوشړلو لامل شاید سعودي شاهي رژیم ته د نه وفاداری، اوورڅخه دبغاوت یا مخالفت دکومې احتمالي قوي جتکې یا څپې کشفول وي چې په سبب یې سعودي واکمنو دا نهائي گام پورته کړی.

خو دوخت په تیریدو پوی شوم او راته جوته شوه چې نه یوازې دسعودي عربستان شاهي رژیم دافراطي رجحاناتو اودتوندروی، محرکاتو سیلاب په مخ اخیستی بلکې دجزیرة العرب او سیمې ځیني نور هیوادونه هم په دې باب ورخطاء او له گواښونوسره مخ دي،خو دیادولو وړده چې افراطي افکاریا دتوندروی اندونه نه یوازې په ځینو مذهبي رنگه علمي حلقاتوکې سرایت کړی اولیدل کیږي، بلکې دهغونه زیات په مغربي رنگ سیکولر حلقاتوکې یې ریښې غځولي، مثلاً نن څخه څه کم درې لسیزې وړاندې په الجزایرکې ددیني گوندونو یواتحاد (متحده محاذ) دهیواد په عامو انتخاباتوکې پراخ بری ترلاسه کړ،اوشاوخوا «۸۹سلنه» رایې یې وگټلې؛ لیکن په وړاندې یې دامریکا په مشری، سیکولرنړی، په حرکت راغله او له مخې تول سیکولرځواکونه دالجزایر دهغه دیني اوسیاسي اتحاد دبري په مقابل کې یوځواک شول او هلته (الجزیرکې) یې دجمهوریت له لارې دجوړیدونکي اسلامي حکومت دمخنیوي لپاره نه یوازې دانتخاباتوپایلې مسترد کړې، بلکې دهیواد دواک چارې یې مخامخ پوځ ته وسپارلې او دامریکا او غربي نړی، په ملاتړ الجزایري پوځ ددیني گوندونو او دهغودغړو پرځپلو او وژلولاس پورې کړ، او یوه ډیره بدمرغه کورنۍ جگړه یې رامنځته کړه چې دهغې جگړې ترتولو دردونکې اړخ بیا داښکاره شو چې دیني گوندونوددې پرځای چې ټولو په گډه دسیکولرستانو دمقابلې لپاره یومتحد اومنظم ځواک جوړکړی وای، متاسفانه هغوی پخپل منځ کې په یوبل دکفرفتوې لگول پیل کړل،او دالجزایرمسلمانان یې پخپل منځ کې سره په جنگ کې ښکېل کړل،ددې خپلمنځي تکفیرپه نتیجه کې شاوخوا یولک مسلمانان ووژل شول اوله امله یې دالجزایرڅخه دمسلمانانو دستر سیاسي ځواک جنازه ووته...

دالجزایر دیني ډلو اوگوندونو په یوبل د«تکفیریت مهرونو په وهلو» سره دلومړیوپیړیو(قرون اولی،) دخوارجو یادتازه کړ،چې په ورو، ورو خبرو به یې مسلمانان تکفیرول اوپر وریاندې بریدونه به یې کول، چې هغه مهال یې هم به زرگونه مسلمانان په شهادت ورسول، یوازې کله چې عراق کې بصرې ښار دخوارجوله لوري ونیول شو،شاوخوا ٦زره مسلمانان یې په شهادت ورسول او بیاکله چې کوفې ښارهم

دخوارجو مشر«ضحاک»قبضه کړ، هغه غوښتل چې د بصرې غمیزه په کوفه کې هم تکرارکړي،لیکن دامام ابوحنیفه رحمه الله همت اوزړورتیاکوفیان دخوارجو دشرڅخه وژغورل،څنګه چې نن ورځ په افغانستان کې دامام ابوحنیفه رحمه الله دفقهي مذهب پیروانو «علماوو اوطالبانو» ددې عصردخارجي فتنې دشرڅخه افغاني مسلمانان وژغورل؛

دخارجیانومشر(ضحاک) دکوفې والي« عبدالله بن عمرته» څوک چې دحضرت «عمربن عبد العزیز رضی الله عنه»څوی و، دشکست ورکولو وروسته کوفه ونیوه،اودکوفې جامع مسجدته زرګونه خوراج دتورو سره ور ننوتل اعلان یې وکړ چې کوفیانو! تاسو مرتدشوي یئ! ژرزموږ په لاس توبه وکړئ او دویم واراسلام قبول کړئ! کنه قتل به شئ!ددې اخطاراواعلان په اوریدو «امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله» پورته شو اودخوارجومشر ضحاک ته ورغی،هغه ته یې وویل: په دې خبره باندې دځان دپوهولو لپاره راغلی یم،چې ایا تا رښتیادکوفې مسلمانان مرتد ګرځولي،اودتوبې نه کولواوبیا ځلې دایمان نه راوړو په صورت کې دې دهغوی دقتلولواعلان کړی دی؟ ضحاک ویل:هو!ما دا اعلان کړی دی، ځکه چې داټول خلک مرتد شوي دي اودمرتد سزا په اسلامي شریعت کې قتل دی؛ امام صاحب وویل: مرتد خوهغه څوک ګرځي چې هغه خپل دین پریږدي؛اودویم دین غوره کړي؛ دکوفې خلکو خو خپل دین(اسلام) ندی بدل کړی، اونه یې پخوانی دین په کوم چې پیدا شوي دي پرې ایښی نوځنګه مرتدشول؟ددې په اوریدو دضحاک سرخلاص شو!هغه امام صاحب ته وویل: ته داخبره بیاوکړه!امام صاحب خپل ارشاد ورته تکرار کړ،ضحاک خپله تیغه نیولې توره ښکته کړه ویې ویل: « اخطانا» موږ تیروتي یو، خپلو ملګرو ته یې هم دتورو ښکته کولو حکم وکړ،اودکوفیانو دوژلوپریکړه یې بیرته واخیسته، دامام ابوحنیفه رحمه الله دې تدبر اوفراست دکوفې خلک دخوارجو له شره وژغورل،چې دې کارنامې ته په کتوبه حضرت ابومطیع بلخي رحمه الله فرمایل«اهل الکوفة کلهم موالي ابي حنیفة» کوفیان ټول دامام ابوحنیفه ازادکړي غلامان دي ځکه په فراست اوتدبیرې کوفیانو له مرګ نه نجات مندلی دی

نن سبا چې داسلامي نړۍ په مختلفوبرخوکې په خاصه توګه په عراق، شام اوافغانستان کې یوځل بیا دتکفیري سخت زړو په ظهور دخوارجو بدمرغه یادتازه شوی،په خاصه توګه دداعش په نوم کومه تکفیري وسله والې ډلې چې لومړی په عراق او شام کې اوبیا افغانستان کې دتکفیري فتواووپه ورکولو دمسلمانانو په قتل عام لاس پورې کړ، پخوانیودخوارجومرشوی تاریخ یې ژوندی کړ

دخوارجو(داعشیانو) لخوا په ډیره بې دردۍ اووحشت سره دبې ګناه مسلمانانو دقتل عام! دمحرکاتوپیژندلو لپاره دخوارجودتاریخ مطالعه کول ضروري دی،اوپه مقابل کې یې داهل سنت خصوصاً دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله دسیاسي جهودو سره اشنائي هم ضرور ده، ځکه ددې دواړوکارونو پرته دنن سخت زړو اوتکفیري سوچ لرونکوډلومحرکات اودهغوی ذهنیتونه معلومول اسان کارندی له بده مرغه موږ نن یولورته دلویدیځ دنام نهادې روڼ اندی سره مقابله کوو،ولې هغوی لګیادي زموږ ملي اودیني ارزښتونه له منځه وړل غواړي، دنړیوال ثقافت اوچاپیریال په بهانو زموږ کلتور اوثقافت راوژني اوداسلامي اقدارو په بیخ کنې پسې ستومان دي، بل خوا ته دهمدې فکري تنګ نظرۍ ازغیوداسلامي امت لمنه بدرنګه کړې،چې په سبب یې په وړو خبرو،وړو خبرو دتفسیق اوتکفیرفتوې لګوې اود مسلمانانوترمنځ کورني جنګونه اوخپلمنځي کشمکش اچول غواړي، نن هم زموږ لپاره د«اهل السنة والجماعة ائمه او اکابر اسوه» دي، کوموچې د«معتزله ونام نهاده روڼ آندي اودخوارجوتنګ نظرې» مستردکړې اوداعتدال اوتوازن لار یې غوره کړې لنده داچې د دې دواړو افراطي انتهاوو دښکارڅخه مسلمانان ژغورل ددې عصر- دعلماوو، مفکرانواوزعماوو مسؤلیت دی هغوی باید ددې حالت نزاکتونه محسوس کړي

په خاصه توګه زموږ په هیواد کې دداعشیانو دوروستې شکست او داسلامي امارت مجاهدینو دبري وروسته زیاته ارتیا لیدل کیږي چې زموږ په اسلامي ټولنه کې دتکفیري سوچ اوذهنیت خوړولو محرکات او اسباب وپیژندل شي او بیایې دمخنیوي په برخه کې په ښه تدبر اوفراست سره عملي ګامونه پورته شي.

فرهاد اتل

هند کې د مسلمانانو راتلونکی!

او د مودي خطرناک عزایم!

هندوستان کې د نریندرمودي دفاشست اومتعصب رژیم،په راتلو دمسلمانانو اوسنی اوپخوانی اندیښنې رښتیا ثابتې شوې، مودي او د هغه حکومت پرلپسې مسلمانانو باندې د ژوند کړی تنګوي او دهندوستان د سیکولر پیژندګلوی په لمنځه ورلو سره غواړي هلته د مسلمانانو لړه ډیره شته مذهبي اودیني ازادي زندی کړي.

په دې لړکې دجموکشمیرازادحیثیت له منځه ورل، دهندوستان برخه یې ګرځول، هلته ټول هندوستاني قوانین نافذول او د جمو کشمیر اړوند سیمې«لداخ» ته دجلا ایالت حیثیت ورکول او دبابري مسجد پر ځای دمحکمې لخوا دمندرجوړولو اجازت ترلاسه کولو وروسته د ډیرو شناندو سره دا اندیښنه وه چې له دې وروسته به هغه (مودي) دهندي تابعیت په قانون کې د بدلون په راوستو سره دمسلمانانوپه ستونزو او مشکلاتوکې د لانور زیاتوالي راوستو کوښښونه شروع کوي

دهغوی د اټکل او توقع سره سم دادی درواني میاشتې (ډیسمبر) په ۱۲مه نیټه هندي پارلمان ته د۱۹۵۵ زکال دتابعیت په قانون کې دترمیم کول بیل وړاندې شو، په کوم کې چې دبنګله دیش،پاکستان او افغانستان څخه لاړو (دهندوانو، سیکانو، عیسویانو، بودایانو) کډوالو ته دتابعیت ورکولو غوښتنه شوې خو مسلمانو کډوالوته پکې داسې هیڅ کومه غوښتنه نده شوي.

دهندحکومت لخوا دا دلیل ویل شوی چې دیادو هیوادونوڅخه ورغلیو کډوالوته زکه تابعیت ورکول ضروري دی چې هغو پخپلو هیوادوکې دمذهب له پلوه ځورول کیدل او پرې د جبرکیدو په وجه کډوالی ته اړشوي دي

درسنیو په وینا: تیرو څو لسیزوکې دپاکستان، بنګله دیش اوافغانستان څخه په لکونو هندوان، سیکان او بودایان هندته کډه شوي دي ،چې تردې مهاله هلته دتابعیت نه بې برخې پاته دي،مودي حکومت او ور ته دتابعیت ورکولو په موخه دتابعیت په قانون کې ترمیم وکړ، لیکن هغه په لکونو مسلمان کډوال چې په هندډیرنګیانو دواکمنی په زمانه کې دبنګله دیش نه (پیرنګیانو) دچایو په بڼونوکې دسختوکارونو کولو لپاره بیولي وو لا تراوسه ور ته دهندحکومت له تابعیت ورکولوڅخه انکار کوي او ورته کله په یوه او کله په بله پلمه دهندڅخه دشړلو اخطارونه ورکوي

دکتونکو په اند: د نوي قانون د منظورولو اصلي موخه « اسام ایالت کې دبنګالي توکمه مسلمانانو دتابعیت په وړاندې ختڼونه جوړول دي» ولې داسام ایالت دټولو وګړو دارزولو وروسته شاوخوا دوه ملیونه وګړي دتابعیت نه محروم اوبنګالیان بلل شوي دي، چې په اړه به یې وروستی پریکړه محکمې کوله ،چې هغوی دهندي تابعیت حقدار دي که نه؟،خو دمودي فاشست رژیم دمحکمې په پریکړې داثراچولو لپاره له وړاندې نه په قانون کې ترمیم وکړ، ویل کیږي کوم دوه ملیونه کسان چې بنګالیان بلل کیږي، په هغوی کې ۱۲لکه یې هندوان اوپاتې نور مسلمانان دي، ددي نوي قانون په منظوریدو سره هغو ۱۲ لکه هندوانوته دهندي تابعیت

دترلاسه کول دروازې پرانیستې خو دمسلمانانو په وړاندې يې يې وترلې

د بشري حقونو نړيوالې اداري ويلي «بنګالي بلل شوي ډيرى داسام پخواني اوسيدونکي دي» خو په اسام کې دمسلمانانو د شميرکم ښودو لپاره يې هڅوى د ناقانونه کډوالو لړليک ته پورته کړي دي

دهندا پوزيسيون ګوندونوپه پيل کې ويل چې هنديو جمهوري سيکولر هيواد دى او د اساسي قانون له مخې هيڅ مذهبي توپير او امتياز ندى پکار،هڅوى وړانديزکړی و چې دتابعيت ورکولوپه لايحه کې دي مسلمانان هم شامل کړاى شي ليکن دنريندرمودي حکومت دهڅوى دا وړانديزردکړ، دکتونکو په باور:دهغه وروسته اپوزيسيون ګوندونو ګونګ دريځ خپل کړی دی او دحکومت دارادوپه وړاندې يې کلک غبرګون ندى ښودلی دکارپوهانو په نظر ددې قانون منظورول په هندکې لومړی امتيازي قانون دی چې دمذهب له پلوه توپيررامنځته کوي

بل پلو په ټول هندکې ددې امتيازي او تعصب نه ډک قانون منظورولو پرضد قهرجن لاريونونه دوام لري، اودنريند رمودي د حکومت داګام غندي، درسنيو په وينا: يوشمير ايالتونو کې دلاريونونو په وتلو کې يوشمير کسانوته مرګ ژوبله هم اوښتې ده چې په سبب ځايي حکومتونو هلته بيړني حالات هم اعلان کړي، لاريونيان غوښتنه کوي چې دهندحکومت دې ددغه امتيازي او دمسلمانانوپرضد قانون بيرته واخلي او دهند داساسي قانون د روح سره سم دې هند کې ميشت دټولو اديانوپيروانوته دتعصب اونفرت پرته قانوني اسانتياوې برابرې کړي.

خو دلاريون کوونکودسختو قهرجنواحتجاجونوباوجود دهند ولسمشر لخوا دپارلمان څخه منظورشوی قانون توشيح کړای شو، اوپه دې سره متنازع ترميمي ببل دتوښيقولووروسته دقانون بڼه غوره کړي،دهند ۶ ايالتونه (لويديځ بنګال،ختيځ پنجاب،کيراله، مدهيا پرديش،چتهيس ګړ،او نوی ډيلی) دمرکزي حکومت پرضد دريدلي، اوپخپلو ايالتونوکې يې د ياد قانون دنه پلي کولو اعلان کړی دی

هندکې دتابعيت قانون کې دترميمي ببل منظورولو پرضد روانوقهرجنو لاريونونو له امله هند ته دجاپان صدراعظم هم خپل سفرځنډولی دی اوهم په دغه هيوادکې د موبايل اوانترنيت اسانتياوې معطل کړل شوي دي، نوپه دې توګه دمسلمانانوپرضد دمنظورشوي قانون پرضد روانو احتجاجونو پر وجه يوشميرښارونو او ايالتونوکې کاروبار هم په ټپه ولاړدى اوخلک دنريندرمودي دعزايموپرضد راوتلي دهغه او دهغه دګوند دکړنلارو مخالفت کوي

دکتونکوپه باور دهند داوسني صدراعظم(مودي) په وينه کې داسلام اومسلمانانو سره دښمني ګډه ده، نوموړى غواړي هند کې دمسلمانانو لپاره مشکلات پيداکړي چې داکار به دهند دننه اوبيرون دهندي حکومت دکړو وړو پرضد د مسلمانانو سخت غبرګونونه راوپاروي او په اسلامي نړۍ کې به د هند رول او باور کمزوری کړي

البته داخبره دزياتې دانديښنې وړده چې نن سبا نړۍ کې مسلمانان که ددنيا په هره څنډه يا برخه کې ژوند کوي دکمترۍ داحساس ښکاردي اوددې اساسي وجه پخپله دمسلمانانودپرديپالو واکمنومجرمانه چوپتيا ده، چې په سبب يې نړۍ کې مسلمانانوڅخه د هيچا سترګه نه سوزي او وړاندې يې اوورونه بل کړي دي.

بايد داسلامي هيوادوواکمن د مسلمانانو دغم و درد نه ځانونه خبرکړي او د هندي فاشست صدراعظم (نريندرمودي) په کرغيرنوسترګوکې ګوتې ور واچوي په خاصه توګه اسلامي کانفرانس بايد د هندوستاني مسلمانانو په قضيه کې متحرک اوفعال کردار اداء کړي اوژرترژره دې دهند حکومت نه د مسلمانانو پر ضد دشته عزايمونه ځواب ووغواړي.

ولې که موجوده لړۍ همدا سې خداى مکره وغځيږي هغه ورځ لرې نده چې هند کې به هم مسلمانان لکه ديرما يې مسلمانانويشان چې دوحشي بودايانو رحم وکرم ته پاته دي، دمتعصبوهندوانورحم وکرم ته پاته شي، ولې ځينو هندي واکمنو اوپه خاصه توګه نريندرمودي په ځلونو ويلي: چې دوی غواړي له مسلمانانو په هند وستان باندې دزرکلنې پخوانۍ واکمنۍ غچ واخلي .

زمونږ ډېرې به رښتیا شي !!

د رواني لینډۍ میاشتې په (۱۸) او (۱۹) مه رسنیو د نورو ډېرو خبري راپورونو ترڅنګ دوه داسې راپورونه خپاره کړل چې شاید زمونږ د هیواد دقضیې په اړه یې د ډېرو توجه ځانته جلب کړې وي، ماته هم خورا جالب او په زړه پورې وو. یو دامریکا د دفاع دوزیر وینا چې " مونږ له طالبانو سره روانه ۱۹ کلنه جګړه دخبرو له لارې پای ته رسوو" اویل د افغانستان دجګړې په اړه پټو اسنادو ته د واشنګټن پوسټ ورځپاڼې لاس رسی و.

دامریکا د دفاع وزیر مارک ایسپر له فاکس نیوز سره په مرکه کې ویلي : " ... مونږ له طالبانو سره دافغانستان ۱۹ کلنه اوږده جګړه بالاخره دخبرو له لارې حل کوو، که مونږ له طالبانو سره په مذاکراتو کې موافقې ته ورسیږو نو شک نه شته چې دافغانستان راتلونکی به دچالپاره خطر نه وی "

دنوموړي په خبروکې دوه ټکي ډېر مهم او مونږ ته پرې دیوځه تم کېدو او تبصرې وړ دي چې دوه واقعیتونه یې روښانه کړي :

دی وایي له طالبانو سره ۱۹ کلنه اوږده جګړه دخبرو له لارې پای ته رسوو° داله له ۱۹ کلونو وروسته هغه ځه ته ور ګرځېدل دي چې دیولسم سټمبر له پېښو سره سم امریکایانو د ملامتیا ګوته طالبانو ته ونیوله او طالبانو ورته وویل : چې راځئ دخبرو اترو له لارې مسئله حل او یوې نتیجې ته ورسیږو، خو هغه مهال په خپل زور دتکبر له کبله یې دا وړاندیز په سختو ټکو رد او ډېرې ناروا غوښتنې یې وکړې، دخبرو اترو درد پرمهال ورته فقید امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رح په غبرګون کې ویلي و چې " ... که تاسې یرغل پیل او هیواد اشغال هم کړئ! نو کله به راځئ په کرار حکومت وکړای شئ! زمونږ لاره به بیا غرونو ته ختل اودهیواد تر خپلواکۍ پورې مبارزه وي " .

دادي داحقیقت د سر په سترګو وینو چې اوس په خپله وایي چې داجګړه دخبرو له لارې پای ته رسووو او دغه راز وینو چې خبرې یې هم نهایي کېدو ته نږدې دي .

نوموړي یوبل حقیقت هم راسره منلی او ویلي یې دي چې که مونږ له طالبانو سره په مذاکراتو کې موافقې ته ورسیږو نو دایقیني ده چې افغانستان به بیا دچا لپاره خطر نه وي . دلته دوی له طالبانو سره په روانه ۱۹ کلنه جګړه کې دې حقیقت ته رسیدلي اوپه دې خبره یې اعتراف دی چې طالبان دافغان مسلمان ولس له منځه دي اوپه رښتیا هم د دې ولس په

زړونو حکومت همدوی کولای شي او دهیواد په هره برخه کې چې څنګه وغواړي هغه ډول خپل حکم عملي کوي .

دېرې داسې به ربښتيا شي!! او زمونږ په حقانيت او ربښتينولۍ به هغوی هم اعتراف ته اړ شي چې دځمکنيو حقايقو له درک پرته ديوه ترزيق شوي ليدلوري له عينکو، يواځې دښمني پالي او دهيواد او خاورې دعليا مصالحو له درک عاجز دي . دافغانستان د رواني اوږدې جګړې پټو اسنادو ته د واشنګټن پوسټ ورځپاڼې لاس رسی بل هغه رسنيز راپور دی چې زمونږ نورې دېرې به ربښتيا کړي .

دادی د دسمبر په (۹) نېټه واشنګټن پوسټ ورځپاڼې په افغانستان کې د امريکادجګړې په اړه مهم محرم اسناد افشا اوترلاسه کړل چې په (۲۰۰۰) پاڼو مشتمل دي، که څه هم دغې ورځپاڼې تراوسه ډېر څه نشر ته نه دي سپارلي او شايد چې کرار کرار ډېر نور رازونه هم خپاره کړي، خو په خپرو کړو رازونو کې په کابل کې د لوړ اداري فساد، دستراتيژيومجهوليت، دافغان امنيتي ځواکونو په پښو درولو ناکامي اود مخدره موادو په ضددمبارزې دناکامۍ ترڅنګ يې درې (۳) ډېر مهم اسناد خپاره کړل او له ډېرو مهمو رازونو يې پرده پورته کړې :

لومړی ددغې جګړې په اړه د امريکايي چارواکو دروغ دي چې نړيوالو او دامريکا ولس ته يې ويلي دي، دروغجنې ادعاوې يې کړې او هڅه يې کړې چې خپله ناکامي په بريا تعبير کړي .

دويم دطالبانو په وړاندې يواځې دوژل شويو خارجي ځواکونو شمېره نږدې پنځوس زره (۴۹۳۱۱) ته ښودل شوې.

دريم د دغې جګړې ملاماتوونکی لګښت دی چې ورځپاڼې ته در سيدلو اسنادو له مخې تر دوه ټريليونه دالروزيات ښودل کيږي .

زمونږ دمدعی، زمونږ د مسير، هدف، وينا او زمونږ د کړنو دحقانيت، ربښتينولۍ او د ولس داستازيتوب د دعوې لپاره يواځې لومړی سند (دامريکايي چارواکو دروغ) بس دي چې ورروستي دوه سندونه پرې ښه شواهد دي . " الحق ما شهدَ به الاعداء"

که مونږ ويل چې هيواد اشغال او زمونږ مبارزه ولسي- مبارزه او دولس غوښتنه ده، نو دېرو هغو ترې انکار کاوه چې داشغال دوام يې دژوند دبقا اودوام منبع ده، خو نن به يې خوله ماته وي خپلو کړنو او ويناوو ته به هيڅ توجيه نه لري .

همدغسې هغه ميديا او مطبوعات چې داشغال دلګښت يوه برخه دوی ته تخصيص وه او دهماغو ډالرويزو باروتو په زور يې شور جوړ کړی اوله حقايقو يې سترګې پټولې° خپل ضمير او وجدان ته به څه ځواب لري او ولې به يې په مقابل کې د طالبانو تولې ادعاوې حقيقت نه وي ؟!!

نړيوالو او خپلواکو څېړنيزو مرکزونو ته په کار ده چې اوس په افغانستان کې د وژل شويو اشغالګرو هغه شمېرې ترڅېړنې لاندې ونيسي چې طالبانو خپرې کړې او وښيي چې په ربښتيا هم دلته څومره اشغالګر وژل شوي او څومره ګوډ او مات له دهيواده وتلي !!

دلته څومره وحشت اوجنايات ترسره شوي، څومره ولسي تلفات اوملکي زيانونه رامنځته شوي چې په جبران او بيارغونه کې يې هم نړيوال بېرته همدومره ونډه واخلي .

زمونږ دېرې به ربښتيا شي ! او دترلاسه شويو اسنادو اورازونو د يوه يوه راز په خپرېدو سره به ډېر نور پټ حقايق هم راڅرګند شي .



واشنګټن پوسټ او دنولس کلني جګړې

پټ رازونه

م سلطان محمد ث.

تېره اونۍ په امریکا کې مشهورې ورځپاڼې په یوه ۲۰۰۰ مخیز راپور کې هغه پټ اسناد په ډاګه کړه چې په تېرو ۱۸ کلونو کې امریکایي حکومتونو د افغانستان د جګړې په باب خپل ولس ته یکې پر له پسې درواغ ویلي دي

په دغه راپور کې د تېرو اتلس کلونو راهیسې د امریکا درې ولسمشران جورج بوش، بارک اوباما او ډونلډ ټرمپ او پوځي جنرالان د افغانستان جګړې له امله ناکامه بلل شوي دي، چې له امریکایي ولس څخه یې د افغانستان د جګړې اصلي وضعیت پټ ساتلی وو!!

واشنګټن پوسټ خپل رپوټ کې د جنرال ډګلس لوټ څرګندونې راخیستې دي، څوک چې د جورج بوش او باراک اوباما په واکمنیو کې د افغان جګړې په برخه کې د سپینې ماڼۍ یو مهم سلاکار و.

نوموړي په ۲۰۱۵ کال کې دې فدرالي پروژې ته ویلي، امریکایان اصلاً په افغانستان کې په دې نه پوهېدل چې هلته څه کوي او د څه ترلاسه کولو لپاره افغانستان ته تللي.

نوموړی وایي، د امریکا د دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت او کانګرس د افغان جګړې په اړه یوه خوله نه وو.

په دغو اسنادو کې دا یادونه هم شوې ده چې امریکا د افغانستان په جګړه کې دوه تریلیونه ډالر مصرف کړي، ۳۰۰۰ عسکر یې وژل شوي او ۲۰۰۰۰ زره یې ټپیان شوي، چې واقعي کچه یې تر دې هم لوړه ده.

دغو اسنادو څه په ډاګه کړل!!

۱:- دغو اسنادو د امریکا ولس ته د خپلو مشرانو اصلي سیهره ور وپېژنده چې ستاسو مشران هغه کسان دي چا چې نولس کاله ستاسو بچیان د یوې بې هدفه، مبهمې جګړې قربانیان کړل.

۲:- دغو اسنادو د کابل اداري غلامیت ښه په ډاګه کړو او دا یې ورته ثابته کړه چې تاسو په ربښتیا دمزدورانو په څېر استعمال شوئ او استعمالیږئ.

۳:- دغو اسنادو نړۍ والو ته د طالبانو هغه جګړېز او سیاسي استقلالیت ښه په ډاګه کړو.

٤: دغو اسنادو نړۍ واله هغه ټولنه چې له امریکا سره په مبهمه جګړه کې ښکیل و طالبانو افغانانو ته ښه شرمېنده او رسوا کړل.

٦:- دغه اسناد د شوشل میډیا د هغو چلونکو پر مخ هم درنې سپېرې ګزار و څوک چې په تېرو نولس کلنو کې د ښکرور درواغو له پاره د څو ډالرو مقابل کې انتخاب شوي وو.

۷:- د غو اسنادو امریکا د نړۍ په کچه د تېر په څېر یو ځل بیا دجاله، قاتله، فاحشه او مکاره ثابته کړه.

۸:- دغو اسنادو د امریکا ولس پر خپله موجوده رهبرۍ بې باوره کړه.

۹: دغو اسنادو د نړۍ په کچه د امریکا اتحاد ته لوی ټکان ور کړو، موجده رهبرۍ تر سوال لاندې راغله، او د نړۍ په کچه لیکوالانو، پوهانو، د امریکا ولس او ناټو غړیو هیوادنو د امریکا یاد عمل یې سخت وغندلو او یاد اسناد د ګنو نړۍ والو او امریکایي مطبوعاتو سر لیک وګرځېده هغه داسې:

أ: پخوانی ولسمشر حامد کرزي له اسوشتېډ پرېس سره په تازه مرکه کې داخبرې وکړې چې د واشنګټن پوسټ اسناد تاییدوي او په خبره یې ښایي ددې جګړې په اړه ډېر نور کره او مهم اسناد هم موجود وي چې وښیي دلته یوه ظالمانه او بې هدفه جګړه روانه وه.

ب: د کانګریس غړیو د واشنګټن پوسټ د یادو اسنادو په خپرېو سره سم د امریکا د کانګرس غړې رو کانا ویل: د سنا مسوولیت دی چې په جګړه کې له ښکېلو پخوانیو چارواکو او جنرالانو وضاحت وغواړي.

دده په خبره امریکا اتلس کاله په افغانستان کې جګړه وکړه، میلیاردونه ډالره یې ولګول خو تر اوسه امریکایي ولس تېر ایستل شوی دی او حکومت دروغ ورته ویلي دي.

ج: افغانستان د امریکایي امپراتورۍ هدېره شوه، د افغانستان د چارو مشهور امریکایي محقق او لیکوال، پریک مارګولیس، د ډسمبر پر ۱۴ لیکي: پدې هفته کې د امریکا معتبر اخبار واشنګټن پوسټ ۲۰۰۰ صفحه ایزه بمونه د واشنګټن پر درواغجنو او دغلبازو چارواکو باندې ور ایله کړل.

و: موږ باید د ویتنام په څېر ماتې ومنو او له افغانستانه ووځو، په افغانستان کې د امریکا پخواني سفیر راین کراکر واشنګټن پوسټ ورځپاڼې ته په خپله مقاله کې لیکلي، امریکا په افغانستان کې خینې مهمې نېرونتې کړې، جګړه یې ناکامه ده او باید د ویتنام په څېر د ماتې په منلو له دغه هېواده خپل عسکر راوباسي.

هـ: د افغانستان اسلامي امارت د واشنګټن پوسټ د همدې راپور له خپرېدو سره سم د ورځې د خبر امریکایي ولس باید راپاڅي تر عنوان لاندې پر امریکایي ولس غږ وکړ، دا چې تاسو خپل ځان په نړیواله سطحه مهذب ګڼئ؛ باید اجازه ور نه کړئ چې څو تنه ملیارډران مو په برخلیک لوبې وکړي، شخصي ګټې او جګړه ییز هوس یې د امریکا لوبې منافع وننګوي، امریکایي ولس نور باید له خوبه راپاڅي، افغانستان کې د امریکایي عسکرو شتون وغندي او پر ضد یې اواز پورته کړي، او چارواکي مجبور کړي چې ژر تر ژره د افغانستان جګړه پای ته ورسوي او خپل ملت ته د افغانستان د جګړې حساب ورکړي او بس.

الیاس فاتح

د زخمو رنګونه

ما نه خپل ځان د ستا د سترګو اینو کې ورک دی
په نظر نه راځي خو سوزي مې لمبو کې ورک دی

د ژوند په دښتنه کې د هجر سوراړا خوره ده
ماشوم زړګی مې ستا د یاد په سرو غرمو کې ورک دی

ازادي! ستا په ګېډۍ زلفو الواني لوپټه
ملامت نه دی بورا خیال چې مې وږمو کې ورک دی

نوره د تورو او قلم تر اسمان ورسیدل
زمونږ ویده زلمی په وینښه په خوبو کې ورک دی

لمبوزن خیال مې د حالاتو له دریاب وتلی
خو ستا د حسن سمندر مستو څپو کې ورک دی

ای غریبۍ ظالمې ستا د پېغورو د لاسه
د کلي ژنی په کالو مسافرو کې ورک دی

د زړه زخمونه راتېکور کړه په سکروټیو سترګو
زما علاج همدې داغونو د اورو کې ورک دی

د پسرلي احسان به څه وي د فاتح په وطن
پسرلی زمونږه د زخمونو په رنګو کې ورک دی

فرعوني ډیموکراسي

اکرام الدین مفتون

قاتلان کرځي واړه ماشومان وژني
بم ټوپک او په چاړه ماشومان وژني

جمهوریت دی د مفسدو واکداري ده
په یو نه، په یو نامه ماشومان وژني

په غریب ولس چاپې وهي وحشیان دي
توره شپه په خوب ویده ماشومان وژني

کډ ځواکونه چې په کومه سیمه راشي
له مستی نه شپېږاته ماشومان وژني

په مکتب او مدرسو بمباری کاندي
په کتاب باندې پراته ماشومان وژني

د افغاني مسلمانې مور ژوند تریخ دی
مخامخ ورته خواږه ماشومان وژني

سره لمبه کړي د همزولو منځ کې ناوې
بم ګزار کړي په واده ماشومان وژني

په غربي ډیموکراسی کې داسې کیږي
غټان یوسي له کاله، ماشومان وژني

فرعونیان دي تربنه دار لري مفتونه
خاماخا به پښتانه ماشومان وژني

فدایي

بلپنده بدري

ای زما د ژوند ملګريه
د مایوپه ښارو کې
داسې چوپ او داسې ورک یې
چې دې پنه پښو نیشته
دومره نه وایې ظالمه
چې په نوم باندې دې ناسته
د راتلو لارې دې ګورم
خو ته داسې تپ و توپ یې
لکه وری دې کاپیرې
چا زیږ ښنې جینې زړه وي
****

ای زما د ژوند ملګریه!
ته خبر یې او کنه یې؟
چې جذبو بغاوت کړی
ولولو دې اور اخستی
د تن وینې یاغي شوي
مرګ دی دومره سور اخستی
چې شیبه انتظار سخت دی
له ژوندون سرور وتلی
هره شیبه وې دلې دلې
د ژبکیو سربندیانو
چې لا ډېر یې ماشومان وي
لا یې خط راغلی نه وي
پښه دزي پرې درانه وي
خو بیا هم وي راوتلي
په دې کم عمر له کوره
پت له موره پټ له خوره
خپسو خپسو بیا تړلي
وي په ځان پورې بمونه
د تکبیر ناري یې خولو کې
ګرځندي اخلي ګامونه
چې له کومې خوا رادرومي
خدایزده کوم لور ته روان وي
غلی غلی انقلاب دی
ورو په ورو خلک پاخیږي
ټول جهان سره یې جنګ دی
خدای خبر چې څه به کیږي؟
خو زما د ژوند ملګریه
د پرون ورځې راهسې
ما دې دومره ډېر ژړلي
چې مې اوښکې شوې تمامې
که په زړه دې وي دکلي
د ها بر ارخې په خوا کې
یوه جونګړه وه د کوندې
یو سپینکی شانته یې زوی و
یره ستا په وخت ماشوم ؤ

خو اوس ګل پشان رالوی و
لیونیه په ما ګرانه
زه وم ناسته په جیه کې
له سهار ورځې درته وه
لا راغلی جونه نه وې
ره شوم لره ورته ته
زړه مې ستړی پسې مې شلې
هم په سر کې مې ترکا وه
یو غزل مې هم نیمګړی
نو منګی مې راپسې کړ
بس د کور په لوری تلمه
لا مې پل اخستی نه ؤ
چې یو غلی غوندی غږ شو
یو سلام په حلق کې نښتی
یو له ژړیه ډک اواز ؤ
ما هر لوری ته نظر کړ
د ها توت د ډډې خواته
خوږند سر یو څوک ولاړ ؤ
توري غیږې غیږې څمې
په سپین مخ یې راځوړندې
ما وې څوک یې څه دې کار دی؟
دا نو کوم خیل ته پښتو ده
چې پردیو جینکو ته
د ګودر خوا کې راپټ یې
ده ویل هی مه وایه داسې
ما خو کله هم په ژوند کې
دا احساس وکړي نه دی
چې به تاته پردی وایم
ما کاته پسې تر څه کړل
لا مې تنده کړله تروشه
دوه قدمه ورنیږدې شوم
چې یو کاني پسې واخلم
مخ او سر ورله ور مات کړم
****

ده کړې سترګې غلې پورته
پکې وینې خلیدلې
سپین سپیخلی شانې مخ یې
ترینه نور راوریدلو
وړه خوله او ښکلی پوره
غټې غټې توري سترګې
لا بسې شوندې توره نه وه
لا یې خط راغلی نه و
لا ماشوم لکه نرګس و
زما پشانې هسې دنګ و
تا به وې چې زوی د حورې
له جنته دی راغلی

ویل یې زړه کې مې ارمان و
له سهار راهیسې ګرځم
خو ګودر کې به ته ناسته
وې د تولو جونو مینځ کې
نو به زه شوم پښه نیولې
زه د ستا د یوې همزولې
ها یتیمې جینی وروریم
ما ویل ، وې به خدای دې مل شه
که په ځان دې پیرزو نه وي
چې منګی په څمکه کیږدم
او تیره کانی راواخلم
مخ او سر درله درمات کړم
تو بس دومره ګام دی لوی که
دی مغرور شانې مسکی شو
له ځان هاخوا یې څادر کړ
واړه ډک ؤ له بمونو
یو څو پله رانیږدې شو
په یو رب مې اروا لاړه
زه ګونګی شانې ولاړه
زما سترګې په بمونو
یې شوې پاتې ړدې یدې
دخه ووې راته غلي
خدیزده څه یې راته ووې
خو غوږو کې مې دم نه ؤ
چې یو تکی خو یې واورم
ره په خلاص مخ وروالړه
لکه بت پلو مې هم ؤ
د بیا ووې راته غلي
خدی خبر چې څه یې ووې
ما ده زړه په زور ایله بس
دا خبره ورته وکړه
چې ستا عمر ته چې ګورم
لا د لوبو وتی نه یې
نو دا دومره ډیر بمونه
کوم ظالم دي درتړلي؟
د په لور د هدیرې زړ
خپلې سترګې واړولې
یو شیبه شو غلی پاتې
خپل له قهره ډک نظر یې
په شنو سرو جندو راتیر کړ
ویل بدري تر څو به ګورم
هر ورځ جندې زیاتیږي
پندې کوزه هدیره کې
لا تر څو به نو زه اورم
هره ورځ کلي ورانیږي
د وطن هره دره کې

نور مې څه په لاس کې نیشته
پس همدا به مې نو وس وي
چې بمونه مې تړلي
ما خپه وې د زر راووې
که شهید شومه ای میرې
نو په زړه به مې ارمان وي
یوه تپه خو راته وکه
ما و درې خل درته ووې
چې د ژوند د پای شیبې دي
یوه تپه که راته وکړې
زما سترګې دکې دکې
حلق مې وچ له ډېره درده
خو په زړه مې شوه خبره
چې خواهیش د هاغو خلکو
جلاداتو هم منلی
چې په دار راځړل کیږي
چې شیبې د ژندګۍ یې
وي تمامې نور مرکیږي
نو مې غاړه راتازه کړه
د ګمان د یوې تپې کړ
څه مسکې شانته کتل یې
خو ما هاغه مناجات چې
د جمعې په شپه یې وایم
ها چې ژاړې ورته ستوري
کاینات واړه ګونګي کړي
ها چې غوږ غوږ واړه چم وي
ها چې ژني ورته ناست
سر په زنګون وي غلي پلي
ها چې جونه په سلګو کړي
غلی غلی چې راوپش کړي
شور د سوز دوعاګانو
او چې ټول خلک مین کړي
د جنت په رڼاګانو
په هماغه زړه رابسکونکي
ترنم مې ورته پیل کړ
خو زما د ژوند ملګریه
لا مې یو پراؤ تمام و
بس له بدره په وتو وم
لا اُحد ته تللی نه وم
قادیسه وه ډېره لرې
چې سلګی مې تر غوږو شوې
ما چې وغړولې سترګې
دی د توت ډډې ته ناست و
په سپین مخ یې اوښکې دارې
را روانې لارې لارې
زه هم چوپه شوم له درده

مناجات مې پوره نه کړ
د راپورته کړلې سترګې
ویل یې ولې شولې غلې؟
زما زړه داسې راډک شو
چې غوښتل مې چیغې وکړم
تندی ووهم په کاڼو
دی راپاڅیدلو غلی
رنګیدې ترې توري څڼې
ویل بدري که زه شهید شوم
نو مې یاد لره تپو کې
ته ما یو ځل وې لیدلې
نو له هاغه وخت مې زړه کې.....
څه یې وې خو غلی څک شو
په تندې یې کړښې راغلې
یوه مغروره شان مسکا یې
په سرکو شوندوشوه تیره
ګام یې واخیست او په تلو ؤ
ما وې څه دې ویل ته وایه
دګام لوی کړ او په تلو شو
ویل یې زړه کې داسې بنه ده
او بدري د ښکلا میرې
تسلې مې خور ته وکړه
څو قیصې د پاک قرانه
زما کوندې مور ته وکړه
زه بس ځم کاروان تیریږي
د کاپیرو پیرنګیانو
یو څو وژنم ، یو څو سوځم
لاس او پښې یې پرې کومه
دوی لوټ کړي عزتونه
دیرې میندې یې کړې بورې
ترینه سترګې اوباسمه
هسې نه چې رانه تیر شي
بې مراده به شم پاتې
د ګاموه ګرځندي کړل
ما په زوره وربارې کړې
چې لړ تم شه تنګیالیه
میړنیه، تر یالیه
د رواکتل په بیره
راخسې یې رګي ؤ
ما سګی له سر ګدار کړ
او په منده ورنیږدې شوم
په تندې باندې مې ښکل کړ
****

د شيخ الحديث عبد المالك القدوسي رحمه الله ژوند ته کتنه

محمدابوبکر ((خطیب))

پر ځمکه د انسان خليفه توب د هغه خپله لاسته راوړنه نه، بلکي د خدای ج ورکړه ده، او بيا که څه هم د خلافت وړتيا پر نورو مخلوقاتو کې د انسان ځانګړنه ګرځول شوې ده او انسان يې بالقوه وړتيا لري، خو د خلافت درجې ته رسېدل او د خدای پاك له لوري د خلافت ورکړه هم عامه نه ده چې هر انسان ته ور کوله کېږي، بلکي خدای پاك يې پر خپله خوښه ډېرو کمو خلکو ته ور کوي او پر همدوی پورې يې ځانګړې کړې.

تخليق او پيدا کول له صورت سره تړاو لري، خدای پاك د آدم على نبينا وعليه السلام د صورت پيدا کولو په اړه فرمايي(إِنِّي خَالِقٌ بَشَراً مِنْ طِينٍ)، خو جوړول بيا له معنا سره تړاو لري، آدم على نبينا وعليه السلام يې خليفه جوړ کړی او فرمايي (إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً)، نو پر صورت بې شمېره انسانان شته، خو د انسانيت پر معنا ډېر کم انسانان ځانګړي شوي دي، له دوی څخه يو هم شيخ الحديث مولوي محمدعبدالمالك القدوسي رحمه الله يادولای شو (نحسبه كذالك والله حسيبه ولانزكي على الله أحدا) چې په دې ليکنه کې يې ژوند ته لږ تم کېږو.

پېژندنه يې: شيخ الحديث مولوي محمدعبدالمالك (القدوسي) رحمه الله چې په قوم حسين خېل د کابل ولايت موسهي ولسوالۍ د عبدالروف کلا اوسيدونکی و، د هېواد پلازمېنې کابل د چهار آسياب ولسوالۍ چارسو کلي کې د۱۳۸۶هـ ق کال روژې مياشتې۱۵مه نېټه چې د۱۳۴۲هـ ش سلواغې له۲۰مې سره برابره وه د تصوف لوی مرشد، نامتو او توميالي عالم حضرت شيخ الحديث محمدعبدالقدوس جان الکابلي رحمه الله په علمي او روحاني کورنۍ کې دې نړېدونکې نړۍ ته سترګې پرانيستې.

هجرت: هجرت چې له اړتيا سره سم د اسلام مبين دين يوه غوښتنه برخه جوړوي، ځيني وخت له جهاد سره پر مله کېدو د هغه رنګ اخلي او د جهادي پړاونو په څېر ډېره ستړې کونکې او له مادي اړخه له زيانونو ډکه مرحله وي، مرحوم شيخ صاحب رحمه الله هم له۱۴کلنۍ راسې دغه سړې تودې ګاللې چې د هجرت تېوله موده يې په هېواد کې له اوږده جهادي پير او خونړيو پېښو سره مله وه.

غالب د۱۳۹۸هـ ق کال د روژې په لومړيو ورځو کې چې د۱۳۵۶هـ ش له وږي مياشتې سره برابره وه له شوروي يرغل څخه د هجرت په لړ کې يې کورنۍ ګاونډي هېواد ته وکوچېده، له موسهي څخه بيا ده روان او د لوګر ازرې ولسوالۍ له لارې پکتيا او بيا پر ګډه پوله پرتې سيمې پاړه چنار ته ورسېدل، هلته له څو ورځې دمې وروسته د کرمې ايجنسۍ سماني سيمې ته لاړل او بيا له اختر وروسته د چارسدې ميرزاډهير سيمې ته و خوځېدل چې لا مخکې د هغه والد صاحب هلته تدريس کاو.

مېرزاډهير کې د تعليمي کال پای ته رسېدو سره سم د ګرمۍ پر موسم يوځل بيا د کرمې سمانې ته و ګرځېدل او هلته له شاوخوا دوه مياشتې اوسېدو وروسته د زرګري

جامعې اسلامیې بنسټګر میا جلال الدین صاحب رحمه الله په غوښتنه د هنګو ولایت زرګري سیمې ته لاړل او پرلپسې اته کاله یې هملته تېر کړل، له هغه ځایه د مولوي محمدنبي محمدي صاحب رحمه الله په بلنه د پېښور چراټ سیمې جهاد کلي ته کډه شول او شاوخوا ۲۲ کاله هملته دېره و، د۱۴۲۸هـ ق کال په وروستیو کې هغه مهال چې جهاد کلی ونړېد د نوښار/نوښهرې شمع تاؤن ته لاړل، نږدې۱۴۳۷هـ ق کال لومړی د پېښور ترناب فارم ته او بیا د ځینې ستونزو او لاملونو له وجې بېرته ابایي کلي د کابل موسهي ولسوالۍ عبدالرؤف کلا ته ستانه شول.

زدکړې یې: دا چې مرحوم شیخ صاحب رحمه الله د لومړي ځل لپاره نړۍ د یوې دېنداري کورنۍ او ستر علمي چاپېریال په بېه ولیده، هماغه د خوښۍ د خاپوړو شېبې یې د زدکړیالۍ او طالبۍ پیل هم و، هغه چې نږدې دوه برخې درسونه او په ځانګړې د لومړنیو دېني زدکړو زیاتر کتابونه په کور دننه له خپل والد صاحب څخه ویلي، د طالبۍ د مهال سفر او حضر یې دېري او جلاجلا مرحلې نه درلودې، او بیا که کوم سفرونه یې درلودلي هم یې پکې د خپل والد صاحب ملتیا کړې او د هغه د شفقت ترسیوري لاندې یې تېر کړي چې ښایي د طالبۍ د سفرونو داسې ډېلاډېل اړخونه، پراونه او خوږې ترخې ونه لري چې پرې و غږېږو.

د مرحوم شیخ صاحب نیکه مرحوم مولوي محمدنبي جان رحمه الله چې دوی لالا صاحب باله او غور نیکه یې مرحوم مولوي عبدالمنان رحمه الله هم تکړه عالمان و، له لالا صاحب څخه یې د نحوي فن هدایةالنحو، کافیه او مبني جامي لوستلي و.

پر دوی سربېره یې ګاونډي هېواد پاکستان سره د ختیځ پر ګډه پوله د هنګو سیمې په جامعه اسلامیه زرګرۍ، د چارسدې میرزادهیر ملیه مدرسه او د پېښور چراټ جامعه اسلامیه محمدیه کې د خپل والد صاحب پر ګډون له ځینې نورو استادانو لکه خپل تره شیخ الحدیث مولوي عبدالرشید، شیخ الحدیث مولانا محمدنعیم (کون اخند زاده صاحب)، مولانا ګل فرازخان، مولوي عبدالباري شاه، مولانا میرحاتم، مولانا ګلاب الدین او مولانا غلام الله حقاني رحمهم الله څخه یې منځنۍ زدکړې کړې وې.

د لوړو زدکړو وړې دورې مشکوة او بیضاوی شریف او لویې دورې ابو داود شریف، ابن ماجه، نسائي، موطاوې، طحاوي شریف بشپړ او جلالین شریف دوهم ټوک، مسلم او ترمذي شریف هر یو لومړی برخه او د بخاري شریف لېږه برخه یې له خپل والد شیخ صاحب څخه ویلي، پاتې هدایې، لومړی ټوک جلالین، مسلم او ترمذي شریف دوهمه برخه او د بخاري شریف ډېره برخه یې له شیخ الحدیث مولانا عبد الرؤف ترناوي رحمه الله څخه لوستلي وه کوم چې د حضرت مولانا حسین احمد مدني رحمه الله خاص شاګرد و.

پر۱۴۰۹هـ ق کال یې علمي یون سرته ورسېد او د چراټ په جامعه محمدیه کې د خپل والد صاحب او شیخ الحدیث عبدالرؤف ترناوي رحمهماالله پر ګډون زبده مشائخو او برجسته عالمانو پر لاس چې له جملې یې د هغه مهال انقلاب ګوند مشر مولوي محمدنبي محمدي رحمه الله هم و د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې د فراغت او عالمیت پګړۍ ور پر سر کړای شوه.

علمي او تدریسي بهیر یې: له فراغت سره سم یې همالته د چراټ په جامعه اسلامیه محمدیه کې د خپل والد صاحب تر نظرلاندې تدریسي مرحله پیل کړه، نږدې۱۷کاله یې په پرلپسې ډول دوام ور کړ، ېېلا بېل فنون یې درس کړل او همالته یې وروستي ۴ کاله وړه دوره هم درس کړه.

پر۱۴۲۸هـ ق پېښور باغبانانو په نور المدارس نومې مدرسه کې د شیخ الحدیث په توګه خدمت تر سره کړ، د تفسیر او حدیث (وړې او لویې) دورو ګډ کتابونه یې د شیخ الحدیث مولوي نورالله منیر صاحب په ملتیا درس کړل، خو دغه کال له بده مرغه د چراټ جهاد کلي ونړېد او د شیخ صاحب رحمه الله د تدریس چټکه لړۍ یې ټکنۍ کړه، د۳۰-۱۴۲۹هـ ق دوه کاله یې د پېښور ماشوخیلو په دار العلوم اسلامیه محمدیه کې د استاد او شیخ الحدیث په توګه د حدیثو (لویې) دورې تدریس پر مخ یووړ.

وروسته پر۱۴۳۱هـ ق د خیبر پښتونخواه ریګي سیمې احیاءالاسلام نومې مدرسې د حدیثو خدمت ته و بلل شو او

بیا۱۴۲۲هـ ق ببرته د باغبانانو نورالمدارس مدرسې ته را وګرځېد او یو کال یې د نبوي حدیثو د استاد په توګه خدمت ترسره کړ، له هغه وروسته یې د پېښور پندو چوک روضة الاسلام په مدرسه کې له ارواښاد شیخ الحدیث مولانا محمد یوسف رحمه الله سره پر ګډه د لویې دورې کتابونه درس کړل، دغه راز د پېښور ستېشن جامعې نصیریې او د پېښور یونیورسټي روډ سپین جمات د احیاء العلوم مدرسې د حدیثو خدمتونه یې سرته رسولي وه.

د ګڼو لاملونو له وجې په۱۴۲۷هـ ق کال کابل ته له ستنېدو وروسته کله چې یې تره شیخ الحدیث مولوي عبد الرشید صاحب رحمه الله وفات شو زامنو یې د لویې دورې پاتې درسونو د تکمیل لپاره مرحوم شیخ صاحب رحمه الله د هغه ځای ناستی وټاکه چې په ډېره ښه توګه یې پاتې درسونه سرته ورسول او طالبان ترې ډېر خوشاله و.

۱۴۳۸هـ ق کال په داسې حال کې د کابل ولایت د بني حصار ولایتیو سیمې سراج الاسلام نومې مدرسه کې د لویې دورې د شیخ الحدیث په توګه وټاکل شو چې له پخوا راسې له نورو ناروغیو کړېده او تازه د سرطان ناروغۍ هم پرې حمله کړې وه او حالت یې ورځ تربلې بدلېده، خو دوره یې په بریالیتوب سره سر ته ورسوله او په پای کې یې لسګونو فارغانو ته د ملایي پګړۍ وتړلې.

د ژوند د وروستیو په داسې مهال کې چې د ناروغۍ کچه یې بېخي لوړه شوې وه، د کیموتراپۍ په نوم خطرناکو واکسینونو څخه یې پکې کار اخېسته او له نږدې یو کال راسې یې پوره خوراک او څښاک نه درلودل، د کابل ولایت بدخاک سیمې په جامعه نعمانیه مدرسه کې چې سرپرستي یې مولوي محمد ګل وهاج صاحب حفظه الله پر غاړه لري په وروستي ځل د حدیثو خدمت ترسره کړ، سلګونو طالبانو ته یې د مبارکو احادیثو دوره سرته ورسوله او پر همدې یې علمي او تدریسي بهیر هم پای ومونډ.

اثار یې: دا چې په پیل کې شیخ صاحب رحمه الله د تدریس چارې ښې په درز کې رواني کړې وې او په چراټ کې یې د فنونو او بیا وریسې وړې دورې په تدریس کې ښه خوله تویوله، همالته یې په وروستیو کلونو کې نږدې۴۰۰شاګردانو ته وړه دوره درسوله، له هغه راوروسته یې هم توله خواري او زیار پر مطالعه، درسي مضامینو، باطني تزکیه او تربیه ور تول و، او بیا چې ځیني اوږدو ناروغیو هم تر ګرېوان ونیوه د ژوند تر وروستیو شیبو ترې کړېده لیکنو او تألیف ته یې پرې نه ښود.

نو د لیکنې او تألیف د خدای ج ور کړې وړتیا، لېوالتیا، غوره ملکې او ژوري مطالعې سربېره یې له دوو اثارو پرته چې خورا ګټور او د کتونکو په ژوند کې بشپړ بدلون راوستونکي دي، نوري لیکنې یې نه درلودې، د عربي ژبې (الضوء اللامع فی العلم النافع) اثر یې د طالب العلمانو لپاره په زړه پوري لارښووني، مالوماتونه، مشورې او...را نغاړي، او پښتو أثر (قلائد اللؤلؤ والمرجان في حیاة شیخ عبد القدوس جان) یې د خپل والد او مرشد صاحب سوانح او د ژوند ټول اړخونه په پېیلو او ناپېیلو کېسو کې را اخیستي دي.

تصوف او حجونه یې: دا چې شیخ صاحب رحمه الله د خپل والد صاحب پر غوښتنه باطني علم ترهغه و ځنډاوه څو له ظاهري هغه څخه ور فارغ شي، همغه و چې د۱۴۱۴هـ ق کال د روژې پر۲۷مه یې په تصوف کې هم له خپل والد صاحب څخه لاس نیوی وکړ، شیخ صاحب رحمه الله لیکلي پر لومړي ځل یې د نفي او اثبات (لااله الاالله) او ذکر قلب (الله) دواړه سبقونه راکړل، نوموړي په ډېره کمه موده کې د تصوف ټولې مرحلې رالنډې کړې او پر۱۴۲۰هـ ق کال یې له خپل مرشد والد صاحب څخه د هغه تر وفات لېږ مخکې د خلافت اذن ترلاسه کړ، د حضرت والد صاحب له وفات وروسته د هغه ځای ناستی شو او د ژوند تر پایه یې سلګونو مریدانو له فیض څخه ګټه پورته کړه.

شیخ صاحب رحمه الله له فراغت درې کاله وروسته لومړی ځل پر۱۴۱۲هـ ق کال د بیت الله شریف د حج فریضه ادا کړه، وریسې دوهم ځل پر ۱۴۱۳هـ ق او وروستی ځل پر۱۴۲۴هـ ق کال حج ته لاړ، له دې دریو حجونو پرته یې ځلونو واره د عمرې سعادت هم پر برخه شوی او عمرې ته تللی وه، عمرې ته وروستی ځل د۱۴۳۸هـ ق روژه کې لاړ او هلته یې اعتکاف وکړ، خو بیا یوه نوې او ناڅاپه ناروغي ور پېښه شوه او پاکستان ته د تداوي لپاره ترې راستون شو.



شخصــيت يــې: د شــيخ صــاحب رحمــه اللــه د لوړشخصيت په اړه ډېرڅه ويل هم كم دي، خو د دې لنډې ليكنې په وړه غېږه كې بيا ېبخي ليږ څه هم ډېر دي، نو د هغې د اوړدېدو له أمله د شيخ صاحب رحمه الله په اړه د عقېدت مندو له ګڼو خاطرو او د مشائخو له تأثراتو را تېرېږو او يواځې پر دوو يې بسنه کوو.

شيخ الحديث مولوي محمد اسماعيل رحماني صاحب پـه خپـل تـأثر كـې لـيكي: شـيخ الحـديث حضرـت مولانـا عبدالمالك قدوسي نورالله مرقده له شك پرته د خپل وخت د علـم، نورانيـت، تـدريس فقاهـت لويـه متبركـه هسـتي وه، تدريس يې مثالي و، د ځوانۍ پر منګ كې متعال رب جل مجده پرې د حـديثو د اسـتادۍ مسـند او مقـام ولـوراوه، پـه تصوف، تزكيه او رياضت كې الله پـاك د فـيض لويـه سرچينـه پرلاس وركړه.

حضرت شيخ صاحب په داسې حال کې چې خورونکې ناروغۍ له وخته ورسره غاړه غړۍ وه، خو له تـدريس رياضـت سره سره يې د تأليف او تصنيف اهم رسالت هم له پامـه نـه و غورځولی...، زما پر فكر مرحوم شيخ صاحب ته چې الله پـاك دومره علمي او معنوي ځانګړتياوې او كمالات ور كـړي و څـه په د ده خپل اخلاص، استعداد او هڅې وې، خـو زياتـه حصـه يكې اړومرو د شيخ صاحب د والد ګرامي د خپـل وخـت لـوی ولي الله، بزرګ، نوميالی محـدث او د تصوف امـام حضرـت مولانا عبد القدوس جان اخندزاده دعاګاني، ظاهري او بـاطني پاملرنې ورسره شامل حال وې.

شيخ الحديث مولوي عبدالسلام فقير صـاحب پـه خپـل تأثر كې ليكي: شيخ مرحوم زما ملګری، همځولی او يـو وخـت د درس ملګری هم و، هغه ته الله تعالی يو لوړ علمي استعداد ور كـړی و، د خپـل مرحـوم والـد صـاحب رحمـه اللـه سره پـه صـورت او سـيرت دواړو كـې ورتـه و او د هغـه نيابـت يـې پـه كامله اوتامه طريقه سرته ورساوه.

مرحوم شيخ صاحب د شريعت او طريقـت دواړو خـادم و، د نبوي حديثو او نورو علومو يې ډېر خدمت وكړ او د هغـو ترڅنګ يې په تصوف كې هم ډېر خدمت وكړ، ډېـر شـاګردان او مريدان يې تيار كړل، كه څه هم هغه نسبي اولاد نه درلـود، خو معنوي او روحاني اولاد يې زيات وه، مرحوم شيخ صاحب لوی مبلغ او خطيب هم و، الله تعالی ورتـه ځواكمنـه حافظـه وركړې وه، جالب، زړه ښكونكی او جامع بيان يې درلود.

وفات يې: د شيخ صاحب رحمه الله هغه ناروغي چـې د عمرې پـه مهـال ورتـه پيـدا شوې وه د تېر۱۴۴۰هــ ق كـال د روژې مياشت كې يو ځل بيا ډېره شوه، د درملنې پـه موخـه پېښور ته يووړل شو او هلتـه رحمـن هسـپتال كـې بسـتر شـو، نږدې يوه مياشت وروسته اسلام اباد ته نقل او د قائـد اعظـم هسپتال سرطان څانګـه كـې بسـتر شـو، خـو يـو ځـای يـې هـم صحت ښه نه شو بلكې ناروغي يې لا پسې سختېدله.

درې ورځــې وروســته بېرتــه پيښــور تــه راوړل شــو او د وروسـتي ځـل لپـاره د كويټيـانو هسـفتال پـه (ICU) وارډ كـې داخـل كـړای شـو، د۱۴۴۰هــ ق ذوالقعـدې/مياني مياشـتې پر۱۵مه نېټه د پنجشنبې په ورځ چې د۱۳۹۸هـ ش كال زمـرې مياشتې له۲۷مې سره برابره وه د سهار په شپږ بجې د نبـوي مباركو احاديثو د زرګونو طالبانو او عالمانو دغه لوراند استاد، نه ستړې كېدونكی عـالم او عـارف او زمـوږ د ټـولنې سـتره او حيـاتي سرمايـه شـيخ الحـديث محمـد عبـدالمالك القـدوسي الكابلي خپل روح د هغـه حقيقـي مالـك تـه و سـپاره او لـه دې نړېدونكې نړۍ يې بيرته سترګې پټې كـړې، انـا للـه وانـا اليـه راجعون.

د نوموړي جنازه په همغه ورځ خپل پلرني ټاټوبي د كابل ولايت د موسهي ولسوالۍ عبدالرؤف كلا ته يـو وړل شـوه او د زرګونو شاګردانو، مريدانو او عقېدت مندو له لوري يې د هغه د منځنـي ورو شـيخ الحـديث مولـوي عبـدالرقيب صـاحب (حفظه الله) په امامت د جنازې لمونځ ادا شو او د خپـل والـد شيخ الحديث محمد عبدالقدوس جان الكابلي رحمـه اللـه تـر څنګ خاورو ته وسپارل شو. روح يې ښـاد او يـاد يـې تـل پـاتې اوسه.

مسئولیت های ما

در قبال استحکام بیشتر امارت اسلامی؛

پیشنهادها و مشوره های چندی

بخش اول

ابوظهیر مولوي شمس الدین منصور
ترجمه : حبیبی سمنگانی

ثبات، استقامت و پایداری بر اهداف و مقاصد فکری، ارزش حیاتی برای هر نهضت سیاسی، حرکت جهادی، گروه انقلابی و جنبش اصلاحی دارد. نیز بقا و استحکام احزاب اجتماعی و سیاسی و نهضت های جهادی و انقلابی وابسته به وحدت، نظم و نسق، و تحکیم و حصانت مادی آن است.

استحکام عبارتست از محکم شدن و محکم بودن. جمع او استحکامات می آید. عرب ها می گویند : استحکم علیه شیٌ فلانا.

در عالم نباتات، درختی که ریشه عمیق در زمین داشته باشد، نه تنها از سیل ها، آفت ها و بادها نسبتاً مصئون می باشد، بلکه شاخ ها و برگ های آن نیز تر و تازه می باشد. قرآن عظیم الشان این حقیقت را با اسلوب زیبای خود بیان نموده است : كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ – سوره ابراهیم : ۲۴ – مفسرین می نویسند : الشجرة الطیبة تشمر الثمر النافع.

در جهان معاصر، نظام سیاسی و دولت که در کنار قدرت صنعتی و اقتصادی، بر بنیادهای فکری، دفاعی، تعلیمی و فرهنگی خود نیز محکم ایستاده باشد و ریشه های عمیقی در جامعه و مردم هم داشته باشد، نظام مستحکم و دولت قوی خوانده می شود. هر چه آن نظام سیاسی و دولت که رشد صنعتی و اقتصادی داشته باشد، اما نهادهای فکری، دفاعی، تعلیمی و فرهنگی آن قوی نباشد، نظام یا کشور مستحکم شمرده نمی شود.

آگاهان و مفکران سیاست اسلامی چنانکه پیشرفت صنعتی و اقتصادی را برای بقای نظام سیاسی لازم می دانند، هماهنگی، قوت فکری و وحدت ذهنی افراد و کارمندان آن را نیز عنصر کلیدی برای آینده روشن آن نظام می دانند. از نگاه دانشمندان : جذبات خروشان قربانی برای حصول اهداف خود، عنصر مهم دیگریست که سبب توانایی و پایداری بیشتر نظام سیاسی و صف جهادی شده می

تواند. یعنی پیروان نظام و صف باید برای به دست آوردن اهداف علیای خود، بر علاوه از قربانی مادی، آماده قربانی جانی نیز باشند.

بدون شک، امارت اسلامی افغانستان در راستای اعلای کلمة الله، حاکمیت نظام اسلامی و دفاع از کشور، تاریخ شایان و درخشان قربانی ها و فداکاری ها را ثبت تاریخ نموده است، که نظیر آن در کشورهای اسلامی و غیر اسلامی عصر کنونی یافته نمی شود.

امواج تازه فتوحات نظامی و سیاسی امارت اسلامی بیان گر اینست که دشمن ما در جنگ کنونی شکست خورده و برای راه فرار دست و پا می زند. امروز باشد یا فردا، زمام زعامت سیاسی کشور بار دیگر به دست امارت اسلامی قرار می گیرد و وظائف و مسئولیت های امارت اسلامی وسعت و افزایش می یابد. ان شاء الله. و این همان مرحله ایست که قرآن عظیم الشان به زبان خود به «خلافت، استخلاف و تمکن فی الارض» تعبیر نموده است، و هدف عمده آن، عظمت و سربلندی اسلام در روی زمین است. قرآن عظیم الشان رسیدن به این هدف را نعمت عظیم خوانده است، که در بدل ایمان و عمل صالح عطا می گردد.

از نگاه قرآن : هدف از خلافت یا امارت، سپردن زمام جامعه به دست قشر نیکوکاری است که می خواهند قانون فراگیر خداوند متعال را برای رفاه، خوشحالی و پیشرفت بشریت بر روی زمین نافذ و رائج کنند و زمین را از مظالم، وحشت ها و بی رهروی ها پاک بسازند.

ضرورت وحدت، نظم و نسق در صف اسلامی:

امیدوارم که میلان غیر اختیاری نویسنده به وسعت های علمی و معنوی موضوع فوق، بر طبع خوانندگان عزیز گران تمام نشود، بلکه وضاحت در مورد جوانب متعدد این موضوع، ذوق مطالعه شان را کمک نماید.

شریعت اسلامی در عرصه استحکام و دوام نظام سیاسی، دو اصطلاح خاص لفظی را مورد توجه قرار داده است. خوانندگان گرامی را دعوت می دهیم که بر این دو اصطلاح لفظی غور و فکر بکنند:

اصطلاح اول لفظی «اجتماع و ائتلاف» و اصطلاح دوم «اشتات و انتشار» است.

تمام مراتب و اسباب اساسی مرگ و زندگی، ترقی و تنزل، خوشبختی و بدبختی را که قرآن عظیم الشان برای مسلمان ها، بلکه سائر اقوام جهان بیان نموده، درین دو اصطلاح لفظی منحصر شده است. بناءً لازم است که در راستای ایجاد نظام سیاسی و اداری و تشکیل صف جهادی امارت اسلامی به مفاهیم این دو اصطلاح لفظی توجه زیادی صورت بگیرد.

اجتماع : اجتماع عبارتست از «ضم الشي بتقریب بعضه من بعض» ، پیوند دادن و چسپاندن اشیای مختلف به یکدیگر (مفردات امام راغب.(

ایتلاف : ایتلاف عبارتست از «ما جمع من اجزاء مختلفة و رتب ترتیبا، قدم فیه ما حقه أن یقدم، و اخر فیه ما حقه أن یؤخر» ، یعنی یکجا کردن اشیای مختلف به تناسب و ترتیبی که هر چیز در جای که مناسب است آورده شود، یعنی آنچه حق اولویت را دارد باید اول آورده شود و آنچه حق تاخیر را دارد باید مؤخر آورده شود.

هدف از اجتماع و ایتلاف در نظام اینست که هرگاه قوت های مختلف کاری در یکجا، یک مرکز، یک سلسله، یک قوت و یک فرد، به شکل فطری و مناسب جا داده شود. حالت یا مرحله اجتماعی و انضمامی تمام مواد، قوت ها، اعمال و افراد صورت می گیرد. حتی هر قوت و عمل با یکدیگر در یکجا شدن و هر فرد با فرد دیگر در الصاق، مانند حلقات زنجیر از اول تا اخیر، چنان متحد و متصل معلوم

شود کـه دران هـیچ درز، جدایی، انتشـار و اختـلاف دیـده نشود.

هرگاه در ماده چنین نظم اجتماعی و انضمامی پیدا شود، مراتب تخلیق، تکوین و وجود ظهور مـی یابـد. قـرآن عظـیم الشان این را به اصطلاح خود به «تخلیق» و «تسـویه» تعبیـر نموده : الَّذِیْ خَلَقَ فَسَوّٰی) الاعلی : ۲).

پس زندگی و وجود نیسـت مگـر اجـتماع و ایـتلاف، و مرگ و فنا نیست مگر ضد آن. همین حالت هرگاه بر اعـمال و افعال طاری گردد دبه زبان مردم «خیـر» و بـه زبـان شریعـت «عمل صالح و حسنات» گفته می شود. و هرگاه این حالت بر جسم انسانی عارض شود در اصطلاح طب به «صحت» تعبیر می شود و طبیب آن را زندگی می گوید، و هرگاه بـر نیـرو و عمل زندگی ملی و اجتماعـی طـاری شـود «زندگی ملی و اجتماعی» می گردد و جهان آن را بـه شـکل سربلندی ملی، ترقی و خوشحالی یک ملت یا مردم مشاهده مـی کنـد. پـس الفاظ بسیار و معنی واحد، و لنعم ما قیـل : عبارتنـا شـتی و حسنک واحد و کل الی ذاک الجمال یشیر.

ضـد اجـتماع و ایـتلاف «اشـتات و انتشـار» مـی آیـد. اشتات از شتت ماخوذ اسـت بـه معنـای تفریـق، اختـلاف و پراکنده شدن. یقال : شت جمعهم، شتا و شتاتاً و جاوا اشـتاتا ای متفرقی النظام اشتاتا (مفردات ۲۵۶).(

در قرآن عظیم الشان آمده است : يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا) الزلزلـه : ٦ (مِّن نَّبَاتٍ شَتَّىٰ) طـه : ۵۳ (وَقُلُوبُهُمْ شَتَّىٰ ۚ (الحشر : ۱۴(

انتشـار مـاخوذ اسـت از نشر بـه معنـای پراکنـده شدن. فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا) الجمعـه : ۱۰) یعنـی تفرقوا. مراد از اشـتات و انتشـار حـالتی است کـه پـس از اجتماع و ایتلاف، یا جدا شدن از یکدیگر پیش می آید. هرگاه در صلاحیت ها، استعدادها، اعمال، افراد و هر چیزی دیگری، حالت متضاد با حالت اول عارض گردد، جای تکوین را فساد و جای وجود را عدم می گیرد. و این بیماری است که هرگـاه در زندگی اجتماعی یک قوم، ملت و گـروه ظهـور کنـد، آن قوم، ملت و گـروه بجـای پیشرفـت بـا عقـب نشـینی، بجـای عروج با تسفل، بجای ترقی با تنزل، بجای عظمت بـا ذلـت و بجای حکومت با محکومیت مواجه می شود و بالاخره مـرگ می رسد و از قافله زندگی خارج می شود.

مختصر اینکه قران عظیم الشان در چندین جـا اجـتماع، ایتلاف و اتحاد را رحمت و نعمت برای زندگی ملـی خوانـده و به تعبیرات شایانی همچو اعتصام بحبـل اللـه یـاد نمـوده، تمام عرب و عجم را مخاطب قرار داده است:

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ۚ وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ – آل عمران : ۱۰۳

ترجمه : و چنـگ افگنیـد بـر ریسـمان خـدا همـه شـما و پراکنده مشوید، و یاد آرید نعمـت خـدا را کـه بـر شـما اسـت وقتیکه بودید دشمنان، پس الفت انداخت میان دل های شـما، پس گشتید به نعمت خدا برادر. و بودید بر کناره گـودالی از آتش، پس نجات داد شما را از آن. همچنین بیان می کند خـدا به شما آیات خویش را تا راه یابید.

ضرورت پیروی از زعامت و صف اسلامی :

با در نظر داشت این فرمان خداوندی «وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا....» امارت اسلامی باید به هدف اعتصـام بحبـل الله وقتاً فوقتاً برنامه های فراگیـری بـرای اتحـاد، اجـتماع و ایتلاف صف خود داشته باشد. دین یا نظامی که بـرای نفـاذ، عظمت و سربلندی آن مجاهدین قربانی می دهند، در هر حـال به التزام بر جماعت و صف، و اطاعت از امیر حکم می کنـد. اگر امیر بعضی کوتاهی ها و کمبودی ها داشته باشد، باز هم

دین اسلام به اطاعت از او تاکید می کند، به شرط اینکه او نماز را قائم بکند.

مسلمانی که خود را از جماعت و صف جدا کرد، گویا خود را به شیطان سپرد. در روایتی آمده است که «فان الشیطان مع الواحد» یعنی کسیکه تنها باشد شیطان با اوست. با یکجا شدن دو انسان شیطان فرار می کند، یعنی با یکجا شدن دو نفر نیروی اتحاد پیدا می شود و آن ها به زودی از حق منحرف نمی شوند. امام بیهقی از طریق امام شافعی – رحمهما الله – نقل کرده است که او برای اثبات اجماع، از روایت فوق استدلال نموده است. همچنان از حدیث متواتر بالمعنی «علیکم بالسواد الاعظم» و احادیث دیگری، حکم پیروی از جماعت به صراحت معلوم می شود، که تفصیل آن سبب طوالت بحث می گردد. اما خلاصه احادیث اینست که زیستن در پهلوی جماعت مسلمان ها، شرعاً عمل مطلوب است و آنکسی که از جماعت دوری اختیار می کند، جای او دوزخ است. تجربه نیز نشان می دهد که فرد واحد بسیار به زودی با هلاکت رو برو می شود، اما گروه و صف صالح آنقدر زود با هلاکت مواجه نمی شود، زیرا دست الله بر آن ها می باشد (ید الله علی الجماعة) ، نیز پروردگار سبحانه و تعالی نمی خواهد امت بر گمراهی جمع شوند.

اجتماعیت نزد خداوند متعال آنقدر محبوب است که دعای را که در سوره فاتحه برای مسلمان ها تعلیم می دهد، با صیغه واحد متکلم نه بلکه با صیغه جمع آورده است. حال اینست که این دعا فردا فردا هم خوانده می شود. خداوند متعال اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ (الفاتحه : ۵) فرموده است نه «اهدنی.....» . همچنان قرآن و اسلام وجود یک فرد را هستی نمی گوید، بلکه زندگی اجتماعی را هستی می گوید، و اعمال فرد هم برای اینست که از تالیف و اجتماع آن هیئت اجتماعی پیدا شود. نیز دعای امتیازی را که اسلام برای ملاقات و در اثنای رو برو شدن با یکدیگر تعلیم داده، با صیغه جمع آورده نه صیغه واحد، یعنی السلام علیکم.

باید درک کنیم که حقیقت اجتماعیت و ایتلاف در هر بخش و شاخه احکام و اعمال شریعت به عنوان اصل و اساس دیده می شود. هر اندازه که بر احکام شریعت فکر کنیم و با تعمق بیاندیشیم، اسرار و براهین اجتماعیت را گام به گام مشاهده می کنیم. تاکید بر ادای نمازهای پنجگانه با جماعت، اجتماعات نمازهای جمعه و عیدها و عبادت اجتماعی حج، این همه بیانگر تعهد و اهمیت دادن دین اسلام به اجتماعیت است. فرضیت زکات نیز برای بقا، رفاه و بهبود زندگی اجتماعی است. از همینست که هر کسی اختیار صرف نمودن زکات را ندارد، اما بدبختانه، امروز مسلمان ها به این نکته مهم ارزش نمی دهند. راه بهتری را که شریعت رهنمایی نموده، اینست که خلیفه و زعیم وقت مسلمان ها زکات را جمعآوری نموده، سپس مصارف آن را تشخیص می دهد و از مصارف منصوصه، هر آن مصرفی را که برای او مهم معلوم می شد، ترجیح می دهد. اسلام حتی بر راست ایستادن در صفوف نماز تاکید می نماید و می فرماید : لَتُسَوُّنَّ صُفُوفَكُمْ أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللَّهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ (البخاری).

و در روایت انس – رضی الله عنه - « سَوُّوا صُفُوفَكُمْ فَإِنَّ تَسْوِيَةَ الصُّفُوفِ مِنْ إِقَامَةِ الصَّلاَةِ» (البخاری) و در روایت دیگر «من تمام الصلوة» آمده است. حاصل اینست که اگر به ادنی یا اعلی ترین حکم و روایت شرعی فکر بکنیم، این حقیقت روشن می گردد که وحدت اسلامی عبارت از خاک های پراکنده نه، بلکه دیوار محکمی است. خاک و ریگ های پراکنده وجود مستقلی ندارد، بلکه وجود اجتماعی شان در وجود دیوار دیده می شود. همچنان افراد مختلف نیز وجود مستقل و کامل ندارند و وجود اجتماعی آن ها به صورت اتحاد، ایتلاف، نظم و نسق تظاهر می کند.

رموز و صفات رهبری در ترکیب صف اسلامی :

حدیث حارث اشعری درین باب از همه مشهورتر است، که امام احمد بن حنبل – رحمه الله – در مسند خود و دیگران نیز نقل نموده اند. نظام عملی اسلام درین حدیث به ترتیب بیان شده است :

أَنَا آمُرُكُمْ بِخَمْسٍ اللَّهُ أَمَرَنِي بِهِنَّ: الْجَمَاعَةُ وَالسَّمْعُ وَالطَّاعَةُ وَالْهِجْرَةُ وَالْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ.

رسول الله – صلی الله علیه وسلم – می فرماید : من شما را به آن پنج چیزی امر می کنم که خداوند متعال مرا به آن امر نموده است. جماعت، سمع، اطاعت، هجرت و جهاد در راه خدا.

حرف اول اینست که مسلمانان هر کشور و منطقه بر زعیم و امیر واحد گردهم آیند، یعنی با مرکز خود وابسته شوند و هیچگاه ازان فاصله نگیرند. زندگی که به گونه جماعت و تابع امیر واحد نباشد، اسلام آن را زندگی غیر اسلامی و راه شیطانی می داند. همچنان اسلام زندگی انفرادی را نیز زندگی اسلامی نمی داند، بلکه تنها زندگی اجتماعی را زندگی اسلامی می گوید. مراد از جماعت مجموعه یا جامعه ایست که اتحاد، ایتلاف، امتزاج و نظم و نسق داشته باشد.

اتحاد : مراد از اتحاد اینست که مسلمان ها در امور زندگی پراکنده نباشند، بلکه با هم پیوست باشند. کارها را مشترکا انجام می دهند و شکاف و بیگانگی میان شان حائل نباشد.

ائتلاف : مرتبه ائتلاف از اتحاد هم بالاتر است. در اتحاد تنها یکپارچگی معتبر است، ضرور نیست که یکپارچگی میان افراد با تناسب و ساختار مناسب باشد. هر چه مقصود در ائتلاف، اتحادیست که تناسب و ساختار مناسب میان افراد هم داشته باشد، یعنی افراد منتشر و مختلف با یکدیگر چنان ضم و یکجا شده باشند که برای هر فرد به تناسب استعداد و صلاحیت او، جا داده شده باشد. در ساختار اجتماعی و انتظامی، وظائف افراد با در نظرداشت استعدادهای شان تعیین می شود. نه اینکه زید سزاوار رهبری و زعامت باشد، اما از او کار جاروکشی گرفته شود و یا فهم و درایت عمرو به اندازه چند گرام باشد، اما از او به اندازه چند من کار گرفته شود.

امتزاج : مرتبه سوم ایجاد صف مسلمان ها امتزاج است. در امتزاج، اتحاد در کیفیت ترجیح بر اتحاد در کمیت دارد و باید با در نظرداشت و یکجا کردن مزاج اجتماعی و طبعی هر فرد، کیفیت متحد به دست آورده شود. خودداری از یکجا نمودن دو نفری که در طبعیت، خصلت و صلاحیت های شان تضاد بزرگی وجود داشته باشد، یکجا کردن آن ها مانند یکجا کردن آب و تیل می باشد، که پس از یکجا شدن هم، هر دوی شان جدا جدا معلوم می شوند. خداوند متعال عناصر مختلف را ازین سبب پیدا نموده است که با یکجا کردن آن ها جماعت و صف متشکل شود. زیرا جماعت یا صف، موجودِ مرکب است و افراد عناصر آن هستند. فرد وجود کامل نیست، بلکه محض مثنی است، تا دیگر اجزای پراکنده با آن یکجا نشود وجود آن کامل شمرده نمی شود. پس شناختن امتزاج از ضروریات است.

نظم : مقصود از نظم، آن حالت ترتیبی و تقویمی صف، تنظیم و یا جماعت است که تمام افراد و اعضا در جای خود ایستاده و در دائره های کاری خود محدود و برای انجام دادن فرائض و مسئولیت های خود مصروف و مشغول باشند.

هر آن صف، گروه و یا جماعتی که خواص و اوصاف اجتماعی فوق الذکر را نداشته باشد، تا مدت زیادی به حالت طبعی خود باقی نمی ماند. بصیرت و تجربه زعیم فعال و مدبر نقش کلیدی در تطبیق این اوصاف و خواص اجتماعی

دارد. او می تواند با فراست و ذهانت خود افراد منتشر و پراکنده را در صف متحد، مؤتلف و منظم یکجا و جمع‌آوری کند. مثلا : در افغانستان، از قرن ها به اینسو هزاران تن علما، روحانیون و طلبا در هر عصر وجود داشتند، اما هیچگاهی همانند امروز متحد، منظم و در صف واحد نبودند، دلیلش چیست ؟ جوابش ساده و واضح است که درمیان آن ها شخصیت، قائد و رهبر مبتکری همچو امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد - رحمه الله - وجود نداشت، که آن ها را در صف متحد، منظم و ممزوج گردهم می آورد. امروز که لله الحمد در نتیجه للهیت و اخلاص مرحوم امیر المؤمنین از نیروی مسلّم و فعال سیاسی و جهادی در سطح جهان همچو امارت اسلامی بهره مند شده ایم، باید برای اتحاد و تنظیم بیشتر این صف، مسئولیت های خود را درک کنیم. بدون شک، ما امروز از بعضی فرصت های مثبت و چانس های تاریخی بهره مند هستیم. باید با از دست دادن این فرصت ها و چانس ها، دچار جنایت و طعن تاریخی نشویم. جای خوشی اینست که اکثریت قاطع علما، روحانیون، طلبا و مجاهدین کشور درین صف به اطاعت از رهبر و قائد واحد گردهم آمدند. باز هم تکرار می کنم که این مرهون احسان اخلاص و قیادت مدبرانه مرحوم ملا صاحب است که امروز امارت اسلامی به حیث نیروی متحد و منظم جهادی و سیاسی، نیروهای مغرور و متکبر جهان را سراسیمه ساخته است. ثم الحمدلله.

برای اینکه صف کنونی جهادی وسیاسی ما قوی و مستحکم تر شود، با توجه به شرایط حساس و دشوار فعلی کشور، علما، روحانیون، طلبا، مجاهدین و عامه مسلمان ها مسئولیت و مکلفیت دارند که وجود امیر المؤمنین شیخ الحدیث مولوی هبة الله آخندزاده - حفظه الله - را به حیث امام شرعی نعمت پروردگار دانسته، صلاحیت ها و استعدادهای خود را بجای که در بحث های ثانوی و غیر ضروری صرف کنند، باید برای اتحاد این صف بکار ببرند. پس از وفات مرحوم ملا صاحب، علما، روحانیون و مجاهدین کشور از قیادت و زعامت با تجربه و با بصیرت محترم شیخ الحدیث هبة الله آخندزاده - حفظه الله - و نائبین او محترم خلیفه صاحب ملا سراج الدین و محترم مولوی محمد یعقوب بهره مند هستند. لازم است که قشر کنونی دینی پس از سربلندی وآزادی کشور، اتحاد واتفاق را محور تمام مساعی وتلاش های خود بگردانند و با تطهیر صلاحیت های ذهنی وفکری افراد منتشر، به تطبیق معیارها و اصول اتحاد، ائتلاف، امتزاج و نظم ونسق توجه زیادی داشته باشند.

امر دوم در حدیث حارث اشعری «السمع» است، یعنی احکامی را که امام یا زعیم صادر می کند، شنیدن آن و رهنمایی گرفتن از آن. علما نوشته اند: در«سمع» اشاره به قبولیت احکام امیر و رهنمایی گرفتن ازان است. دانسته می شود که امام مسلمان ها حیثیت معلمانه هم دارد و او بر علاوه از دیگر مواصفات و ویژگی ها، معلم و رهنما هم می باشد.

امر سوم «طاعت» است یعنی سپردن همه صلاحیت های عملی خود به امام، در درجه کامل اطاعت از او. همچنان عمل کردن بر حکم او بدون چون و چرا. البته اطاعت در معروف نه در معصیت. انما الطاعة فی المعروف.

محمد داود مهاجر

بخش دوم و پایانی

طالبان، نمونه ای از جهاد و سیاست معتدل اسلامی

مجاهدین امارت اسلامی توانستند در مدت کوتاهی، با وجود همه فشارهای اقتصادی، سیاسی و مشغول بودن به نبردهای باقی مانده در بعضی از ساحات شمال کشور، حکومتی برپایه سیاست شرعی به وجود بیاورند و امنیتی را به مردم خویش تقدیم کنند که نظیر آن را در ادوار نزدیک کسی مشاهده نکرده است.

می توانیم آنچه را که طالبان به عنوان یک حرکت نمونه و معتدل اسلامی و مردمی، از ابتدای پیدایش تا حالا برای ملت افغان و امت اسلامی به ارمغان آورده اند، در دو دوره به بحث بگیریم و بعضی از دستآوردهای شان را به عنوان «مشت نمونهٔ خروار» تقدیم خوانندگان کنیم.

طالبان و دستآوردهای شان در وهلهٔ اول:

طالبان توانستند تا ملت افغانستان را برای اولین بار بعد از جنگ های خونین داخلی در قالب اسم ها و حزب ها از تمامی اقوام، با زبان ها و رنگ های مختلف، زیر یک امر و بیرق با نام امارت اسلامی جمع کنند.

آن ها با این روند مخلصانه شان تمامی نام‌ها و گروه هایی را که جهت بدست آوردن منافع خویش و یا دیگران و استثمار مردم مظلوم ما فاتوق ها و تجارت خانه ها درست کرده بودند، از میان برداشتند. و از جمله بارزترین دستآوردهای امارت اسلامی طالبان می توان همین ایجاد وحدت و اتحاد را نام برد، چیزی که امروزه و بعد از عقب نشینی مجاهدین امارت اسلامی، مرغ عنقایی قرار گرفت که یافتنش جزو محالات شده و روز به روز احزاب بیشتری درست شده و پراکندگی اجتماعی و سیاسی دامنهٔ وسیع تری را زیر چترش می آورد.

طالبان، در قالب امارت اسلامی توانستند تا نظام شریعت و احکام الهی را بعد از سال ها فراموشی در جهان و گم شدن آثارش بعد از خلفای راشدین دوباره در افغانستان عزیز احیا کرده و پیاده کنند.

امارت اسلامی به عنوان ضربۀ کشنده ای برای مشکلات گسترده و جنگ های خونین داخلی گشت. جنگ هایی که سال ها داوم داشت و گویا هیچ رویایی برای حل آنها هم دیده نمی شد.

امارت اسلامی توانست تا کشور و امت مسلمان افغان را از اضمحلال سیاسی، تقسیمات جغرافیاییِ بدخواهان، و جنگ های پایان ناپذیر داخلی که زاده اغراض و اهداف بی‌گانگان بود، نجات دهد.

امارت اسلامی بر اساس مبانی اسلامی و شرعی به وجود آمد و جهت رسیدن به اهدافش از هیچ کوششی دریغ نورزید، لذا هیچ‌گاه زیر بار دیگران و بی‌گانگان نرفت تا منافع آنها را حفظ کند. چنانچه این روند در حال حاضر در بسیاری از کشورها دیده می شود و بسیاری از احزاب با اشارۀ دیگران خم و راست می شوند.

چسپاندن امارت اسلامی به پاکستان و یا هم گاهی به این و آن فقط یک دسیسه ای از طرف دشمنان است تا چهرۀ پاک آنان را خدشه دار کنند، اما نور خورشید با دو انگشت پنهان داشته نمی شود.

امارت اسلامی بنابر عقاید اسلامی و مخالفت با هرگونه آثار شرکی که مغایر با باورها و فرهنگ ملت این مرز و بوم باشد، آثار به جامانده از بت های بودا را برای همیشه از این خاک برچید.

و در این باب از ملامت هیچ ملامت گری نه هراسید و از فشارهای سیاسی در منطقه و جهان، هراسی به دل راه نداد. به هیچ قیمتی حاضر به معامله نشد و فروش آنها در برابر لک ها دالر را رد کرد. امارت اسلامی ثابت نمود که آنها بت شکن اند، نه بت فروش؛ ثابت نمودند که تزلزل در ارادۀ آنها مبنی بر دستورات شریعت وجود ندارد.

امارت اسلامی توانست کشور ما را از هیولای مواد مخدر نجات دهد و طبق برنامه های حکیمانه و سیاست معتدل خود، کشت آن را به درجۀ صفر برساند، رقمی که همه را در شگفت آورد. اما رژیم کنونی با مصارف هنگفتی که در این زمینه بکار می برند بازهم نتوانسته اند تا تغییر مثبتی در کنترول افزایش سرسام آور این مواد کشنده بوجود بیاورند و برعکس، روز به روز در حال رشد است.

سرزمین افغانستان باوجود تمامی مشکلات و تجارب سوء ظلم و ستم، به کشوری دارای امنیتِ عالی و آسایش روحی و جسمی مبدل گشت. یک پیرزنی کهنسال می توانست تا با حمل مقدار زیادی از پول و جواهرات سفر بکند و راه‌های دور و دراز را بپیماید، چیزی‌که دوست و دشمن، همگی بدان اعتراف دارند و برای کسی پوشیده نیست.

جهان اسلام از امارت اسلامی چیزی را فراگرفت که از دیر زمانی آن را به صفحۀ فراموشی سپرده بود؛ امارت اسلامی به همه آموخت که امری مهم از دین را امت اسلامی فراموش کرده است و آن نفاذ شریعت و قانون الهی در زمین است. و این را می‌توان از دستآوردهای بی‌نظیر مجاهدین طالبان دانست.

امارت اسلامی در پایان دورۀ اولش، با بزرگ ترین طاغوت زمان و گسترده ترین تحالف جهانی روبرو شد و در میان دو امر اختیار داده شد؛ راه بوش و یا راه حق و حقیقت ! بین اینکه مسلمانی بی‌گناه را به آن ها تحویل دهد و یا اینکه از روی زمین – به زعم آنها – محو گردد.

اما امارت اسلامی با شهامت و جسارت کامل، راه خدا و حکم شریعت را برگزید و در این باب سینه‌اش را برای استقبال از تمامی حوادث باز نمود.

امارت اسلامی کسی را بدون حجت و دلیل شرعی به کسی تحویل نداد و با باورداشتن به وعدۀ الهی، راه صبر و استقامت را انتخاب کرد.

همان بود که بخاطر بمباردمان های بی وقفه بر مردم مظلوم و ستمدیده، راه عقب نشینی از سنگر و جبهه ها را پیش رو گرفت و تاکتیک جنگش را به

نبردهای چریکی تبدیل نمود و دوباره از کوه ها و دره‌ها نعره های تکبیر را طنین انداز نمود.

دستآوردهای امارت اسلامی در مرحله دوم :

مجاهدین امارت اسلامی با هجومی وحشیانه و بمباردمان های کورکورانه آمریکا و ائتلاف ناتو روبرو شدند، که سبب عقب نشینی مجاهدین از شهرهای کشور و تبدیل نمودن تاکتیک جنگ با هیولای غرب، در لباس نو گردید.

امارت اسلامی در این جنگِ نابرابر تنها ماند و تمامی دولت هایی که امارت اسلامی را به رسمیت شناخته بودند، کنار رفتند و به اتحاد ضد امارت اسلامی یکجا شدند. کشورهای دوست و دشمن، بعد از هشدار بوش که «دنیا یا با ماست یا برعلیه ما» به جمع آن ها پیوستند و در نتیجه این تحالف خلاف حقیقت، گویا نام و نشان امارت اسلامی را حذف کردند، اما..... امارت اسلامی بعد از انسحاب و به قول دشمنان «سقوط کامل» در مدت کوتاهی توانست تا صفوف خود را از نو ترتیب دهد و آمادگی لازم برای آغاز جنگی جانکاه و طولانی را شروع کند. امارت اسلامی هیچگاه آرام نه نشست و از هیچ کوششی دریغ نکرد و نبرد را دوباره با وجود تمامی تنگناها و سختی ها - که از خود نوشته هایی مستقل را خواهانست - شروع کرد.

در هر کاری عموما جرقه اول کار بسیار مهم و حساس است، اما با توکل بر خداوند لایزال شروع کردند و بر او اعتماد نمودند. آری، آنها در برابر طوفان سهمگین صلیبی ها ناامید نشدند و از هیچ رشادتی دریغ نورزیدند.

امارت اسلامی با دست و پنجه نرم کردن با اژدهای غرب در مدت هجده سال، دوباره امید و اعتماد به نفس را به فرزندان امت اسلامی - که ظاهرا امیدشان را از دست داده بودند - بازگرداند و در کالبد خسته و کوفته شدهٔ امت اسلامی و بخصوص افغان ها، روح نشاط و عزت را دمید.

امارت اسلامی با پیکارهای خستگی‌ناپذیر و به زانو درآوردن دشمنان، گزینهٔ جهاد و قتال با مستکبران را، سر تیترِ نحوهٔ مقابله با زورگویان زمان قرار داد .

امارت اسلامی در کنار نبردهای مسلحانه خود، هیچگاه از امور سیاسی و گفتمان، خود را دور نگه نداشت و دروازهٔ گفتگو و مباحثه را نیز باز نگه داشت و به امر الهی مبنی بر رد نکردن دست صلح (وَإِن جنحواْ للسلم فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ) لبیک گفت و بدین جهت بود که دفتر قطر را با موجودیت نمایندگانی زبده، مجاهد، کارکشته و عالم باز نمود، تا باشد دشمن خسته شده از جنگ، فرصتی برای بازگشت از جنگ پیدا کند و ملت مسلمان ما را رها کرده، دست از سیاست های استعماری اش بردارد. و بگذارد تا افغانان مستقلانه حکومت دلخواه خود را ایجاد کنند.

امارت اسلامی عملا توانست تا بیشتر از نیمی از خاک افغانستان را از چنگال ددمنشان بستاند و حکومت اسلامی را با رعایت تمام زوایای تعلیمی، ثقافی، تربیتی، قضایی و غیره، بر مبنای تامینِ عدالت و امنیت عمومی در مناطق مفتوحهء خویش ایجاد و احیا کند.

امارت اسلامی توانست، با ایجاد کمیسیون های مختلف نظامی، تمامی جنگ ها و مجاهدین را تحت

کنترل کامل خود قرار دهد و از اعمال نظرات شخصی و قتل های کورکورانه و تلفات بی جا، جلوگیری کند.

امارت اسلامی در این مرحله از حیات جدیدش توانست تا بیشترین علما، طلبا، قاریان قرآن، جوانانِ ایثارگر و جوانان فدایی را در صفوفش جای دهد و در حقیقت، اساس وجودش را بر آن ها بنا نهد.

امارت اسلامی به تربیت عقیده‌وی و تربیت نظامی افرادش به مرحله‌ای از رشد و توسعه رسید که نمونهٔ آن کم‌تر دیده می شود.

و ده ها امور دیگری که نوشتن آنها صفحات دور و درازی را خواهانست.

در نتیجه مباحث مذکور، به گمانم تحریک طالبان، همان امارت اسلامی، از بزرگترین نهضت های جهادی و سیاسی برخواسته از دل مردم است. امارت اسلامی نسبت به ویژگی ها و شاخصه هایی که دارد، نسبت به عموم جماعت ها و احزاب دیگر اسلامی، از برتری خاصی برخوردار است. اگر چه آنان از نظر وجود بر امارت اسلامی مقدم بوده اند؛ یا از نظر تعداد افراد دارای تمایز خاصی بوده و از نظر ثروت و دارایی، غنی باشند، زیرا امارت اسلامی را رجالی خبره، عالم، مجاهد و اهل تجربه در میادین مختلف، رهبری می‌کنند.

مردانی که در خط های مقدم جنگ حضور فعال داشته و میدان های سیاست را نیز پر کرده اند و پیروزی های اخیرِ نمایندگان امارت اسلامی در دوحه قطر، از شواهد واضح بر این ادعاست.

می توان گفت که امارت اسلامی نمونه و الگویی نیک برای فرزندان و رجال امت ما، کسانی‌که در راس نهضت ها قرار دارند، به حساب می‌آید .

آنهایی که خواهان اقامهٔ دین و شعایر آن هستند، آنهایی که خواستار آزادیِ اراده، استقلال و حریتِ اقتصادی و سیاسی هستند، باید از مجاهدین امارت اسلامی الگوبرداری کنند و از تزویر این و آن خود را دور نگه دارند.

امارت اسلامی در حدود سه دهه فعالیت، جهاد، صبر و مقاومتِ جانانه، آثار مثبتی در دل‌ها و سینه‌های مردمانی با اراده‌های ضعیف انداخت و خورشیدش بار دیگر در حال درخشیدنی روشن تر از قبل است.

صبح صادق امارت اسلامی کرانه ها را درنوردیده و سپیده دم آن، چنین زمزمه‌ای را به گوش‌ها می نوازاند { أليس الصبحُ بقريب } آیا مگر صبح نزدیک نیست.

سیمه ایز پرونی او ننني سیاست!

لیکوال: ابواسامه (نیازی)

دتجربوپه رڼاکې منل شوی تعامل دادی چې نن ورځ د نړۍ وال اوسیمه ایزسیاست له مخې نـه قـانون اوقانونیـت تـه پـه درنـه سترګه کتل کیږي نه داخلاقومفهوم داهمیت وړدی نه ګاونډاوسیمه ایزتوب ته کوم ارزښت ورکول کیږي اونـه هـم پـه روان نـړۍ وال اوسیمه ایز سیاست کې انساني عواطف اوبشري نورمونه په پام کې نیول کیږي یواځې مفادات اوګټې دي چې دهیوادونوترمنځ دتعامـل اوراکړې ورکړې مناسبه زمینه اوشرایط رامنځته کوي یاپه بل عبارت دننني سیاسـت پـه دایـره کـې دنـړۍ هیوادونـه دمعقولـو، قـانوني اومنطقي پرېکړوپرځای یواځې دخپلوګټوپه اډانه کې مهم تصامیم نیسي په دې ماناچې نه په سیاست کې دایمي دوست شته اونه هـم تل پاتې دوښمني په ۲۰۰۱ میلادي کال کـې دامریکاپـه نـړۍ وال تجـارتي مرکـز (world trade center) اوهمدارنګـه دامریکاپـه دفـاع وزارت (پینټاګون) دبریدونوپه پلمه امریکاغوښتل چې دافغانستان په پاکه خاوره دترورېزم په نوم خپـل شـوم اهـداف دنظـامي یرغـل ترسیوري لاندې لاسته راوړي نوددې موخې دښه تطبق اواغېزمنتیالپاره یې دډیپلوماتیکو اوناانډوله تبلیغاتي هلو ځلو ترڅنـګ دنظـامي اخطارونو اوګواښونوپرمټ دنړۍ یوشمېرکفري او غیرې کفري هیوادونه اوپه ځانګړې توګه دافغانستان سیمه ایز هیوادونه دېته اړ، قانع اوراضي کړل چې دوی هم په دې ناروایرغل کې دامریکانظامي اوسیاسي ملاتړوکړي دامریکادهغـه وخـت ولسمشر بوش خوپـه صریـح اواخطار په ډول نړۍ اوسیمه ایزو هیوادونوته په خطـاب کېوویـل یابـه لـه مـوږسره دریږئ اویابـه لـه تروریسـتانوسره دریـم اختیـار (option) نلرئ نودهمدې ځرګندګواښ له امله ګڼ شمېر مغرض غربي هیوادونه پـه لـوی لاس او ارادي شـکل دنـارواجګړې برخـه شـول اویوشمېرنورو په ځانګړې توګه سیمه ایزوهیوادونو دهمدې ګواښونوله وېرې، او یو شمېرنوروېې داقتصادي موخو اونورو مجبوریتونوپر اساس دامریکا یرغل ته مناسب شرایط برابرکړل یومشهورمتل دی چې وایـي اویـه کـه هرڅـومره پټـې لاړې شي پـه ورځ ځرګنـدیږي لـه یولوري دامریکاراتګ اوبرید دټولوقوانینوخلاف و اوبل لوری ته وحشي یرغلګرواوملګروېې سترېېلابېل جرمونه په ځـانګړې توګـه جنګـي جنایات ترسره کړل چې په نتیجه کې یې مسلمان اومبارزملت هم په ټـول قـوت سره یرغلګرواودهغـوداخلي اجیروملګروتـه یـې داسـې تاریخي درسونه ورکړل چې هیڅکله به ترې هېرنه شي پرون دامریکا رعب اوځواکمنیاایجابوله چې که څـوک غـواړي اویانـه غـواړي لـه دوی سره باید په نارواجګړه کې یوځای شي خونن هرڅه په بې ساري توګه بدل شوي دنړۍ په کچه مطرح ځواکمن قوتونه اودنـړۍ پـه اقتصادي اونظامي تصامیموکې سرنوشت ټاکونکي هیوادونه لکه چین اوروسیه څمکنیوواقعتونوته کتوپه ځرګندډول دافغانستان داسلامي امارت ته نه یواځې دیومشروع دولت په توګه ګوري بلکې دبوسیمه ایزنظامي اوسیاسي قوت په توګه ترې ملاتړکوي داهغه څه و چې د دېرودتوقعاتوخلاف وخو نن دحقایقوپه رڼاکې دطالب برحقه داعیه منـي اساساً سـیمه ایزهیوادونـه پـه ځـانګړې توګـه چـین اوروسـیه دسیمې روان سیاسي اونظامي وضعیت په خوراجدیت اوقاطعیت سره تعقیبوي دوی دکانفرانسونو له لارې دامریکا دنظامي حضورخلاف خپل اعتراضات، غوښتنې اوپشنهادات دیوبل سره په دوامداره توګه شریکوي دهمدې کانفرانسونوپه پایله کې دامریکادنظامي شتون پـه موقتي اودایمي خطرونودقیق خبر، په عواقبوېې پوهیږي اوپه دې برخه کې په یوه خوله (غږ) دي اودریځ یې هم یودی په دې مانا چې تن دامریکادپراخ نظامي شتون پرضدپه سیمه کې یوه قوي اجماع رامنځته شوې دوی داهم په سمه توګه درک کړې چې دطالـب دقـوې ګزارونوپه نتیجه کې امریکا اودهغې خارجي اوداخلي همستګران دذلت په وروستي حد کـې قرارلـري نورنـو سـیمه ایز کـوچني اوسـتر هیوادونه په هیڅ دلیل، تعریف اوشناخت دامریکاپراخ نظامي شتون نه یواځې منلی نه شي بلکې دسیمې لپاره یې سترخطر ګڼي ننـنی پراخ سیمه ایز تحلیل دادی که امریکا په سیمه کې امریکایي ضد حساسیتونه درک نکړي اوپه سوله ایزه توګه افغانستان اوسیمه خوشې نه کړي اودتېرونولسوکلونوپه څېرپه سرتمبکۍ وخت اوفرصت ضایع کړي نـو د افغانسـتان اسـلامي امـارت بـه دسـیمه ایزوهیوادونوپـه احتمالي هر اړخیزه همکارۍ چې دمادرنو جنګي ابزارودلاسته راوړنې منطق یې په لومړي سرکې دی له امکانه وتلې کارنه ښکاري نوکـه دافغانستان اسلامی امارت دیومشروع نظام په توګه دسیمه ایرو هیوادونو د سیاسي ملاتړ ترڅنګ جنګي ابزارهم ترلاسه کړي نولرې نـه ده چې امریکااوناټوبه دتقابل په ځای دعلني رسوایي سره مخ شي دامریکا نظـامي اوسـیاسي ستراتیژسـتان بایـدروان سیاسـی اونظـامي وضعیت سم او دقیق درک کړي اوپه ابرومندانه توګه دې خپلې ماتې کودې او مورال بایللې قواوې خپل هیوادته وروغواړي له دې پرته به یې سیاسي اونظامي وضعیت له بده بدترشي.



هیله ده اشغالګر او ګوډاګیان به یې....
دغه تورتیږ له یاده نه باسي

محسن پکتین

موده وړاندې د بهرنیو اشغالګرو قوماندان میلر او د هغه نانځکي اسدالله خالد د هیواد شمال جوزجان ته سفر درلود، که څه هم د ګلمجم ملېشو مشر- دوستم تـه دوی د خپل ورتـګ موخـه د شمال پر امنیت، ناکامو او جنجالي ټاکنو، سوله!! او...بحث ښودل، خو یو خوا دا اوس هرچاته مالومه ده چې د دوی هر څه د ښکارندویي سرچپه وي، بل خوا لـه زمان او مکـان سره د دوی دغـه ادعـا اړخ نـه لګوي، له دریېم لوري هرڅوك پوهېږي چې دوستم د دې یوه هم ورتیا نه لري او د پام وړ دا چې ګلمجـم ملېشـه د کابـل اداري اړوند ټولو عسکرو او ملېشو څخه بیل څواك مطـرح دی چـې د کابـل رژیـم دوهـم سر سترګي همغه ته ور اوړي او پرې بسیا دی.

نو ویلاي شو چې نوموړو دا سفر د دوستم پر ابلولو او د شرمونکو ټاکنو پر سر د نوماند عبدالله دلي ځپلو، د متقلب او پر درغلیو ککړ نوماند پر وړاندې د ګواښ په توګه د دوستم له منځه وړلو، د جګړه ایزو ابـزارو د قحـط او کمبـودی د وړپېښـې ستونزې ګراف راټیټولو او ځیني نورو هغو موخو لپاره چې شنونکو یې وړاندوینه کړې د دغه انساني وېنه خور، هدوکي شپېلونکي وحشي- څناور د بیاخل خانته راښودې او جلبولو پر غرض و.

د ګلمجم ملېشو مشر دوستم د تویك سالاری تر اوږده وحشي- سابقه بـه راتبر شو، د ټاکنو، امنیت د تـأمین، سـولي او... چـې هغـه تـه ورغـلي تومـوري یـې د خپـل ورتګ د موخې په توګه ښیي پر ورتیا به یې وغږېږو، د ټـاکنو ورتیـا خـو یـې لـه تېـر څـه باندې۵کلونو څخه پوره جوته ده چې د کابل ګډوله اداري د لومړي مرستیال پـه څـوکۍ کې لا تر اوسه له دې امله نه ځائیږي چې دنده او له یې مهاره وحشت او بېلاری پرته هیڅ نه پېژني، پر رتبه او حکومتولي ټکی نه پوهېږي او تك شین څناور دی.

له اېشچي سره یې بدفعلي او وړپسې ترکیـې تـه تېښـته، پـه ترکیـه کـې د کـابو۱۴میاشـتو پـه مهـال یـې لـه دولتـي عسکرو سره د ملېشو ګنـې وسلوالي نښتي چې له هغه را وروسته لاهم دوام لري او بیا د یو جوړ جاري له مخې له راتلو سره سم یې دلته د دولت پر وړاندې د هیواد ژغورني پر نوم هغه ائتلاف اعلانول چې پـه ترکیه کې یـې لـه عطـاء نـور، کریمـي، محقـق، جمعیت او حرکت ګونـدونو او...سره د یـو اپوزیسیون په شکل رامنځته کړ او پـه ټولـه کـې یـې ځـان پـه رژیـم کـې دننـه یـو بېـل ملېشیې موازي ځـواك مطـرح کـول د هغـه حکومتولي ده.

پر دې سربېره د خپلي مرستیالۍ پر درسته موده یې د ولسي- خلکـو پـر وړانـدي دول دول وحشــتونه، جنایتونــه، وژنې او لوټني، ناندرۍ او داسي لـه شرمونـو ډکـي کړنـې تـرسره کـړې چـې د امنیـت، سـولې، حکومتولۍ، وطنپالني او...ټولي پـولي یـې پار کړي، په جوزجان او د شمال نورو سېمو داعش په نوم جګړه مارو کې په لوړه کچه د هغه د ملېشو شتون، د طالبانو له محاصرې یې ایستل او بیرته ګلمجم ملېشو ته سټتول یې ښه بېلګه او د دوستم د امنیت د تأمین یوه نمونه ده، چې ورته پر هیڅ تأویل امنیت نشو ویلای.

همدارنګه له طالبانو سره د امریکایانو او هم دوه ځله د افغان سیاسیونو، اوسنیو او پخوانیو چارواکو، مخورو او... بین الأفغاني ناستو او ترې را وروسته تولـه موده کې یې د زور خبري کولې، له اشرفغني سره د سـولي بهیر په تخریبي هڅو کـې تـر اوسه لاهم فعال سهم لري، په شمال کې د جګړې لـه لاري یي د طالبانو د ځپلو او بشپړ لـه منځه وړلو ګواښونه کول او داسي نور.

هغه هېله ښوده چې که اشغالګر او د کابل رژیم ورته د٦میاشتو لپاره اجازه وکړي په همدې موده کې بـه شمال لـه طالبـانو پاکوي، خو بیا څه وروسته چې یوځل له ګنـو ملېشـو سره لـه مزاره جوزجـان تـه پـه طالبـانو پسـې و خوځېد، پـه نیمـه لاره یـو ناڅاپـه د طالبانو پـر کمین وا ونښت، ګن افراد یې و وژل شول او هغه خپله جوزجان نه ونښتبد، نو هغـه چـې د امیـت، ټـاکنو، سولي او داسي بل هر لوري ارزښت او مفهوم سره په ټکر کې و او بیا هـم دی، پرتـه لـه دې چې پر دا دول غولونکو نومونـو ابـزاري استفاده تـري وشي د دې وړ نـه دی چـې د هغو پر مفهوم څوك بحث ورسره کوي.

دا چې اشغالګر یې په کېسه کې هم نه و، له طالبانو د شمال پاکولو غوښتنه یې ترې اورېدلې هم نـه او اوس بیا د۱۹کاله وړاندي وحشتونو مدال۱۹کاله وروسته ور کوي، په شمال کې د هـر وحشـت د ملاتړ داد ور کوي ترڅو پر ولس د وحشتونو په تـر سره کولو سره یوځل بیا ځان وښیي او...

حقیقت دا دی چې دوستم د جګړه ایزو ابزارو په توګه ور شخص ګڼي، له وړاندي هم بېلابېل وختونه او پر ځانګړې په شمال کې د داعشي وحشت پنځوني، داعشیانو ته د پښې تم ځای او له ملېشو یې د داعشیانو زیاتولو لپاره کار اخیستل شوی، اوس په داسي حال کې چې پر اشغالګرو او د دوی لاسپوڅو عسکرو او ملېشو نشي، نو د وروستي جګړه ایز ابزار په توګه د پټو موخو او تبلیغاتي استفادې لپاره ورته یو ځل بیا اړتیا ویني.

که څه هم دغه ګلمجم ملېشې خو لا له مخکي د اشغالګرو په لاس کې وې اوپراخي یې کارولې هم دي، تر دې چې د داعشي ملېشو په چوکاټ کې یې هم ازمایلي او په درد یې ورته نه ده خوړلې، خو چې هغه د کابل رژیم سره جوړ او پر لاره نه راځي، ځان بېل څواك مطرح کوي او کله ناکله د طالبانو پر وړاندي د جګړې ګټلو صرب الأجلونه هم ټاکي چې یوځل یې امریکایانو ته د فاتحانه وتلو ویلي و او په حبره یې هغه به د دوی د ګټو لپاره له طالبانو سره جګړه وکړي، نو مېلر او نانځکي یې نورهم ځان ورته ستر او لوړ ورښیي ترڅو یوځل بیا یې د استفادې میدان ته وړاندې کړي او تمه به لري چې ښایي په شمال کې د بیا ځل لپاره د هغه د ملېشو په مرسته داعشي ملېشې ځای پر ځای کولو په برخه کې به څه لا پرې ور جوړه شي، خو دوی دي سرخلاصي وي چې ځان غولوي.

اشغالګر امریکایان د یوشي په اړه تر ډېره پر هیڅ نه پوهېږي او بیا تر نورو وروسته هغه مهال پوهېږي چې څرګند او په ډاګه زیانونه و ویني، همدا لامل دی چې مېلر دوستم ته د۱۹کاله مخکي مدال همدومره موده وروسته ور کړ، چې بیا ښېرتـه ښېنو لوېدیځو رسنیو پر ډالۍ ونوماوه، هغه نه پوهېدو چې د نننۍ۱۹کاله وروسته وخت له دې څخه۱۹کاله مخکې هغه سره توپیر له اسمان او ځمکي په پرتله دی، هغه مهال موږ د تش لاسو طالبانو وروسته پاتي نظام رنګ کړ او اوس مهال همغو طالبانو زموږ له ټول او تر بسې پرمختللي واك او ځواك سرېېره داسي کاڼې او لوبې را وکړې چې د هر اړخیز زوال لامل مو شوې.

هغه مهال د طالبانو له لوري د یو امریکایي د وژلو اټکل هم نه کېده، خو راوروسته تري د امریکایانو پر مجهزو او مجللو اډو لکه د هلمند شوراب، کابل ګرین ویلج او بله هره ځاله دننه ورسره له۱۰څخه تر۲۴ساعته جګړه کوي چې تازه د پروان بګرام ترټولو ستر تم ځای دننه نږدې۱۵ساعته جګړه یې ښه بېلګه ده، د امریکا سفارت د تش لاسو ډیپلوماټانو وژل ښایي طالبان کومه توره او لاسته راوړنه نه ګڼي یا ښایي په ډیپلوماټیک ډګر کې د امریکا پر راپرځولو بسنه وي، چې پرې بریدګر نه نباسي.

هعه مهال چې دوستم پکي وحشتونه کول د جګړې پیل و چې د اشغالګرو له لوري په پرمختللي انداز وشو، پر وړاندي یې طالبانو له ډېر وروستو پاتي والي سربېره ټول هبواد او د هغه نظام او چاري هم اشغالګرو ته ور پرېښودې او تر دې چې کوم طالبان دوستم پر غدر سره پر شهادت ورسول او اوس۱۹کاله وروسته پرې مدال هم ور وتومبل شو، په یو نازك مهال یې له مدیریت او مشرتابه سره اړیکه پرې شوې او دوی یوې خپل سرې او عاجلي پرېکړې ته اړ شوي و، زیاتر د دوستم له لوري د ټینګ تړون له مخي او خیني یې پرته له تړونه تسلیم شوي او پر همدې تسلیمۍ یې خپله ځانونه ور سپارلي و او کټ مټ د نن ورځي هغو ولسي وګړو او مظلومو بندیانو په څېر مظلومان و چې پر ژندو بمباریو او شینیو چاپو کې وژل کېږي، بشپړي کورنۍ یې له منځه وړلي کېږي او پر زندان دننه لاس تړلي تر برید لاندې نېول کېږي.

کوم طالبان (شهید ملا دادالله آخند تقبله الله او نور) چې تسلیم نشول او ځانونه یې خپله ونه سپارل یاهم له اسارت وروسته بېرته ژوندي راخلاص شول، همغو دا دی د تېر۱۹کلونو په اوږدو کې د ناټو غړو پر ګډون۴۹یرغلګرو هېوادونو صلیبي اشر بشپړ مات او پرځمکه و ویشت، همدوی تري وسلواله سیاسي او تبلیغاتي جګړې یو پر بل پسې ټولي وګټلې او پر همدې د جګړې پای دی چې له۱۹کاله وړاندي پیل سره یې لوړ توپیر، ژور بدلون، بشپړ اوښتون او د طالبانو په مبارزه کې د پام وړ نووښتونه هرڅوك او بیا اشغالګر او ګوډاګی دښمن دواړه تر نورو ښه ویني.

د هغې په پیل کې پر غدر شهیدان شوي طالبان هم له دې ګټونکو طالبانو پر هیڅ توجیه کم نه و او نه هم دوستم د هغوی پر شهیدولو اتل کېدل څه چې پر وړاندي تېنګېدلای هم نشوای که له هردول جګړه ایزو او بشري قوانینو، ملي او مذهبي سرو کرښو او کلکو مکلفیتونو څخه پر تخطي او سرغړونه ورسره عدر نه وای شوی.

نو د عدر له لاري پر مظلومو بندیانو تر سره کړي وحشت او د جګړه ایزو او بشري قوانینو پر مخالفت دوستم ته ۱۹کاله د وخت له بشپړ سرچپه اوښتون وروسته د یوځل بیا هغسي وحشتونه ترسره کولو په تمه مدال ور تومبل په څرګند ډول د شرم خبره او ستره ناپوهي ده، د هغه وخت، له هغه را وروسته د۱۹کلونو راسي او که اوس یې تمه تري کوي ټول د اشغالګرو پر ملاتړ او د چورلکو تر سیوري لاندې دوستم تر سره کړي چې هر څوك پوهېږي د اشغالګرو په شتون کې یې هماغه غدر او کړنه د وحشتونو او جنایتونو پیل او راوروسته یې تسلسل دی.

په دې وروستیو کې یې د واشنګټن پوست۲۰۰۰مخیز راپور خپرولو او ورپسې د

ګن شمېر لوېدیځو او په ځانګړې امریکایي پوهـانو، ژورنالسـتانو، پـوځي چـارواکو، خبریالانو او...تحلیلونو او څرګنـدونو هرڅه روښانه هم کړل، چې بایـد دوستم او ټـول جنایتکـاران پـر نړیوالـه محکمـه کـې پـرې نېول شوي وای، نو په کار دا ده چې دغه نوموړي لومړی دوستم ته د ورتلو پـر طرحـه او بیا د ترسره کړي پلان په اړه هـم لـه سره غـور وکـړي چـې اوس یـې لا وخـت دی، داسې نه هغه نه وي پوهېدلي او بیـا چـې د زیان پر لېدو پوهېږي چاره به هم نه وي.

هېله ده اشغالګر او ګوداګیان بـه یـې بیاهم کـه کـوم پـلان نیسـي، څـه کـوي او یاهم څه وايي، نو دغـه یـاد تـوپیر، بـدلون، اوښتون او د طالبانو مبارزوي نوووښتونه به له پامه نه باسي، بې ځایـه تمې او د هغـو پـر بنسـټ بـې ګټـې خـوارۍ بـه نـه کـوي، د جګړې پیل او پای لکـه چـې دوی بـه اوس پوهېدلي هم وي یو شان نه وي او نـه لکـه چې وېنو دی، طالبان بـه اوس مني او لـه هېڅ اړخه به یې د۱۹ کاله وړاندي طالبان نه ګڼي.

د هغه وخت طالبانو د ځمکی پر مخ د ژوند حق نه درلود مګر پر یوه شرط چې لـه اشغالګر دښمن سره یو ځـای شي او بیـا بـه هم یا د یاد غدر ښکار شویو طالبانو په څېر په شهادت رسول کېدل او یابه د نورو طالب مشرانو په څېر په زندانونو کې اچول کېـدل، خو د نن ورځې طالبان بیا پر نړیواله سطحه د اسیا د زړه یـو پـوځي او سیاسي ځـواك مطرح دی او شرائط هم د پخوا په پرتله په ټوله مانا د هغو پر ګټه اوښتي.

او پـه ټولـه کـې لـه ۱۹ کالـه مخکـې څخه را وروسته همدې موده کې طالبانو هغه توره کړې او پر نره یې کړې چې تـرې وړانـدې د افغانسـتان او افغانـانو پـه ټـول تـاریخ کـې لا نـه وه او نـور بـه د افغانـانو اتلولی د شوروي اتحاد پر ماتې نه بلکې تر هغه لوړ، په تاریخي لحاظ نږدې او د حجم له مخې تـر ټولـو پـراخ او ځـواکمن صلیبي اشر بشپړه او هر اړخیزه ماتې ښلګه کېږي، ان شاءالله.

د امیر ځیرکتیا

عبدالله

[illegible]

هندي ديموکراسي او هندي محاکم

حسن زوی

کابو۲۷ کاله وړاندې دمتعصبو هندوانو په لاس شهید کړای شوی بابري مسجد چې له ۸ کلونو راهیسې یې په هندي محاکمو کې دوسیه روانه وه بالآخره دهند ستري محکمې یې هندوانو ته دورکولو پریکړه وکړه او پدې هیواد کې دعدلې د آزادی دروغجنتوب یې ټولې نړۍ ته روښانه کړ.

ستري محکمې ویلي دي چې مسلمانانو دا ثابته نه شوه کړای چې په ۱۵۲۸م کال کې چې داجومات جوړ شو تر ۱۸۵۷م کال پورې پدې کې لمونځونه ادا کېدل

ستره محکمه زیاتوي: بل لوري یانې هندوانو هم ددې ځمکې دملکیت داثبات لپاره له ځان سره دلیل نه درلودلو.

ستره محکمه وړاندې وایي: په ۱۹۹۲م کال کې دړنګ کړای شوي بابري مسجد ځمکه چې ویلتل شوه نو پکې دمسلمانانو کوم آثار ونه موندل شول نو ځکه یې څه دپاسه څلور جریبه ځمکه دهند ستري محکمې هندوانو ته ورکړه چې په بدل کې به یې دهند دولت مسلمانانوته دایودیا په کوم بل ځای کې دجومات جوړولو لپاره ۱۰ جریبه ځمکه ورکړي.

همدا راز ستري محکمې حکم کړی چې دبابري مسجد پرځای دې د رام مندرجوړولو لپاره په ۳ میاشتو کې دننه دولت یوه وقف اداره جوړه کړي چې یوعړی به پکې د (وشوا هندو پریشد) په نوم دهغه متعصب تحریک نه هم اخستل کېږي دکوم په قبضه کې چې اوس دبابري مسجد خاوره ده.

محترمو لوستوالو تاسې وګورئ!

دستري محکمې داغوښتنه کول چې مسلمانان دې داثابته کړي چې ددې جومات دجوړېدو نه پس دلته لمونځونه شویدي څومره په بې انصافۍ ولاړه اودشرم نه ډکه ده؟!

ټوله نړۍ پدې پوهېږي چې جوماتونه دمسلمانانوعبادت ځایونه دي اولمونځ ترټولو مهم اولوی هغه عبادت دی چې جوماتونه ورته جوړېږي؛ نوپه بابري مسجد کې که مسلمانانو لمونځونه نه ادا کول څه نه یې پکې کول او دڅه لپاره نه یې جوړولو؟

آیا داغوښتنه معقوله ده کومو خلکوچې دلمونځ لپاره جومات جوړ کړی و دهغوئ دلمونځونولپاره به اوس کابو یوه نیمه پېړی پس خلکونه دلایل غوښتل کېږي؟ آیا دا داسې خبره ده چې په دلیل باندې اثبات غواړي؟

ستري محکمې دا وضاحت ولې ندی کړی چې که د۱۵۲۸م کال نه تر ۱۸۵۷م کال پورې په بابري مسجد کې لمونځونه نه اداکېدل نوپکې څه کېدل؟ دا دڅه لپاره جوړ شوی و؟ اوولې ورته دمسلمانانو تاریخي جومات ویل کېږي؟

دا ثابتول چې مسلمانانو دې پکې لمونځ کړی وي څه معنی لري؟

جومات هم کله داسې وي چې جوړ شوی وي خو لمونځ پکې نه کېږي؟

جومات مسلمانان دڅه لپاره جوړوي؟

داهم ډېره مهمه ده چې ستري محکمې دا منلی ده چې په ۱۹۹۲م کې دبابري مسجد ړنګول دقانون صریح مخالفت و او همدارنګه په ۱۹۴۹م کال کې جومات ته دبتانو دراوړلو اقدام چې دهندوانو له لوري شوی نافانونه و.

نوداځومره عجیبه ده چې ستره محکمه بابري مسجد منې او اعتراف کوي چې بابري مسجد ړنګول اوورته بوتان راوړل دواړه ناروا کارونه وو خو همداستره محکمه چې بیا ددې جومات ټوله ځمکه هندوانو ته ورکوي نوناروا اونا قانونه یې نه ګڼي؟!

داشوک کمار ګنګولي په نوم دهند دسترې محکمې یو نامتو متقاعد قاضي ویلي دي چې په دې هېواد کې څو نسلونو دا لیدلي دي چې ایودیا کې دبابري مسجد په نوم یو جومات و چې مسلمانانو به پکې لمونځ اداکولو او څو کلونه وړاندې هندوانو ړنګ کړیدی.

ښاغلی ګنګولي وایي په ۱۹۴۹م کال کې چې زموږ قانون جوړ شو نو په هماغه وخت کې دلته مسلمانانو لمونځونه کول.

ګنګولي زیاتوي چې که مسلمانان هیڅ داثابته نکړي چې دلته لمونځونه شویدي نو آیا دمسلمانانو عبادت خانه له هغوئ نه اخستل اویکې مندر جوړول سم کار دی؟

ګنګولي وایي چې د (وشواهندوپریشد) نومي دهندوانو متعصب ګوند ویلي دي چې دهند په هر ځای کې وغواړو موږ دمسلمانانو جومات ړنګولای شو؛ متعصب هندوان ځکه داسې وایي چې وړاندې به یې یواځې دولت ترشا ولاړ و اوددوئ حمایت به یې کولو خواوس یې محاکم اوسیاسي ګوندونه هم پلوي کوي اوترشا یې ولاړ دي.

بې له شکه چې دسترې محکمې دې پرېکړې اوس دا خبره ښه روښانه کړه چې هندوانو کې قومي اومذهبي تعصب خپل اوج ته رسېدلی دی.

دهند تېرو شویو تازه انتخاباتولپاره شوي کمپاین ته که وکتل شي تو داسې برېښي لکه چې دانتخاباتو کمپاین نه بلکې دلته دمېشتو مسلمانانوپرضد پیل شوی یو منظم خوځښت وي.

دحاکم ګوند بي. جې. پي مشرانوبه دهندوانو درایو اخستلو په موخه دمسلمانانو پرضد په خپلو غونډو او هندي رسنیو کې شختې زهرجنې او پارونکې خبرې کولې.

دا چې دهندوان بې حده زیات شر خوښي؛ دخپل ځان نه پرته یې دهر مذهب او خصوصاً د اسلام سره دښمني ډېره زیاته ده او دپاکستان پرضد یې کرکه او نفرت هم له حده زیات دی نو دحاکم ګوند بي. جې. پي او نورو متعصبو ګوندونو مشرانوبه دمتعصبو هندوانو دهمدې تعصب نه په استفادې په خپلو جلسو، دانتخاباتي کمپاین په موخه رامنځته شویو لاریونونو او دخلکو سره په خصوصي لیدنو کتنو کې به هند کې مېشت مسلمانان دتروریستانو او دپاکستان دلاسپوڅو په بدو نومونو یادول؛ او ویل به یې چې له دې انتخاباتو نه پس به دهند دټولو مسلمانانو سرونه ورکل کړو او ټول به دخپل دین پرېښودلو او دهندوانو دین قبلولو ته اړ کړو.

په لاازیاتو احساساتو کې دهندوانو دراوستلو لپاره ددې ګوندونو مشرانو دبابري مسجد پر شهیدولو دخوښۍ اظهار او افتخار هم کاوه او دبابري مسجد پرځای درام مندر جوړولو وعدې یې هم کولې.

د بي. جې. پي یوې مهمې مشرې (سادهوي پرګیه بهادر) درسنیو سره په مرکو کې ښه په روښانه ټکو ویلي و چې بابري مسجد ما ړنګ کړیدی؛ پدې فخر کوم او اراده لرو چې پرځای یې رام مندر جوړ کړو.

هغې داهم ویلي دي چې دهند دتقسیم ۷۰ کلونه وشول خومتأسفانه چې تراوسه مو هېواد سیکولر دی او نظام مو دمذهب تابع نه شو؛ تاسې مودي صیب ته رایې ورکړئ! موږ به دمودي په راتلونکې دولت کې هند د هندوانو هېواد کړو؛ نظام به دخپلو مذهبي اصولو سره برابر کړو موږ ګورو چې څوک زموږ مخه نیسي؟

دبي. جې. پي بل مشر،، رنجت بهادر شري واستو،، هم دانتخاباتي کمپاین یو لاریون ته په خپلې وینا کې مسلمانان دهېواد او نظام غداران بللي او ترڅنګ یې دا هم ویلي چې که هندوان دمسلمانانو نسل تباه کول غواړي نو دمودي بي. جې. پي ته دې رایې ورکړي.

هغه په عام محضر کې دمسلمانانو سخت سپکاوی کړی و او ویل یې چې په راتلونکو انتخاباتو کې له برې وروسته به بي. جې. پي له چین نه دسر کلولو سل زره ماشینونه راوارد کړي ترڅو برې دمسلمانانو سرونه کل او هندو مذهب قبلولو ته یې اړ کړو.

دبابري مسجد پرځای درام مندر جوړولو ناري بهارتیا جنتا ګوند په تېرو ۳۰ کلونو کې په هند کې ډېر مقبول کړ؛ درام مندرجوړولو دتحریک نه وړاندې نه په پارلمان کې ددې ګوند ابله دوه غړي وو خو دبابري مسجد پرځای درام مندر جوړولو داحساساتي ناري پورته کولو دا ګوند دومره مخکې کړ چې اوس په پارلمان کې داګوند ۳۰۲ غړي لري او برهېواد دهمدې ګوند واکمني ده چې دا په هندوانو کې دتعصب درڅت زیاتوالي ډېره لویه نښه اوهمدا دهند دتباهی او راتلونکو تجزیوپیلامه ده.

هند چې خپله عدلیه آزاده ګڼي دسترې محکمې دا پرېکړه یې او په تېره بیا پدې پرېکړې دپنځو واړو غتوقاضیانو متفق کېدل ډېر دتعجب وړ دي. د هند سترې محکمې پدې پرېکړې بهارتیا جنتا ګوند اونریندر مودي ته داسې وسله په لاس کې ورکړه چې تر کلونو کلونو به ترې

دخپلو کامیابیولپاره کار اخلي. دسترې محکمې دې پرېکړه دهند ددیموکراسی اومذهبي آزادۍ دعوی بېخي له بېخه وړیستله.

ددې پرېکړې په اړه هند کې مسلمانانو خپل سخت نارضایت ښکاره کړیدی؛ سني وقف بورډ، جماعت اسلامي هند، جمعیت علماءهند او آل انډیا مسلم پرسنل لا بورډ په نومونو مختلفوډلو ویلي دي چې ددې پرېکړې دمنلو پرته بله چاره نه لري خو په دې پرېکړې مطمئن ندي.

اوس چې په هند کې (هند یواځې دهندوانو) نارې پورته کېږي او یواځې دمتعصبوهندوانو تحریکونه نه بلکې په هندوانو کې دخپل محبوبیت پیداکولو په موخه دستروسیاسي ګوندونو مشران هم په عامو اجتماعاتو کې وایې: هند دهندوانو دی اویواځې هندوان پکې د اوسېدلو حق لري.

په هند کې متعصبوهندوانو دتعصب داسې فضا قائمه کړېده چې اوس یوسیاسي ګوند هم دمسلمانانو په حمایت کې اواز نه پورته کوي تر دې چې هغه کانګرس چې لوی مشر۔ نهرویې په ۱۹۴۹م کال کې بابري مسجد ته دبوتانو راوړلو پېښه په سختو ټکو غندلې وه اوس داګوند چوپه خوله دی اود مسلمانانو پرضد کېدونکو تولو اقداماتو باندې یې سترګې پټې کړیدي.

نوځکه مسلمانان یواځې خپل نا رضایت ښکاره کوي نور هیڅ هم نه شي کولی.

دهند دسترې محکمې له لورې دایودهیا بابري مسجد هندوانو ته دورکولوپرېکړې اوس تولې نړۍ ته دهند ددیموکراسی اوسیکولرزم ددعوو حقیقت روښانه کړ نو توله نړۍ په یوه باور دا وایي چې ((سیکولرهند)) اوس مړ شوی؛ په نړیواله سطحه نامتواخبارات اوجرائد هم شه په روښانه ټکو دهند دسیکولر هېواد ګڼلونه انکارکوي اوهند اوس دمتعصبو هندوانوهېوادګڼي.

واشنګټن پوسټ دهند دمحاکمو ددې پرېکړې نه پس لیکلي و چې هند دهندوانو په هېواد بدل شویدی اوددې هېواد آزادي غوښتونکو اوجوړونکو چې ددې هېواد ددیموکرات اوسیکولر هېواد کوم تعاهد کړی وهغه اوس زړه قصه ګرځېدلې ده. نیویارک ټایمز لیکلي وچې دهند سترې محکمې لومړی وزیر نریندر مودي او دده پیروان فاتحان کړل؛ اوس دا هېواد دهندوانو هېواد ګرځول او دسیکولرزم نه لرې کول د مودې لپاره ډېر اسان شول.

وال سټریټ جورنال لیکي چې په یو داسې وخت کې چې متعصبو هندوانو په خپل دولت فشار زیات کړی چې یواځې دهندوانو دګټو ساتنه دې وکړي دهند دسترې محکمې لپاره د ډېر ستر ازمېښت لمحات وو چې په هېواد کې دعدل او انصاف لار نیسي۔ او خپله ازادي ساتي اود لګکیو دحقوقو ساتنه کوي؟ او که دهندوانو فشارته تسلیمېږي او دهغوئ دخوښې سره سمه پرېکړه کوي؟ خومتأسفانه چې دهند ستره محکمه پدې ازمېښت کې ناکامه شوه اوهغه شه یې وکړل چې هندوان پرې خوشالېدل.

دبابري مسجد دبیا جوړولو لپاره چې کله محاکموته مسلمانانو مراجعه وکړه نو له هماغه ورځې نه متعصبوهندوانو پرمسلمانانو بریدونه پیل او په هند کې دفساداتو نوې لړۍ پیل شوه نو ځکه یوې محکمې هم مسلمانانو ته ددې جومات دبیا جوړولو اجازه ورنکړه ځکه چې دبابري مسجد په اړه به چې چا د متعصبو هندوانو دراېې سره خپل مخالفت ښکاره کړ نو دهغوی دسخت غبرګون سره به مخامخ کېدلو.

ګارجین نومې مشهورې ورځپاڼې لیکلي دي چې کله په ۲۰۱۴م کال کې بي. جې پي بریالی اومودي ولسمشر شو نو له هماغه وخته دبابري مسجد پر ځای درام مندر جوړولوخبره دمتعصبوهندوانو لپاره مهمه موضوع وګرځېده اوېدې اړه یې غوښتنې پیل شوې.

دا هم دهر چا په علم کې ده چې د۱۹۹۲م کال په دسمبرکې چې پربابري مسجد متعصبو هندوانو حمله وکړه او مسجد یې شهید کړ قیادت یې دبي. جې. پي مشرانو او ارکانو کاوه؛ دمسجد شهادت نه پس چې فسادات رامنځته شول یکې نږدې ۲ زره مسلمانانو خپل ژوند له لاسه ورکړ چې دبي جې پي یو شمېر ارکان دمسلمانانو ددې قتل عام په جرم تر اوسه محاکمو ته راغوښتل کېږي.

هندوانوته دبابري مسجد دځمکې ورکولو نه پس د (آل انډیا مجلس اتحادالمسلمین) په نوم د مسلمانانو داتحادي مشر اسد الدین اویسي ډېره ښه پوښتنه مطرح کړیده: ویلي یې دي چې که بابري مسجد په ناقانونه توګه جوړ شوی و نوبیا ولې دکورنیوچارو پخواني وزیر اود بي جې پي بنسټ ایښودونکي ایل کې ایډواني اونورومشرانوپرضد په محاکموکې دوسیې جوړ شویدي؟ اوکه دبابري مسجد جوړول قانوني و نوبیا ولې هغو هندوانو ته ورکړل شوکومو چې نړولی و؟

متأسفانه چې دا پرېکړه دقانوني غوښتنو پر اساس نه بلکې دهندي دولت دتعصب نه ډکې کړنلارې له مخې شوې؛ دهند سترې محکمې نړۍ ته دا وښودله چې په هند کې یواځې هندوان داوسېدو حق لري دا دهغوئ وطن دی او دهغوئ به پکې هرڅه خوندي وي؛ له هندوانو پرته پکې نور څوک نه داوسېدو حق لري اوڅه به یې هم ځان، مال، عزت او دین خوندي وي.

مذاهب أربعه

ائمه،تلامـذه، فقهي مناهج أمهـات الكتب

م· فضل الرحمان
دوهمه برخه

داجتهـاد نيکمرغه او زرينه دوره:

د شافعي فقهې مؤسس (امام شافعي رحمه الله)

دامام شافعي رحمه اللـه پـوره «نـوم محمـدبن ادريـس بـن العباس بن شافع القرشي الهاشمي المطلبي دی» پـه ۱۵۰ هـق کـې دفلسطين په غزه کې زيږيدلی. اومصرکې په ۲۰۴ هق کال وفـات شـوی، غـزه کـې دخپـل پلاردفـات وروسـته دوه کلنـی، کـې يـې مورخپل پلارني وطن «مکې مکرمې» تـه راوسـت، مکـه مکرمـه کې يې روزنه پيل شوه اوکوچنيوالي کې يې«دعظيم الشـان قـرآن حفظ مکمل کړ»بيا دعربي دوداودستورسره سم د«هـذيل قبيلـې» اطرافي اوکليوالو سيمو ته لاړ، څو هلته په ښه فصاحت اوبلاغـت سره روانه عربي ژبه زده کړي، عربوکې «هـذيل» ترټولـو فصـيحه قبيله وه، دهغوی عربي اشعاراوقصيدې يې حفظ کړې، په عربيـت اوادب کې يې لوی مقام حاصل کړ، بيرتـه مکـې مکرمـې تـه پـه ستنيدودمفتي «مسـلم خالـدبن زنگـي» سره شاگردشـو، لـړه مـوده وروسته ورته هغه دافتاء اجـازه ورکـړه، کلـه چـې عمـرد پـنځلس کلنی ته ورسيد، دمديني منورې په لوريې کوچ وکړ، اوهلتـه يـې دامام مالک رحمه الله نه د«موطـأ»سـماع وکـړه، تـردې چـې تولـه موطأ يې په ۹ورځوکې حفظ کړه اوپه هغـه سربيـره د«سـفيان بـن عيينه، فضيل بن عياض اودخپل تره محمدبن شافع» نه هم احاديث روايت کړي، يمن ته يې هم دعلم حاصلولو پـه غرضسـفروکړدهغه ځای دعلماوونه يې استفاده وکړه، په ۱۸۳ هق کې او بيا په۱۹۵هق کې بغدادته يې سفرونه وکړل، هلته يې دامام ابويوسف رحمه الله اوامام محمدرحمه الله سره وليدل اودامام محمدرحمه الله نـه يـې فقه ولوسته، په خاصه توگه دعراقي فقهاوو کتابونه يې له هغه نه ولوستل، امام ا حمد بن حنبل رحمه الله په ۱۸۷ هق کال پـه مکـه مکرمه کې اوپه ۱۹۵ هق بغداد کې دامام شافعي رحمـه اللـه سره وليدل اورڅخه يې فقه اواصـول فقـه زده کـړه کـړه، نومـوړي پـه بغداد کې خپل قديم کتاب «الحجة» وليکه، په کوم کـې چـې يـې پخوانی مذهب ذکردی، بيا په ۲۰۰ هق کال مصرته لاړاوهلتـه يـې دخپل نوي فقهي مذهب اساس کيښـود دجمعـي پـه ورځ درجب مياشتې په پای کې په ۲۰۴هق کې هم هلته وفات اوپـه هـم هغـه ورځ مازيگر په «قرافه» نوم ځای کې دفن کړای شو دنوموړي پـه کتابونوکې يوکتاب« الرسالة« دی کوم چې په اصول فقه ليکلـی، بل د« الأم» په نوم مشهورکتاب دی، کوم کې يې چې نـوي فقهـي مسائل راوړي، امام احمد وايي: امام شافعي رحمه الله په کتـاب الله او درسول الله په سنت باندې ترټولـو زيـات پوهيـدونکی و، طاش کبری زاده پخپل کتاب کې يې توصيف کړی او ليکي:

اتفق العلـماء مـن أهـل الفقـه، والأصـول والحـديث، واللغـة والنحو وغيرذلک على أمانته، وعدالته، وزهده، وورعـه، وتقـواه، وجوده، وحسـن سـيرته، وعلوقـدره، فالمطنـب فـي وصـفه مقصر، والمسهب فی مدحته مقتصر (۱)

دامام شافعي رحمه الله مشهور شاگردان:

محمداحمدراشد پخپل کتاب« اصول الافتاء والاجتهاد» کې ليکلي دي چې: کله امام شافعي مصرته راغی، نوخپل مذهب يـې په شورايي (لکه امام دابوحنيفه رحمه الله) شکل مرتب کړ، ذهين اوقابـل شـاگردان بـه يـې راټولـيدل اودخپـل اسـتاد سره يـې پـه مسائلوکې بحث ومباحثه کولـه، دپيـل څخـه پـه شـورائي شـکل مذهب دويم ځلي ترتيب کړ، پـه هغـه شـورى کـې دامـام شـافعي لاندې مشهورشاگردان وو:

۱-: یوسف بن یحیی المزنی البویطی (مر۲۳۱هق) څوک چې د«خلق قرآن» مسئلې په سربه زندان کې ساه ورکړه

۲-: عبد الله بن زبیرالحمیدي څوک چې دامام بخاري استاداوشیخ و.

۳-: اسماعیل بن یحیی المزنی (مر۲٦۴ هق) چاچې شافعي فقه په «المختصرالکبیر المسمی بالمبسوط» کې جمع کړې.

۴-: محمدبن عبدالله بن عبد الحکم (مر۲۷۰هق) (۲)

۵-: ربیع بن سلیمان المرادي (مر۲۷۰هق) څوک چې دامام شافعي دکتابونو ترټولو لوی راوي دی، «الرسالة او الأُم»دنوموړي په روایت سره رسیدلې دي

٦: حرمله بن یحیی (مر۲٦٦هق) چاچې دامام شافعي نه هغه کتابونه روایت کړي دي چې ربیع هغه ندي روایت کړي، لکه په دري ټوکونوکې« کتاب الشروط»په لس ټوکونوکې«کتاب السنن» کتاب النکاح» او« کتاب ألوان الابن والغنم وصفاتها اوأسنانها» (۳) ددي وروسته دشافعي فقهې په تشریحاتو، تفصیلاتو اوترویج کې چې کومو علماوو کردار اداء کړی دی دهغوی نومونه دادي: ۱-: ابن سریج۲-: ابواسحاق الاسفرایني۳-: امام الحرمین الجویني۴-: ابوحامد الغزالي۵-: امام نووي٦-: امام رازي، ۷-: امام سبکي، ۸-: تقی الدین ابن دقیق العید، ۹-: عزبن عبد السلام، ۱۰-: امام بلقیني، ۱۱-: ابن حجرعسقلاني (۴)

دشافعي فقهې منهج:

دامام شافعي رحمه الله مذهب په لاندې څلورواساسي اصولوولاړدی:

۱-: کتاب الله، ۲-: سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم، ۳-: اجماع، ۴-: قیاس.

ځیني علماء داصل په توګه د«اهل مکه» تعامل هم ذکرکوي

امام شافعي د«صحابه وو اقوال» نه اخلي، په دې وجه چې هغه دصحابه وواجتهادات دي، چې دخطاء احتمال پکې شتون لري، همدا راز«عمل بالاستحسان»یې هم پرې اینبی کوم چې د«احنافو او مالکیانو»په نزد مستقل اصل دی، دامام شافعي نه منقول دي«من استحسن فقد شرع»چاچې استحسان وکړ، هغه شریعت جوړکړ، د«مصالح مرسله»هم تردیدکوي او د«اهل مدینه» تعامل هم داستدلال وړنه مني

دشافعي فقهې مهم کتابونه:

اهم کتابونه یې دادي:

الأُم... امام محمدبن ادریس شافعي (مر۲۰۴هق)

مختصرالمدني، ابوابراهیم اسماعیل یحیی المزني (۲٦۴ هق)

المهذب، ابواسحاق ابراهیم شیرازي رح (مر۴۷٦ هق)

التنبیه فی فروع الشافعیة، ابواسحاق ابراهیم شیرازي (مر۴۷٦ هق)

نهایة المطالب درایة المهذب، امام الحرمین عبدالملک الجویني (۴۷۸ هق)

الوسیط فی فروع المذهب، امام ابوحامد بن محمد الغزالي رح (۵۰۵هق)

الوجیز، امام ابوحامد الغزالي (مر۵۰۵هق)

المحرر، ابولقاسم عبدالکریم رافعي (٦۲۳ هق)

فتح الحزیزفی شرح الوجیز، ابوالقاسم عبدالکریم رافعي (مر٦۲۳ هق)

روضة الطالبین امام ابوزکریامحی الدین بن شرف نووي (٦۷٦ هق)

منهاج الطالبین، امام نووي (مر۵۷٦ هق)

التحقیق، امام نووي (مر٦۷٦ هق) دامام نووي په کتابونوکې ترټولو معتبرکتاب داګڼل کیږي

تحفة المحتاج لشرح المنهاج (احمدبن محمدبن حجرالهیثمي (مر۹۷٦ هق)

مغنی المحتاج، شمس الدین محمدالشربیني الخطیب (مر: ۹۷۷ هق)

نهایة المحتاج، شمس الدین محمدجمال محمدبن احمد رملي (مر: ۱۰۰۴هق)

دمتاخرینوشوافعوپه نزد«مغنی المحتاج اونهایة المحتاج» ته دشافعي فقهې ترټولومستند اوترجمان مقام حاصل دی

دحنبلي فقهې مؤسس (امام احمد بن حنبل رحمه الله)

امام احمدبن حنبل رحمه الله (۱٦۴هق کال) بغدادکې زیږیدلی و، لومړنی زده کړې یې په بغدادکې کړې وې اوبیا (۲۴۱ هق) کې وفات شوی هم هلته دی، نوموړي کوفې، بصرې، مکې، مدینې، یمن، شام اوجزیرې پشان ښارونوته

دعلوموحاصلولو لپاره علمي سفرونه هم کړي وو، بغدادته دامام شافعي رحمه الله په ورتلو سره يې دهغه نه فقه ولوسته، دنوموړي داستادانواوشيوخوشميردسلونه زيات دی، ډير وخت به داحاديثوپه جمع کولواوليکلو بوخت و، ترديې پورې چې دخپلې زمانې «امام المحدثين» ياد شو

دحديثواوفقهې امام و، ابراهيم حربي وايي: دامام احمد په ليدو ماته داسې ښکاريده چې «ړومبني اووروستني علوم واړه الله تعالی په نوموړي کې جمع کړي» کله چې امام شافعي دبغدادنه مصرته کوچ وکړ، ويې فرمايل: دځان وروسته مې بغدادکې دابن حنبل نه زيات متقي اوفقيه بل څوک ندی پريښی

دمامون اومعتصم په زمانه کې «دخلق قرآن فتنه» راپورته شوه نوموړی يې کلک مخالفت وکړ، هغوی ورته سخت اذيتونه اوتکليفونه ورسول، خونوموړي په تولوباندې صبراوزغم وکړ، ابن المديني فرمايل: الله تعالی ددوه کسانوپه زريعه اسلام ته عزت ورکړی، يو د« ارتداد فتنه» کې دحضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه په زريعه، اوبل د«خلقِ قرآن» فتنه کې دابن حنبل په زريعه

دامام احمدبن حنبل مشهور شاګردان:

دفقهې مذهب دتکميل په نسبت دامام احمدزياته توجه دحديث لورته وه، همداوجه وه چې امام احمد، علی المديني، اويحيی بن معين سره يوځای به«دتوثيق رجال، تضعيف رواة، کشف العلل، باندې دبحث مباحثې لپاره په اجتماعي مجلسونو کې هم ګډون کاوه، دامجلسونه ترهغه پورې روان وو، ترديې چې د«خلق قرآن» فتنه پيداشوه، او په وجه يې يادمجلسونه ختم شول، دامام احمد ترخنګ دهغه شاګردان هم ددې فتنې په وړاندې ودريدل، يولوی شميريې دوخت دظالمواکمنو لخواشهيدان کړای شول، ترديې پورې چې داانديښنه پيداشوه چې دامام احمد مذهب به يواځې

دنوموړي پخپلودوه زامنو«عبدالله اوصالح» کې منحصرپاته شوی وای

په دې وجه امام احمد ونکړای شول چې دخپل مذهب په فقه باندې يې پخپله کوم کتاب ترتيب کړی وای، خودنوموړي لاندې څو شاګردانو داتشه ډکه کړه او دحنبلي فقهې په روايت وتاليف کې لګياشول:

۱ـ صالح بن احمدبن حنبل (مړ۲۶۶هق) څوک چې دامام احمد مشرځوی و، اودفقهې اوحديث ګڼ مسائل يې له خپل پلار نه روايت کړي دي

۲ـ عبد الله بن احمدبن حنبل (مړ۲۹۰ هـق) دا هم دامام احمد ځوی دی چې دخپل پلارڅخه يې يواځې حديث روايت کړي دي

۳ـ ابوبکراحمدبن محمدالاثرم الخراساني البغدادي رح چې دامام احمدنه يې په فقه کې ګڼ مسائل اوزيات احاديث روايت کړي دي، اودامام احمد په مذهب يې دحديث نه دشواهدوپه رڼاکې د«السنن في الفقه» په نوم کتاب ليکلی دی

۴ـ عبد الملک بن عبد الحميد بن مهران الميموني (مړ۲۷۴ هق) شل کاله دامام احمد په صحبت کې تيرکړي و، اوپاته ژوندېې دهغه دمذهب په ترويج او تدريس کې تيرکړ

۵ـ ابوبکراحمدبن محمدالمروذي (مړ۲۷۴ هق) څوک چې په فقه وحديث دواړوکې امام و، او په حنبلي فقه کې يې دعلمي پلوه ارزښتمن کتابونه ليکلي دي، دحنابله وو په منځ کې چې کله مطلقاً«ابوبکر» وويل شي، مراد ترې همدا«مروذي» وي

۶ـ حرب بن اسماعيل الحنظلي الکرماني (مړ۲۸۰ هق)

۷ـ ابواسحاق ابرهيم بن اسحاق الحربي (مړ۲۸۵ هق) چاته چې په د«تبحرفی الفقه نه زيات تبحرفی الحديث» په برخه و او هم دلغت اوعربيت عالم و.

د دوی وروسته ابوبکربن احمدبن محمدبن هارون الخلال (مړ۳۱۱هـق) راغی، هغه دامام احمدبن حنبل رحمه الله دشاګردانوڅخه فقه جمع کړه، په دې وجه نوموړی په « جامع الفقه الحنبلي» په لقب باندې بلل کيږي، بيا وروسته دابوبکر خلال جمع کړيو مسائلو تلخيص دوه تنو وکړ:

۱ـ ابوالقاسم عمربن الحسين الخرقي البغدادي (مړ۳۳۴ هق) چې دهغه تلخيص «شرح ابن قدامه» پخپل کتاب « المغني» کې کړی دی

۲ـ ابوبکرعبد العزيزبن جعفرالمعروف غلام الخلال (مړ۳۶۳ هق) دادخرقي ملګری و

ددې طبقې وروسته په حنبلي مذهب کې نورارزښتمن علمي خدمتونه لاندېنو علماوو ترسره کړي دي:

۱-: عبد القادرجيلاني رح، ۲-: يحيي بن هبيره الدوري۳-: ابن الجوزي۴-: ابن قدامه المقدسي، ۵-: ابن تيميه، ٦-: ابن القيم، ۷-: ابن رجب

دحنابله وو فقهي منهج:

دحنبلي فقهي اساس په ۸اصولو ولاړدی:

۱-: کتاب الله، ۲-: سنت رسول صلی الله علیه وسلم، ۳-: دصحابي فتوا، ۴-: اجماع، ۵-: قياس٦-: استصحاب حال، ۷-: مصالح مرسله، ۸-: سدذريعه

دامام احمد رحمه الله دحديثوکتاب« المسند»دی په کوم کې چې ۴۰زره نه زيات احديث جمع دي، امام احمد« حديث مرسل او دحسن په درجه کې ضعيف»حديث قابل دعمل بولي، په «باطل اومنکر» حديث باندې عمل نکوي دقياس په مقابل کې«مرسل اوضعيف» حديث ته ترجيح ورکوي)

علامه ابن القيم حنبلي په «اعلام الموقعين» کې دحنبلي فقهې ۵اصول راوړي دي اوبيا يې دهراصل بيانولولپاره يومستقل فصل راوړی دی

دهغوپنځواصولولُب لباب په دا ډول دی:

۱-: ظاهر نصوص، ۲-: دصحابه وو اتفاقي فتاوی چې خلاف يې منقول نه وي ۳-: دصحابه وو داختلاف په صورت کې هغه فتوا چې کومه قرآن وسنت ته زياته نيږدې وي

۴-: که دصحابه ووته صريحه فتواترلاسه نه شي نو«مرسل حديث» هم اخلي، په دې شرط چې هغه« شديد الضعف ومنکر» نه وي

۵-: کله چې کوم نص يا دسلفو قول وته مندل شي نوبيا دقياس نه کاراخلي، خودا کارهم دمجبوريت په مهال کوي چيرته چې نص يا دسلفوقول وته مومي، هلته بيا زياتره سکوت غوره کوي اودرائې ورکولو څخه اجتناب کوي.

دحنبلي فقهې امهات الکتب:

دحنبلي فقهې اهم چاپ شوي کتابونه دادي: مختصر الخرقي، ابوالقاسم عمروبن حسين خرقي (مر۳۳۴هق) . په حنبلي فقه کې دا کتاب دمتن درجه لري اورا روسته چې په حنبلي فقه خومره کارشوی دی هغه زيات په همدې کتاب راڅرخي

کتاب الروايتين والوجهين، قاضي ابويعلی، محمدحسن بن فراء (۴۵۸هق)

څنګ چې دنوم نه يې برېښي، په دې کتاب کې قاضي ابويعلی دامام احمدنه منقول مختلفو اقوالو ترمنځ دترجيح وتطبيق خدمت سرته رسولی دی

الکافي، موفق الدين ابن قدامه مقدسي (مر۶۲۰ هق)

المقنع، موفق الدين ابن قدامه

المغني، موفق الدين ابن قدامه

دا د«مختصر خرقي» ترټولو مبسوط شرح ده، او نه يواځې حنبلي فقهې بلکې داسلامي فقهې ددرې غوره کتابونوڅخه يودی، په کوم کې چې نصوص، اثار، اودسلفواراء اودهغوی دلايل، په تفصيل او انصاف سره راوړل شوي دي

العمدة، موفق الدين ابن قدامه (مر۶۲۰هق)

المحرر، مجدالدين، ابوالبرکات عبدالسلام (مر۶۲۵ هق)

الشافي: معروف شرح الکبير، عبد الرحمان بن امام ابی عمر مقدسي (مر۶۸۲ هق)

مجموعه فتاوی، شيخ الاسلام احمدبن تيميه (مر۷۲۸هق)

په دې مجموعه کې علامه ابن تيميه دفتاوی نه علاوه دهغه نوري ليکنې هم شته چې په ۳۵ټوکونوکې چاپ شوې

الفروع، شمس الدين ابن مفلح حنبلي (مر۷۶۳ هق)

الانصاف فی معرفة الراجح من الخلاف، علاء الدين سعدي مرادوي (۸۸۵ هق)

تصحيح الفروع، علاء الدين سعدي مرادوي (۸۸۵هق)

الاقناع، موسی بن احمدمقدسي (۸۲۸هق)

منتهی الارادات فی جمع المقنع، تقی الدين بن نجار، (مر۹۷۲هق)

شرح منتهی الارادات، منصوربن يونس بهوتي

همداسې په متاخرينو حنابله وو کې «الانصاف، الاقناع اومنتهی الارادات» دحنبلي فقهې په نقل وترجيح کې مستند ګڼل کېږي

نور بيا...

د منتخب ولسمشر قباله جعلي وختله

لیکوال بدر څلاند

یهود او نصارا د اسلام له ابتداء څخه د اسلام او مسلمانانو دښمنان وو او تر قیامته پورې بې دوستان کیدلی نشي- دا صراحتا د قران کریم فیصله ده

څو کله چې په دوه زره یو کال کې ناتو د امریکا تر مشرۍ لاندې په افغانستان یرغل کاوو، نو وار له مخه یې ځانته د ختو یوه بیکاره پوزه جوړه کړه او د افغانانو او غافلې نرۍ د خطاء ایستلو لپاره یې ځینې هغه رټل شوي افغانان چې دلته یې ژوندگي سخته شوې وه او له افغانیت څخه بیزاره شوي وو، په اروپا کې یې استوګنه اختیار کړې وه افغاني تابیعیتونه یې پلورلي او د اروپا تابیعیتونه یې اخیستي وو اګر که دوی هیڅکله افغانان نه ګڼل کیدل خو بیا هم یهودیانو د یرغل ترمخه په ټن کې یوې غونډې ته راوبلل او د ګیدړو باچاهي یې ورته جوړه کړه او څو یې لکۍ ګیدړان یې ورته مشران وټاکل

څوک یې د شرقي زون، او څوک یې د جنوبي زون مسؤلین کړل او په طیارو کې یې رابار کړل د افغانستان په سرحدي غرونو کې یې له طیارو را پراشوټ کړل،

ترڅنګ یې میدیا او مزدورو رسنیو ته دنده وسپارله چې داخلک د خپلو تبلیغاتو په زور پیاوړي افغانان او د افغانستان اصلي واکمنان، انجینران، مفکران وغیره وغیره معرفي کړي

دا تیر اتلس کاله همدا یې لکۍ ګیدړان له جعلي او خیالي قبالو سره د امریکا د طیارو او بمونو په زور د میدیا او رسنیو د تبلیغاتو په مدد په مظلوم ولس واکمنان وو

دغو جاهلو ګیدړانو څخه دومره ځانونه ورک شول چې ښه پوهیدل چې تر پرونه یې افغاني تابعیت نه درلود او نه افغانانو دوی د افغان په حیث پیژندل خو د امریکایانو په زور دلته څوک مفکران شول څوک جنرالان او ډګروالان او څوک.... شول

که امریکایانو به دلته کوم ګیدړ مفکر معرفي کړو نو ګیدړ به هم ناري وهلي چې زه د جهان لومړۍ درجه مفکر یم، خو خپل صورت عقل او لیوني عادت ته یې فکر نه کاوو، چې کله به یې جنازه کې لکه ماشوم سجدې کولې او کله به یې د اختر د لمانځه په تکبیرونو کې دوعا کوله او یا به یې سجدې ته منډې وهلې او کله به یې خره په ونو خیژول او کله به یې بیا نور درمان چپه کړي وو

دغو ګیدړانو بلاخره ځانونه د افغانستان د ولسونو او خاورې رښتوني واکمنان وبلل او په یوه امضاء یې ټول افغانستان په امریکایانو د پنځوس کلونو لپاره خرڅ کړو

بلا استثناء یې د زرګونو عسکرو د اوسیدو او د لسګونو پوځي اډو ترڅنګ د افغانستان فضاء هم خرڅه او امضاء کړه

امریکایانو ته یې د افغانانو د وینې قیمت او پور معاف کړو یعنې که کوم امریکایي دلته هرڅومره ظلمونه وکړي او بیګناه افغانان ووژني، هیڅ جرم به نه بلل کیږي او امریکایانو ته به د هر افغان وینه تویول ازاد او د خپل طبعیت کار وي، لکه په لسګونو واري مو همداسې په سترګو ولیدل

مګر د غیورو افغانانو د دوه لسیزو کلک مقاومت او سرښندنو، حالت تر دې ځایه را ورسول چې اوس ټول افغانان، نړیوال او همدغه د ټن د غونډې جعلي مفکران او تش په خوله منتخب ولسمشران او وزیران هم په دې پوی شول چې دوی افغانان نه وو او نه د افغانستان واکداران وو

کوم یرغلګر میلمانه یې چې راوستي وو، اوس د هغو تر مخ هم شرمنده دي اګر که میلمنو دوی په اوله ورځ پیژندل چې دا جعلي ګیدړان او مفکران دي د یوې روپۍ اهمیت هم نلري خپل اولادونه او ښځې نه شي کنټرول کولای افغانستان خو لا لرې خبره وه، خو بیا یې هم په ډیره بې عقلي او سرټمبګي ناري وهلې، کله به یې د غازي امان الله خان نیمګړی تاریخ پوره کاوو او کله به یې ځان د میرویس خان نیکه لمسی معرفي کاوو

دلته هم ډیرو بې ضمیرو او د ویده فکر خاوندانو همدا خبرې ورسره زمزمه کولې،

له يو اروپايي جعلي مفکر به يې بابا جوړاوو بيا به يې له ډېره نازه يا بيعقلي څخه د زرګلن لقب ورکاوو، عام ولسونه به يې په همدې چکچکو او بغارو هاى او هوى باندې خطاء استلې وو

خو کله چې امريکا او ناټو پوه شول چې دلته نوره زندګي ګرانه او له امکانه وتلې ده نو افغانانو ته يې د سولې زارى شروع کړې

د سولې د خبرو په پيل کې امريکايانو په افغانستان کې څو پوځې اډې غوښتلې او دا يې د متحده ايالاتو لپاره اشد ضرورت بللو چې بايد دلته پاتې شي خو تر اتلس کاله زور او يوکال زاريو وروسته هم په دې ونه توانيدل چې په مجاهدو افغانانو يوه اډه ومني؟

زه اوس له هغو خلکو پوښتنه کووم چې امريکايان يې يرغلګر نه بلکې د بُن د غونډې د ګيډرانو او ګوډاګيانو له لورې دعوت شوي بلل، دوسان يې بلل او دلته يې د ټول افغانستان د ځمکې او فضاء سندونه ورته امضاء کول او ځانونه يې د افغان ولس منتخب واکمنان او د افغان خاورې واکداران بلل، ټولې غربې نړى ته يې دعوت ورکړى وو چې راشئ افغانستان ستاسو کور دى دلته له دې ځايه د خپلو هيوادونو امنيت خوندي کړئ

اوس ولې د دغو جعلي مفکرانو او د افغان خاورې د دروغژنو واکدارانو هيڅ درک نه لږيږي؟

حيران يم چې دا امريکايان چا راوستلي وو، چا د ځمکې او فضاء سندونه ورته امضاء کړي وو، چا د افغانانو سرونه او ناموسونه ورته معاف کړي وو او ځانونه يې منتخب ولسمشران او واکداران بلل،

هغوى چې په توره شپه يې يې پوښتنې د افغانستان ځمکه او فضاء په يوه امضاء په امريکايانو خرڅوله نن ولې د يوې پوځې اډې لپاره په ټول هيواد کې د يو جريب ځمکې ځاى امريکايانو ته نشي پيدا کولاى يا ورکولاى؟

معلومه خبره ده چې د افغانستان د ځمکې او فضاء واکداران دغه د بُن غونډې د جعلي قبالې خاوندان بې لکۍ ګيدړان نه بلکه هغه افغانان دي چې نن امريکا د اتلس کاله زور او يوکال زاريو په نتيجه کې هم ونه توانيدله چې يوه وړه اډه ورباندې ومني

په دغو اجيرو اجرتي قاتلانو شرمنده ګوډاګيانو جعلي او جاهلو مفکرانو او جنرالانو باندې هغه د بې لکۍ ګيدړ د قبالې قيصه وشوه چې په کوم ځاى کې په غلا ګير شوى وو او په ډېرو زورونو وهلو يې لکۍ له بيخه ختلې وه بيا يې ځان نورو ګيدړانو ته مشر معرفي کړى وو او نور ګيدړان يې ځان سره يو باغ ته روان کړي وو او ورته يې ويلي وو چې دا د انګورو باغ زما خپل ده او قباله يې هم لرم راځئ نن چکر درکړم او انګور درباندې وخورم کله چې باغ ته ور اوښتي وو باغوان په را رسيدلي وو او ګيدړان يې له وهلو ډبولو وروسته پسې اخيستي وو، نورو ګيدړانو دا مشر ګيدړ ته غبر کړى وو چې خو قباله وربشکاره کړه موږ خو دې په څغاستو نور مړه کړو، هغه ورته ويلي وو چې قباله خو راسره ده خو په چا يې منې؟

افغانستان ته د امريکا د يرغل سره ګډ راغلي ګوډاګيان چې اول يې ډېرې غټې دعوې کولې او د افغانستان د ځمکې او فضاء سندونه يې امريکا ته امضاء کول او په خپل لاس کې يې بلل، خو نن چې د افغانستان د خاورې اصلي مالکان پسې را ويښ شول او دوى د جعلي قبالو ګيدړان مفکران او منتخبان يې پسي واخيستل نو د پنځوس کالونو سندونه خو څه چې اوس امريکا ته د يو جريب ځمکې د ورکولو د سند اختيار او قدرت هم نلري

هغه ويده او بې ننګه وطنوال چې له دغو غلو ګيدړانو سره ملګري شوي وو او د مشر بې لکۍ ګيدړ هرې خبرې ته به يې چکچکې وهلې اوس به پوى شوي وي او لا نور به هم پوى شي چې دوى خپل دروند افغاني حيثيت څنګه دا دوه لسيزې د بې لکۍ ګيدړانو په ملاتړ او چاپلوسۍ کې داغدار کړو او په خپل ولس يې په يو او بل نوم د چنګيز د وحشتونو تاريخ تکرار کړى وو

غلامان په ټول تاريخ کې نه دي عزت مند شوي او نه له غلامانو سره د ځان يا د بل د عزت خيال په ذهن کې وي خو دا يوه خبره شته چې غلامان اخر په ډېر ذلت او مجبوريت او بده ورځ کې د بادارانو له لورې خپلو ولسونو ته دانتقام په ميدان پرېښودل شوى او په ډېر بد حالت کې وژل شوي دي، لکه د کمونيستي يرغل وفادار غلام ډاکټر نجيب چې د لکونو افغانانو له وژلو او هر قسم چاپلوسۍ وروسته خپل قهريدلي ولس ته په ميدان پرې ښودل شو او اخر حالت يې ټولو په سترګو وليده

دننني غلامانو لپاره هم د الله جل جلاله څخه د همداسې ورځې غوښتونکى يم چې د لسګونو زره کونډو او يتيمانو زړونه يې په قتل تکور شي

وما ذالک علی الله بعزيز

د تاوتریخوالي مخنیوی

د شرعي مسؤلیت په توګه

احمد مختار

له امریکایانو سره د اسلامي امارت د مذاکراتي بهیر تر بیا پیلیدو وروسته په رسنیو کې د تاوتریخوالي کموالي ډیر یادیږي.

دا چې تاو تریخوالي څه ته وایي؟

ولې او د چا لخوا پیل شوی؟

مخنیوی یې څه حکم لري؟

او په څه ډول کیږي؟

هغه خبرې دي چې په لاندې تکیو کې وربانـدې بحث کوو:

د تاوتریخ والي تعریف:

تاوتریخوالي یا خشونت چې په عربي کې ورته عُنف او په انګلیسي کې ورته (violence) وایي یوه مستحدثه اصلاح ده چې د جګړې او نا امنۍ لپاره کارول کیږي.

زموږ جګړه ځپلی هیواد له تیرو څلورو لسیزو راهیسې په جګړو او تاوتریخوالي کې را ګیردی.

خو پر افغانستان تر امریکایي یرغل وروسته یې نـوې بڼه خپله کړې ده.

نوې بڼه دا چې په دې تـاوتریخوالي کـې امریکایـان نـه د بشري حقونو د دفاع سازمان مقررات رعایتوي، نه ورکې د بیدفاع انسانانو خـلاف بیولـوژیکي وسـلې دریغـوي او نـه هـم ورکـې ماشومانو او تورسرې استثناء کوي.

تاوتریخوالی چا او ولې پیل کړ؟

امریکایان نن له اسـلامي امـارت سره د خـبرو پـه مهـال د تاوتریخوالي د کمولو خبرو کوي، خو که له هغوی څخه پوښتنه وشي چې دا تریخوالی اصلا چا پیل کړی دی، بنایي هیڅ موجه ځواب ورته ونه لري.

ځکه همدا امریکایان و چې د ټولو انساني او بین المللي اصولو خلاف یې پر افغانستان یرغل وکړ او د دې وحشیانه یرغل په ترځ کې افغانستان او سیمه ټوله لـه بې ثبـاتۍ او تـاوتریخوالي سره مخ کړه.

د تاوتریخوالي مخنیوی څه حکم لري؟

مخکې تر دې چې اسـلامي امـارت لـه امریکایـانو سره د مذاکراتي ایجابـاتو لـه مخـې تـاوتریخوالی کـم کـړی اسـلامي شریعت د خوشونت او تاوتریخوالي د مخنیوي حکم کوي.

ځکه اسلام د سولې، امن او عدالت دین دی، او اسـلامي شریعت د انسانانو له حقونو څخه د دفاع او د متجاوزینو د تیرې د مخنیوي په غرض جهاد فرض کړی دی.

او همدا راز یې په ټولنه کې د امنیت د ټینګښت په غرض د شرعي حدودو تنفیذ لازم کړی دی.

اسلامي امارت د تاوتریخوالي مخنیوي تـه لـه پیلـه د یـوه شرعي مسؤلیت په سترګه ګوري نه له امریکایانو سره په مذاکراتو کې د یوه موقت مذاکراتي ایجاب په حیث.

تاوتریخوالی په څه ډول کمیږي؟

دا چې تاوتریخوالی د امریکایي اشغال محصول دی نـو د هغه کموالی یواځې او یواځې د همدې ظالمانه اشغال پـه پایتـه رسیدو پورې مربوط دی.

که همدا نن اشغال ختم شي، تـاوتریخوالی چـې د هغـه محصول دی خپله ورسره ختمیږي.

د اشـغالګرو د اشـغال لـه شـتون سره د خشـونت او تاوتریخوالي کموالی خیالست و محالست وجنون...

دسوداګرۍ او اقتصادي ودې په اړه

د اسلامي حکومت واکونه اومسؤلیتونه

دویمه برخه

م: ش: منصور

دجزئي اقتصادپه برخه کې د«رسد اوطلب» معامله یوه اهمه معامله ده، چې په عامو حالاتوکې حکومت نشي کولی هغه کې لاسوهنه وکړي، خو که درسد اوطلب چارودمعمول سره سم جریان درلود اویکې داخلاقي اوشرعي حدودو رعایتولوته التزام شتون لاره، نوبیا مسائل اوستونزې نه پیداکیږي، خو که کله اخلاقي اوشرعي حدودپایمال اودپامه وغورځول شول، اوکوم خلک چې د«رسد اوطلب» چارې تنظیموي دهغوی ازادي محدوده اوقید شوه، دهغوی نه په ازادانه توګه دکارکولو فرصتونه واخیستل شول، نودغه مهال حکومت اړدي چې هغه لاس ترزنې پرلت ونه وهي، دثالث بالخیر په توګه خپل کردار ولوبوي... دترخونواومطلوبه رسد ترمنځ منطقي اومعقول ربط راولي، دحکومت نه علاوه صنعت کاران، بزګران، سوداګراونورهم په شریکه کولی شي چې په عدل وانصاف سره کاروکړي، په دې صورت کې بیا حکومت ته دا اړتیا نشته چې دهغوی په کارونوکې مداخلت وکړي، البته دهغوی لخوا دانصاف وعدالت څخه دسرغړونې په صورت کې حکومت مکلف دی چې دانصاف پلي کولو چارې پخپل لاس کې واخلي، اودیومتوازن سیستم رامنځته کولو لپاره خپله لاس په کار شي

داسلامي اقتصاد په اړه داخبره وړاندې یاده شوې، چې اساس یې په عدل و انصاف، دوسائلوپه منصفانه ویش، دارتکازپه مخنیوي، دذخیزه اندوزۍ په حرمت، اودشخصي-ملکیتونو په احترام، دپیداوارزرایعوته دمساویانه لاس رسي پشان اصولوباندې ولاړ دی، دا ټول هغه معاملات دي، چې نن سبا یې په اړه دحکومتونولخوادقوانینوجوړولوغوښتنه کیږي، اوهم په اړه یې دپالیسي جوړول غواړي، څوچې دحکومت لخواپه مؤثري څارنې سره په قوانینو او پالیسیو عمل ونکړای شي د عدل وانصاف غوښتنې نه پوره کیږي، او نه دمنصافه ویش پایلې راوتلی شي، اونه د دولت دارتکاز مخنیوی کیدای شي اونه ذخیره اندوزي بندیدای شي.

په دې وجه موږ ویلی شو چې اسلامي اقتصاد یا اسلامي معیشیت په یو اعتبار«کنترول‌لمعیشت» دی، او دا مفهوم غربي دی چې«معیشت کنترول کیدای نشي» اسلام کې معیشت کنترول دی، اوپه اړه یې حکومت ماموردی چې دخپل واک له لارې په معاشي او اقتصادي چاروکې داسلامي شریعت دحکمونونفاذیقیني وګرځوي، اودشریعت په حکمونو اومقرراتو عمل وکړي، دشرعي محرماتو په ککله مخنیوی وکړي، مرتکبینوته یې سختې سزاوې ورکړي، نن سبا دسود په مخنیوي کې که حکومتونه په ښکاره اوپټ مسؤلیت اداء نکړي، نشي-کنترول کیدای، «غرر، اوقمار» شریعت حرام ګرځولي، او نن سبا یې چې څومره شکلونه رایج دي، اسلامي حکومت به یې دقوانینونافذولو له لارې ممانعت کوي اودپالیسۍ غوره کولو له لارې به یې پروړاندې موانع او خنډونه اچوي زکه ددې پرته له محرماتونه اجتناب ګران دی

عدل داسلامي نظام داساس ستنه دی، د اسلامي شریعت دټولو احکامو دارومدارپه عدل دی، په قرآن مجیدکې په صراحت سره راغلي، چې دټولو اسماني شریعتونو اوکتابونو هدف خلکوته عدل وانصاف رسول دي، اودعدل وانصاف ترټولوقوي قسم چې هرانسان دهغه سره مخ کیږي«اجتماعي عدالت دی» قضائي عدالت اوحقوقي عدل وانصاف دی، کله چې محکمې ته دروني باید هلته له تاسره انصاف وشي، بیشکه

ټول خلک محاکموته نه درومي، ځيني، ځيني درومي، خوچې کوم درومي له هغوی سره په انصاف کولو په اجتماعي عدالت اوټولو وګړو پر ژوند تاثيرلري، څنګه چې هرانسان دآمدياعوائيدووسائلوته اړتيالري، که دعوائيدو وسائل په عدل سره ونه ويشل شي، په هغه ټولنه کې هيڅ کله اجتماعي عدالت تأمينيدای نشي اوپکې هرسړی به دظلم اوزياتي ښکاروي

او دعدل نقيض ظلم دی، په دې وجه علماوو داليکلي چې هرخيرعدل دی، اوهرشرظلم دی، عدل نوردی اوظلم ظلمات دي، حديث کې راغلي: الظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ (بخاري کتاب المظالم باب الظلم) دقيامت په ورځ به ظلم دسختوتياروپه شکل مخ ته راشي، دازکه چې دتوحيد لازمي نتيجه عدل دی، که يوڅوک په توحيد حقيقي ايمان ولري هغه به خامخااجتماعي عدالت پلي کوي

ابن خلدون ليکلي: ترقي دعدالت پلي کولوپرته ممکن نده اود ظلم په کولو سره دترقی لارې ترل کيږي اودترقی لارو په ترل کيدوهيوادونه تباه کيږي، دعدالت سهي نفاذ دشريعت په نفاذسره راځي، دشريعت دنفاذپرته حقيقي ترقي راتلل ناشوني ده، په هغه ځای کې حقيقي اومتوازنه ترقي راوستل امکان نلري، چيرته چې حقيقي ترقي رانشي، يعني ظلم سلطه ولري، زکه په ظلم کولو سره دترقی لارې ترل کيږي، داخبره په ابن خلدون سربيره نورو ډيری مؤرخينواواسلامي مفکرانو هم ليکلې ده

دعدالت پلي کولواساسي عوامل دشريعت په مصادروکې بيان شوي دي، دا هم هغه عوامل دي، کوم چې نن سباد «فلاحي ټولنې عوامل» بلل کيږي، هغو کې ترټولواهم عامل دادی چې ددولت يعني دمال ويش به عاالدنه وي، دمال د ارتکازپه حالت کې اجتماعي عدالت ممکن ندی، دمال ويشلو نظام عادلانه ګرځولو لپاره ضروري ده چې دامدياعوائيدووسائل په عادلانه توګه ويشل يقيني وګرځول شي، څو دټولنې هروګړی يافردته دهغه دصلاحيتونوسره سم دهغه دارتياوو مطابق او دټولنې دمروجه معيارونوسره برابر درزق ګټلو وسائل په لاس ور شي، دعوائيدو د وسائلو دعادلانه ويشلواوبرابرولومفهوم يا مراد داندی چې هرسړی دې په کورکيني او بس ورته دې حکومت دبيت المال نه معاش مقررکړي، اسلامي شريعت دمفت خوری ترغيب نه ورکوي، بلکې غواړي چې هرهغه سړی چې هغه خپله روزي ګټلی شي، الله تعالی ورته بدني، ذهني، فکري او يا کوم بل صلاحيت ورکړی، هغه دخپل صلاحيت په کارولو جايزه روزي وګټي، البته هغه چې کله دجايزې روزی ګټلوپه غرض دکورنه وځي، په مخ کې يې بايد څوک مصنوعي موانع پيدانکړي، څوک دې داحتکارکولو اجازه ونلري، په زخيره اندوزی دې کلک بنديزپلي وي، اوپه ظلم کولو دې ظالم دمظلوم نه د هغه دخولې ګولې د تښتولو جرئت ونلري

هم دا راز دکاروبارکولو اسانتياوې برابرول دحکومتونو دمسؤليت ترڅنګ دوګړو هم دی، په خاصه توګه هغه خلک ډيرمسؤليت لري چې الله تعالی ورته شتمني اوډيروسائل ورکړي دي، پابريکې لري، زمکې لري، لويې لويې سوداګريزې هټۍ لري، دهغوی مسؤليت دادی چې کاروبارعام کړي، يواځې ترخانواوخپلوکورنيوپې خاص نکړي، حکومت به دخپلې پاليسۍ سره سم کاروبارو اسان ګرځوي، دقوانينوجوړولو له لارې به اسانتياوې برابروي، دقوانينو جوړولو په مټ به دخلکو دروزګارپه مخکې پراته بنديزونه لرې کوي د داسې قوانينو له جوړولو به ډډه کوي چې د خلکو کاراوروزګارته دزيانونو اوبنتوسبب ګرځي.

دهغو اسبابونه يواهم سبب دوسائلومکمل استعمال دی، دشريعت حکم دی کوم رزق چې الله تعالی درکړی، دهغه لپاره يې کومه وسيله درکړې، وربانـدې مکمل اعتراف اودالله تعالی داحسان پوره اظهارپکاردی، او ددې يواځينی شکل دادی چې هغه کم استعمال شي، کوم، ثمرات اوکوم برکات چې الله تعالی پکې ايښي دي، انسان دې هغه ټول ترلاسه کړي، وړو، وړو، وسيلو نه واخله ترلويو وسيلو، په ښه توګه استعمالول پکاردي، هيڅ يو څيزفضول ګڼل ياضايع کول ندي پکار، بلکې کوښښ پکاردی چې دالله تعالی ورکړې هرڅيزپه ښه توګه استعمال کړای شي، ددې لپاره ضروري ده چې ددې خبرې علم اومهارت پيدا کړای شي چې دکوم څيزاستعمال چيرته اوکله اوپه څه ډول پکاردی څو دهغه مفيداجزاضايع نشي، رسول الله صلی الله عليه وسلم به چې په لارکې وکتل چې چاڅره اوزه؛ غورځولې؛ وبه يې فرمايل: ددې پوستکي خواستعماليدای شو!! درنګ [دباغت] وروسته يې څرمنه په کارراتلای شوه [مسلم کتاب الحيض، الطهارة جلودالمية٣٦٦] داڅرمنه په داسې څه کې استعماليدای شوه چيرته چې څرمنې ته ضرورت راځي، له دې ثابته شوه چې هيڅ يوڅيز ضايع کول سم ندي، ديته وايي دوسائلومکمل استعمال...

بيا دوسائلواسستعمال په مناسبه توګه ضروري دی اوهم يې مناسب ويش ضرور دی؛ څو چې وسائل په مناسبه توګه ونه ويشل شي دوسائلو مکمل استعمال نه راځي، مثلاً که يوسړي ته دومره زمکه ورکړل شي چې هغه يې ابادولی نشي؛ نو اړتياده چې دوسائلو په ويش بياکتنه وشي اويا چا سره چې غيرضروري وسائل وي يا دهغه د ضرورت نه زيات وي، دهغه نه يې دوباره اخيستل اوهغوخلکوته ورکول چې د وسائلونه محروم پاته دي

دحکومت په مسؤلیتونوکې

د«عامه مالیاتومعامله» په هردورکې دپام وړ ګڼل شوې او یوه اهمه مسئله ده، چې په څه ډول د دولت عامه مالیاتي نظام منظم کړای شي درياست دعوایدوپه برخه کې څه، څه کرلوته اړتیاده؟ اوپه کومو کوموبرخوکې یې استعمال پکاردی؟ همدا وجه ده چې عامه مالیات دیوحکومت په اقتصادي مسائلوکې ترټولومهمه مسئله یادیږي. داسلام په پیل کې چې دعامه مالیاتو کوم وسائل موجود وو، هغوکې ترټولواهم زکات و، کوم چې د دوه نیمې سلنې په حساب اخستل کېده، او«عشراوعشور» دواړه لس سلنه اخستل کیدل. «زرعي عشر» په پیداواربانـدې دمسلمان څخه اخیستل کیده، اوعشورد تجارتي توکیوپه وړو راوړو اخیستل کیده، تجارتي مالیه هم لس سلنه وه، هغه سوداګر چې دبیرون څخه مالونه یعنې داسلام خاورې ته راوړل، لس سلنه یې اداء کوله اوهغو تاجرانو چې بهرنیو هیوادو ته مالونه وړل، هغوی هم لس سلنه ورکوله

علماوو لیکلي: دګمرکاتولپاره مؤظفین ګومارل په لومړي ځل حضرت عمررضی الله تعالی عنه مقرر کړي (دراساة فی حضارة الاسلامیه۲۵۴ ص لسعاد ابراهیم الصالح، مبادی نظام الاقتصادی ص (۲۱۳) لاحمد ابراهیم السریف) اوبیا وروسته اسلامي فقهاوو په اړه یې په تفصیل سره احکام مرتب کړي، چې په اساس یې ګمرک اخیستل جایزګڼل کیږي، اسلامي حکومت دبیرون څخه را وړونکیو تجارتي توکیو باندې مناسب ګمرک لګولی شي، حضرت عمرفاروق رضي الله تعالی عنه لس سلنه ګمرک ټاکلی و، داپه دې وجه چې نوروهیوادونوپه له مسلمانو سوداګرو څخه لس سلنه ګمرک اخیسته، تن سبا حالاتواو شرایطوته په کتو په ګمرک کې کمی زیاتی راتلی شي، همدا راننوتلو او کورنیوحالاتو ته په کتواودهیواد اړتیاوو ته په پام ګمرک کې کمی زیاتی کیدای شي، ددغه ډول ګمرکي مقرراتونه سرغړونه شرعاً جایزنده څنګ چې له نورو احکامو نه سرغړونه شرعاً جوازنلري همداسې دلته سرغړونه په معصیت کې راځي

دمعدنیاتوپه استخراج کې «خمس» یعنې شل سلنه اخیستل کیدل اوپه«فئ» کې سل سلنه دحکومت ملکیت و، «فئ» نه مراد هغه عواید دي چې هغه مخامخ حکومت ته پخپل اثرورسوخ لاس ته ورشي اودعامو خلکو په ملکیت پوري هیڅ تعلق ونلري (تاریخ الدعوة الاسلامیه ص ۳۲۲الجمیل عبدالله مصري)

له نامسلمانو څخه جزیه اخیستل کیده، کومه چې دزکات اوعشرمتبادل وه، نامسلمانو زکات نه اداء کاوه، خراج اوجزیه ټاکل هم دخلافت په صوابدید پوري اړه درلوده اوپخپل صواب دید یې « خراج اوجزیه» ټاکله (السیاسة الشرعیة لابن تیمیة ص (۱۱۳)

په دې تعین کې اساسي حکم داو چې دخلکو لپاره اسانې پیدا کړای شي، نه مشکلات؛ د ورکونکي وس اودهغه استطاعت ته په کتو به جزیه اخیستل کېږي او هیڅکله به دورکونکي شخص دوس نه بهریتې دهغه په اوږونه اینبودل کېږي دامضمون په څواحادیثو کې راغلی چې په کتو یې فقهاووشرعي احکام مرتب کړي دي

دحکومت په مسؤلیتونوکې ترټولو اهم مسؤلیت کوم چې درسول الله صلی الله علیه وسلم دمبارک دورنه را روان دی، هغه داچې مجاهدینو ته«معاشات اوعطیې» ورکول کیدې، داسلام په لومړي دورکې په منظم شکل معاش لرونکی پوځي سیستم نه وموجود، ټولومسلمانانو بالغانونارینه وودغوښتنې پر وخت کې دپوځ مسؤلیتونه اداء کول، اوکله، کله دضرورت په وخت کې هغوی غوښتل کیدل. په دې سره به هغوی خپل کارونه، خپلې زمکې، باغونه او دوکانونه پرېښودل، اووتل به جهادته، هغه مهال جهاد لپاره تلل د دري څلور ورځو معامله هم نه وه، تراسلامي پولوپورې تلوکې څومیاشتې به تیریدې (السیاسة المال فی الاسلام ص ۱۹۸) جنګ به هم په میاشتو، میاشتو روان و، او بیرته ستنیدوکې به هم څو میاشتې تیریدې، څینې وخت به پوره یوکال، یاڅوکاله په جهادکې تیریدل، دغه موده کې به دمجاهدینودکورنیوداقتصادي اړتیاووپه پوره کولو کې به ټولومسلمانانو برخه یاونده درلوده؛ دهغوی سرپرستې اوساتنه دحکومت مسؤلیت و، ددې لپاره حکومت اړشوچې دمجاهدینو لپاره معاشونه وټاکي؛ کوم چې عموماً دهغه وسائلو اومالونونه ور کیدل، چې دفتوحاتوپه سلسله کې به ترلاسه کیدل.

دحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په زمانه کې چې کله ټولو مجاهدینو لپاره معاشونه مقرر شول، حضرت ابوبکر صدیق

رضي الله عنه ټولو مجاهدينو لپاره معاشونه برابر مقرر کړل، خپل معاش يې هم ديوعام مجاهد، صحابي، ياتابعي دمعاش سره برابرو، فرمايل يې: دکمي او زياتي اجربه الله تعالى په قيامت ورکوي، دلته دنياوي معاملاتو ترحده مونږ ټول برابريو، نوزکه ټولوته معاشونه هم برابرورکوو، ولې اقتصادي ضروريات ټول خلک يوشان لري، دټولو کورنۍ شته، خوړو، څکلو، روزي، علاج اوتعليم ته ضرورت لري، په دي وجه معاشونوکي دکمي اوزياتي تصوردحضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په نزدمناسب نه و (سياسة المال في الاسلام ص ۱۹۸)

کله چې دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه زمانه راغله، هغه دخپل اجتهادنه په کاراخيستو [چې تراوسه وربانديې عمل روان دی] وويل ټول خلک سره برابر نه دي، نومعاشونه څنګه برابرکيدای شي؟ درسول الله صلى الله عليه وسلم ددين په خورولوکي دخلکوښبنونه هم برابرندي، نود مراعاتو په ترلاسه کولوکي هم برابر کيدای نشي، په دې وجه يې دمجاهدينو لپاره مختلف درجات مقررکړل، دنن سبا په اعتبارويلی شوچي دمعاشونو لپاره يې « بستونه تعين کړل» ترټولواعلی بست چې دهغه لپاره يې لوړ معاش وټاکه اوورته يې د«عطيه» بامعنی اوياوقاره لفظ استعمال کړ، درسول الله صلى الله عليه وسلم کورنۍ ته يې مقررکړ، هغه خلک چې د«بني هاشم اوبني مطلب» کورنۍ څخه وو، يعني درسول الله صلى الله عليه وسلم دورنيکه (هاشم) اودهغه دورور (مطلب) له اولادڅخه وو، هغوی يې دنبوت په کورنۍ کې شمارکړل، زکه دهمدې دواړو، ورونو وارثان درسول الله صلى الله عليه وسلم دقوي ملاتړوڅخه وو، چې په هرسخت اومشکل وخت کې يې درسول الله صلى الله عليه وسلم سره ملګري ول، کله چې په شعب ابي طالب کې ټول مسلمانان دمکي دمشرکانولخوا قيدشول، نودرسول الله صلى الله عليه وسلم کورنۍ کې هغه مهال همدا دوه ډلې وې، چې هغوی يې هم درسول الله صلى الله عليه وسلم سره يوځای په شعب بني هاشم (شعب ابي طالب) کې قيدکړل. نوحضرت عمرفاروق رضي الله عنه دمعاشونو ورکولو لومړی بست ياد درجه دي دواړو ډلولپاره خاص کړه، دهغوی وروسته يې د«مؤمنانو دميندو [ازواج مطهرات] لپاره جلا » بست وضع کړ، دهغوی وروسته يې «دبدريانولپاره» بيادهغومهاجرينولپاره چې بدرکې نه ووشريک خوپه وروستيو غزواتوکې يې شرکت کړی وو، بيادهغو انصارو لپاره چې هغوی بدرکې ګډون کړی وو، بيا دهغو انصارو لپاره چې په بدرکې نه وو شريک شوي خووروسته په ټولو غزواتوکې شريک شوي وو، حضرت عمررضي الله عنه په دې توګه دخدماتو اوقربانيوپه اعتبارد معاشونوورکولو معيارونه تعين کړل (عصر الخلافه الراشده ص۲۱۷)

په را وروسته ټولو دوروکې همدامعيارونه په پام کې نيول کيدل، اووربانديې عمل کيده، شايد دوبيرولوستونکولپاره دا په زړه پورې وې لکه مشهور مؤرخ مقريزی ليکلي: حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته دټول کال معاش ٦زره درهمه تعين شوی وو، لږ وړاندې ياده شوه چې حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه دټولو خلکومعاشونه برابروټاکل؛ په دې لړکې بااعتماده محقق عالم دوکتورمحموداحمد غازي رح وايي: که څه هم داتصريح په کوم کتاب کې نده شوي خودحضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه دخپل کلني معاش نه دانتيجه را ايستلی شوچې دهغه خپل معاش دعامومجاهدينو، وګړو، او ميرمنو دمعاشونو يا عطاياوو سره برابر وو، په کال کې ٦زره درهم دمياشتو په حساب ۵سوه درهم کيږي، هغه مهال دسپينوزرونصاب و دوه سوه درهم؛ دوه سوه درهم نن سبا (۵۲) نيمې تولې سپين زرکيږي، يعني دوه سوه درهم د (۵۲) نيموتولو«سپينوزرو» دماليت سره برابروو، په دې اعتبارچې د«پنځه سوه درهمو» تخمين ولګول شي نود شاوخوا« يوسل ديرش تولوسپينو...) ماليت جوړوي، له کوم نه چې مونږ نن په بازارکې د (۱۳۰) تولو سپينو... دقيمت نه د يومسلمان مجاهد لپاره دمعاش اندازه معلومولی شو....

ممکن دلته دچا ذهن ته داپوښتنه ورشي، چې مونږ کوم واقعات اوريدلي، هغه خو ددينه جلا بريښي، مثلاً: مونږاوريدلي چې دحضرت ابوبکر صديق رضي الله ميرمنې غوښتل يوخوږخيزپوخ کړي، ليکن دهغه دپخولو وسائل يې نه لرل؛ هغې دمياشتيني معاش نه لږ، لږسپما کوله دومره پيسې يې جمع کړي چې ورباندې دخوږو خوږو توکي وپيرل شي؛ داخبره سهې ده، خوابوبکرصديق رضي الله عنه هغه معاش [چې صحابه وو هغه ته مقررکړی و] نه اخيسته، بلکې څومره چې دکم نه کم ضرورت لپاره يې ضرور و، اخيسته،باقي يې بيرته بيت المال ته سپاره، همدا کيفيت دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه وو، په دې وجه هغو حضراتو پخپلو ځانونو کومه غيرمعمولي سختي او تنګي تيروله، محرک يې دهغوی خپله ذاتي تقوا، ساده ژوند خوښول، شخصي زهداواستغنا وه؛ هغوی سره هروخت دافکر وچې پخپل ځان اوکورنۍ دبيت المال نه هيڅ کوم داسې مصرف نکړي چې دهغه مصرفول پکارنه و،، خو د راتلونکو لپاره د «قانون اوسنت» درجه غوره نه کړي زکه دراشدينو خلفاووسنت هم دشريعت په مأخذونو کې اهمه درجه لري، په دې وجه هغوی پخپلوځانونو هغه سختي او تنګي تيروله، چې وروستنو نوروخلفاوو [پرته دحضرت عمربن عبد العزيزرضي الله عنه» نه دځانو لپاره ضرور محسوس نکړه.

نوربيا...

د انصاف تله چې ستا په لاس کې درکړو

■ عبد الرقیب رقیب

د نجیب غرېدا مې اورېده چې ویل یې : " اسلام په دوو شیو بنا دی، په خوله اقرار، چې موږ یې کوو ((لا اله الا الله)) او په زړه تصدیق چې تاسو زموږ له زړونو خبر نه یاست، نور رانه څه غواړئ! تاسو خو د اسلام معیار په خپلو لاسونو کې اخیستی دی ، څوک ښه مسلمان بولې او څوک بد ګڼې، چاته ثواب اوروئ او چاته سزا... ".

د نجیب په خوله دغه خبره د هغه د استاذانو، ملګرو او پیروانو نظریه ده، په هغوی بر سېره دغه اوسني چې د ډیموکراسۍ تر عنوان لاندې ژوند غواړي هم د اسلام په اړه دغسې عقیده لري، دوی وایې په اسلام اقرار کوو نور نو ژوند د خپلې خوښې مطابق کوو او دا مو حق دی چې هیڅوک یې رانه د اخیستلو صلاحیت نه لري.

خو راځئ د یو مومن په صفت د انصاف تله د دوی په لاس کې ورکړو، معلومات ورته شته، هسې مذاکره به یې وکړو او بیا به د دوی قضاوت وګورو

_ که یوڅوک وایې : "د هیواد په اساسي قانون اقرار کوم او په زړه کې ورباندې باور لرم؛ نور نو خپل ژوند له خپلې خوښې سره سم غواړم؛ زه پنځلس کلن یم غواړم جمهوري ریاست ته نوماند شم، چې څلوېښت کلن وګړي نوماند کیدای شي زه هم حق لرم نوماند شم، هو، پوهېږم چې په اساسي قانون کې له څلوېښت کلنی کم عمره څوک نوماند کیدای نه شي، منم یې ورباندې اقرار او باور لرم، نور نو رانه څه غواړئ ؟!" .

_ که یوڅوک وایې : " پنځلس کلن یم د ټاکنو په قانون باندې باور او اقرار لرم، پوهېږم چې د ټاکنو په قانون کې تر اتلس کلنۍ کم عمره وګړي رایه نشي کارولای، خو په جمهوري ټاکنو کې خپله رایه کاروم ، دا زما حق دی هیڅوک یې رانه د اخیستلو صلاحیت نه لري، په قانون خبر یم ، په شرایطو یې اقرار او باور لرم نور نو رانه څه غواړئ؟! "

_ که یوڅوک وایې " ترافیک منم، قانون یې منم نور نو خپل موټر له خپلې خوښې سره سم څغلوم او د خپلې خوښې سره سم یې پاروم، زما موټر دی د چا یې په زوړ او نوي، ماډل او نمبر باندې هیڅ کار نشته، ماته چې لنډه ښکاري په هغې لاره ځم او زما چې خوښه وي په هغه لاس به روان یم، موټر زما دی د سرعت انتخاب یې هم زما حق دی، ترافیک منم قانون یې منم ورته درناوی لرم؛ نور نو رانه څه غواړئ؟!.

_ که یوڅوک وایې " د دولت له خوا رسنیو ته جوړ شوی چارچوب منم، د رسنیو لپاره قیودات یې منم اقرار او باور ورباندې لرم نور نو د بیان ازادي ده، زه خپلې خپرونې له خپلې خوښې او اړتیا سره سمې کوم، زه د



پردي هيواد په ګټه او د خپل هيواد په زيان خپرونې کوم څکه هغوی ماته پيسې را کوي او زما حق دی چې پيسې وګټم، زه د خپل هيواد پټ رازونه ترلاسه کوم او بيا يې د پيسو په بدل کې نشروم ؛ رسنيو ته د دولت له لوري قيودات منم وربانـدي اقرار او باور لرم نـور نـو رانـه څـه غواړي؟! ".

دوی ته وايو : دا يو څو بيلګې دي، تاسو د دغو خلکو په اړه څه پرېکړه کوئ ؟!

خبره واضحه ده؛ تر ستوني يې نيسئ او قانوني مراجعو ته يې سپارئ، د دغو خلکو نيونه او جريمه کول افتخار ګڼئ، څيني وژنئ، له څينو نقدي جريمه اخلئ، د نورو نه موټر قبضه کوئ او د چا کاروبار دروئ....!

دا ولې؟! څکه تاسو په اقرار او باور بسنه نه کوئ، تاسو عمل غواړئ!

ښه نو د اسلام په اړه ولې دغسې بې انصافه قضاوت کوئ؟!

تاسو دعوه لرئ چې مسلمانان یاست، اسلام د الله ﷻ قانون منئ، ښه نو ولې د الله ﷻ په قانون کې هسې- په اقرار او باور بسنه غواړئ او د خپلو قوانينو لپاره بيا د منلو ترڅنګ عمل هم ضروري ګڼئ؟!

_ په اسلام کې روښانه حکم دی چې د مسلمان په مقابل کې د کافر سره تعهد مه کوئ، تاسو ولې د مسلمانانو په ضد د نړۍ له بېلابېلو کافرانو سره دوستي او همغږي په کار اچولې ده؟!

_ په اسلام کې "امر بالمعروف او نهي عن المنکر" صريحي فرمان دی، تاسو ولې د "فردي ازادۍ " په پلمه ورباندي پښه ايښې ده؟!

_ په اسلام کې سود قطعي حرام دی، حلال ګڼونکی يې کافر بلل شوی؛ تاسو ولې ورته قانوني جواز ورکړی؟!

_ په اسلام کې د ښځو لپاره له محرم پرته سفر حرام دی، تاسو ولې ورته قانوني جواز ورکړی؟!

_ په اسلام کې د سړي له پردۍ ښځې سره خلوت حرام ګڼل شوی، تاسو ولې په دفترونو کې د خلوت په حالت کې بوديجې منظوروئ؟!

_ په اسلام کې د انسان اندمونه خرڅول حرام دي، تاسو يې ولې "د الماسو د کتوريو" په قيمت پير/پلور کوئ؟!

موږ درنه غواړو چې انصاف وکړئ، د خپلو قوانينو لپاره په هسې منلو بسنه نه کوئ نو د الله ﷻ قانون هم عمل غواړي، ستاسو د لاس جوړ قوانين که څوک په عمل کې مات کړي سزا ورکوئ ، نو د الله ﷻ قانون ته هم دغه حق ورکړئ چې ماتونکی يې مجازات شي، او ښه مسلمان ونه ګڼل شي.

آیا طالبان

رښتیا بهرنیان تبادله کوي او افغانان وژني؟؟؟

■ لیکنه: عبدالولي خلیل

د ۲۰۱۹ میلادی کال نومبرمیاشتې په اتلسمه د امریکا او طالبانو تر منځ د بندیانو یوه تبادله په خورا بریالیتوب پای ته ورسېده، د دواړو لورو ترمنځ دا تبادله په داسې ډول تر سره سوه چې د طالبانو له طرفه د امریکایي پوهنتون دوه استاذان (کیون کینګ امریکایي او تیموتي ویکس استرالیایي) اودافغان ځواکونو لس عسکرخوشي سول اودامریکا له لوري درې تنه طالبان هر یو: انس حقاني، حافظ عبدالرشید او حاجي مالی خان له باګرام زندانه ازاد سول.

د یادونې وړ ده چې په دې ورځو کې یو شمیردغرب معاش خورو خیاطانو رسنیو کې په طالبانو دا تور پوري کړ چې ګنې طالبان مسلمانان وژني او کافران تبادله کوي؟؟؟

لومړی خو دا خبره هیڅ د منلو ده نه؛ ځکه په دې تبادله کې لس تنه د کابل ادارې عسکر هم طالبانو خوشي کړل، همدا ډول په وار وار یې په جنګ کې نور نیول سوي عسکر خوشي کړي.

بله داچې دې کرایه سوي قاتل دولت نه درلود امریکایي پروفیسرانو ترشا قوي دولت درلود چې دخپلو اتباعوتبادلې لپاره په لوړ قیمت تیار سول، دهغوی په قانون کې تبادله نسته خو بیا هم د خپل قانون تر ټولو سرحداتو تېر سول او دخپلو بندیانو تر لاسه کولو ته یې زمینه هواره کړه.

د کابل ادارې څومره لوړپوړي کسان چې بندیان سوي دوی یې اقلاً د ژوند او مرګ پوښتنه هم نه ده کړې تبادله خو ډیره لرې خبره ده.

یوه بیلګه یې د پکتیا د جاني خیل ولسوالۍ یوه پیښه ده چیرته چې طالبانو په ولسوالۍ جنګ وکړ او فتحه یې کړه، له ځان سره یې په غنیمت کې رینجر موټر اوځیني ژوندي عسکر د بندیانو په توګه راوستل، همدلته په لاره کې په مجاهدینو بمبار وسواوځو تنه مجاهدین شهیدان سول چې جسدونه یې د جنګ په ځای کې پاتې سول، کله چې طالبانو د قومي مشرانو په ذریعه عسکرو ته حال ورکړ چې زموږ د شهیدانو جسدونه راکړئ موږ به تاسې ته ستاسي ژوندي عسکر درکړو خو هغوی خواب کې ورته و ویل چې موږ ته رینجر راکړئ که خپل شهیدان غواړئ موږ عسکر نه غواړو.

دا باید له کابل د ادارې وپوښتل سي چې ولې د خپلو عسکرو او قومندانانو سره دومره سټره جفا کوئ؟

په غزني کې ۸۴ کوماندویان نیول سوي اوامارت پرې د تبادلې غوښتنه کوي خو تراوسه یې چا پوښتنه نه ده کړې تبادله خو پریږده.

د کابل د ادارې درواغجنو لیکوالانو!

تاسو په کومو سترګو، په کوم ضمیر له موږه دا پوښتنه کوئ؟

آیا دا د c i a د ایجنټان اوریښتني مسلمانان په پرتله کې سره برابریږي؟

چې تاسې یې په وړاندې د ترحم غوښتنه کوئ، دوی به څنګه د ترحم لائق وګرځي چې د غرب غلامۍ ته دوی لیبک ووایه، د بمونو مور یې پر موږ را ړنګه کړه دوی یې هرکلی وکړ، د افغانانو ناموسونه دوی لوټ کړل، مظلوم هیواد وال یې شهیدان کړل، دیني مرکزونه، مسجدونه، مدرسې، کورونه او بازارونه دوی کنډوالې جوړې کړې بیا هم دوی د ترحم لائق جوړېدلای سي؟

ددوی په وړاندې زموږ لپاره د خدای پاک د ریښتیني کتاب دا امر بس دی.

فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّىٰ إِذَا أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّىٰ تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا (الآية) [سُورَةُ مُحَمَّد: ٤]

ژباړه: نو کله چې له دغو کافرانو سره (په جنګ کې) مخامخ سئ، نو ستاسي لومړی کار (د هغو) د ورمیږونو وهل دي، تر دې پورې چې کله تاسي هغوی ښه وټکوئ، هله نو بندیان کلک وتړئ. د هغه وروسته (ستاسي خپله خوښه ده چې) ښېګنه کوئ (دوی وړیا خوشي کوئ) او که (د دوی د آزادولو په مقابل کې) د فدیې معامله کوئ تر هغه پورې چې (جنګ کوونکي) خپله وسله وغورځوي.

سره له دومره زخمونو چې موږ ته یې راکړل طالب بیا هم دلې دلې هغه عسکر خوشي کوي کوم چې په جنګ کې په داسې حال کې نیول سوي وي چې اسلحه یې ګرمه وي. خو کاش چې دکابل دمزدور رژیم چارواکو دطالبانوپشان انساني عاطفه اواسلامي ضمیر درلودای دوی به په بګرام اوپلچرخې په مظلومواوبیوسو بندیانودظلمونو او وحشتونو غرونه نه نړول.

تندریزه مفکوره

شاعر: مولوي بدرالدين حقاني

تندریزه مفکوره ده تندریز دي کوزارونه
څه عجيبه فلسفه ده رنګوي کفري برجونه

تندریزه مفکوره ده لړزوونکې تر اسمانه
بنستپال دي يې خيبر يوسي د خيبر ابودجانه
دا لښکر د ذوالجلال دی، تيتوي مغرور سرونه

د موسی بحرقلزم دی د خليل بابا سنت دي
دا د بدر عمليات دي الهامونه د نصرت دي
راشئ وګورئ! د بدر په قليب کې يې لاشونه

خودکشي يې تعبير نه کړئ خوب او خيال کې يې جنت ده
دا عمل د جذبې نه دی عقيده د وحدانيت ده
له شرين بدن يې تاو کړل د باروتو قطارونه

يو ځانګړی باب د فخر يې راپرانيست دې امت ته
څومره وړي ترې ښکاري خدايه ستا د دين عزت ته
اوس به وشيندي خاونده ستا په نوم غوښې هډونه

انتها د قربانۍ ده د امت سپه سالاره
جوړوي به له زندانه د خلاصون غېږې ته لاره
جنتي دي «بدرالدينه!» د خدای دغه مخلوقونه

Shahamat

په هند کې د اسلام د عمراني تاريخ شهکار عجوبه (تاج محل)